بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

مور او پلار يې له يو بل سره خورا مينه لرله. د دوی له مينې داسې ښکارېده، چې په وخت کې يې پلار يوسف خان او مور يې شېربانو وي.

له خبرو، ټوکو او بوختياو يې د کور نورو غړو هم خوند اخېسته؛ په ځانګړي ډول کله به چې باران ورېده او يا به همدې باران د شپې له مخې د ځمکې اننګي ښکلول، نو ډېرو پېغلو او واده شويو به د کړکۍ له چاودونو د دوی د مينه ناکو لوبو ننداري کولې.

کور څه چې په ټول کلي کې د همدې جوړې د مينې په غوړېدلو ټغرونو نکلونه کېدل او د ډېرو به په غم - ښادۍ کې همدې جوړې ته پام و.

دا چې دوی لا تازه واده کړی و، نو په کور- کلي کې د ودونو يا نوروخوښيو پرمهال به ګډون والو دوی تنګول، چې آيا تاسې خو به بيا په تخت باندې د ناستې نيت نه لرئ؟

کله- کله خو به د نورو په خوښيو کې، په ټوکو سره کېناستل او د لومړي ځل د يوځايي ناستې تمثيلونه به يې کول.

ډېرو نياګانو به ورته په ښه سترګه نه کتل، خو ځينو نورو مستو زړو ته به يې زاړه يادونه ورتازه کړل او هر يو به د خپل مخ په ليدونکو کمرو(سترګو) تېر ريکارډونه ليدل.

پېغلو به هم د دوی په ليدو باندې زړونو کې هيلې وټوکولې او د راتلونکې لپاره به يې ترې چلونه زده کول.

د دوی دغه تمثيل به خلک له اصلي هغې ډېر خندول، ځينو به ترخې او ځينو نورو به خوږې او له مينې ډکې مسکاوې کولې.

د خدای له لوري پر دوی دغه پېرزو شوې مهرباني همداسې ورځ تر بلې غزېده، چې وخت وروسته پرې ښلتون خبر شو.



ښلتون د خپلو بدو او کرغېړنو عملياتو په پايله کې دغه جوړې ته د جدايۍ لار خلاصه کړه، چې د شېربانو غونډې ژوند کوونکي نه يې يوسف خان د عسکرۍ په پلمه جدا کړ.

ځوان هم خپلې ښنتو ته سترګې ټيټې نه کړې او د پالنګ خوب يې د غره په زيږو تيږو بدل کړ.

په موبايل باندې د خبرو حوصله يو هم نه لرله؛ ځکه دواړو به يو بل ته د اوښکو په بدرګه د ډاډګېرنې مراتب وړاندې کول، چې په همدې به روغبړ او آن احوال پوښتنه هم پاتې شوه؛ نو ځکه خو به ډېر ځله د يو بل پوښتنه په پيغامو کېده.

مېرمنې به يې هر کله يو ليکلی پيغام وراستاؤ :

زما د لرې وطن ياره

چرته په خيال کې دې راځم، که هېر دې يمه؟

ځوان به تر ډېره په همدې څو ټکو سترګې ښخې کړې وې او د خپلې خوږې مېرمنې خواږه ورمونه به يې احساسول.

خپلې ناچارۍ او د مينې بې کرارۍ به وارخطا کړ . ډېر وروسته به يې په پيغام کې ورته وليکل:

خوشالي ته کړه غم به زه کړم

زما زړګی په غم عادت دی، نه به چوينه

مېرمنې به يې ژر اوښکې پاکې کړې او د ډاډګېرنې په پار به يې يو څو ټکي وليکل:

ګوره چې د دې خبرو هېڅ سودا ونه کړې، تا باندې مې غم نه دی پېرزو اشنا، د دې نه وروسته چې هېڅ فکرمن نه شې، زه به تل ستا په مينه پايمه

او دا به تمام جهان ته ښایمه، چې صبر څنګه کیږي؟ قرباني څه ډول وي
او په مینه کې وفا څه ته وایي!؟

ښاغلي ته به هماغه  د خوا په خوا ناستې یادګارونه تر سترګو کېدل، د لیدو
هاغه خوشالي او اوس یې د نه لیدو په درد زړه له ماغزو سره دوستي پرې
کوله، خو د خپلې مېرمنې نازک زړه ساتلو لپاره به یې د مسکا او خندا خبرې
پیل کړې.

دواړو به د نامزاد شویو په څېر خیالي او نالیدلي زیاتې کمې ویلې؛ کله- کله
به یې یو بل ته د هم هغه وخت ناسمې پېغور کولې، تر ډېره به یې په یو بل
ټوکې او مسخرې وکړې.

دې خاموشه پیغامونو به ډېر ځله هغه هلته او دا دلته په کړس- کړس
خندول، چې ځینې وخت به په دواړو، نږدې ناستو خلکو د لېونو ګومان
کاوه. سهار او ماښام به د دغې خوږې جوړې رېباري موبایل کې تلونکو-
راتلونکو پیغامونو کوله، چې یو څه به یې د دغې جوړې د مینې تنده ماته او
یا به یې لاپسې زیاته کړه.

یو سهار چې ځوان د خپلې ناوې مېرمنې څو پرلپسې پیغامونو ته ځواب ورنه
کړ، زنګ یې ور ووهه؛ شمېره یې بنده وه. مېرمنه یې وارخطا شوه، فکر یې
سوچونو کې ډوب شو. هر څه به یې فکر ته راتلل. کله خو به یې چې په
معصومې څېرې اوښکې هم روانې وې، خدای ته یې د عذر لاسونه نیول او
د خپل جانان د حفاظت او ساتنې غوښتنې به یې کولې.

غرمه مهال چې مېرمنه یې پر لمانځه ولاړه وه، موبایل کې د پیغام زنګ
وټنګېد؛ په بیړه یې راواخیست، ګوري چې خاوند یې پیغام کې لیکلي:

بې له تا مې د ژوند ساعت ولاړ دی، هېڅ پرمخ نه ځي.

په رښتیا وایم، د فکر خیال مې ستا تر اخري دیدنه نېغ ولاړ وي.



مېرمنې یې د وارخطایۍ له لاسه پیغام لیکلو ته لاسونه نه ورتلل، زنګ یې
ور وواهه. د غږ په اورېدو یې زړه له خوښۍ ټوپونه وهل، خو په خولې یې
ورته کنځاوې شروع کړې.

چې ښه یې زړه تش کړ، ګوري چې خاوند یې خاندي او په خندا ورته د
خپلې خبرې د اورېدو بلنه ورکوي.

خو دا یې په تروش تندي بلنه ردوي او بیا- بیا ترې د موبایل بندېدو پوښتنه
کوي.

کله چې یې مېرمنې ښه ځان په کنځلو او بدو- ردو ستړی کړ، په ارام او
مسکاور غږ یې خاوند ورغبرګه کړه:

وه لېونۍ!

ته دومره غوصه یې، چې هېڅ زما خبره نه اورې؟

مور بېګا عملیاتو ته تللي وو، موبایل مې چارج نه درلود ځکه بند و. لږ
مخکې راغلو، لامې دمه نه وه کړې، چې موبایل کې چارجر ټومبلی مې ستا
خبر واخېست.

د مېرمنې یې چې غوصه د پخوا په پرتله سړه شوه،

په تریو تندي یې وویل:

غټ سریه!

نور چې هر کله دې د نیا عملیاتو ته تلې ما خبروه!

نږدې و، چې زړه مې درېدلای وای!

خاوند یې چې د مېرمنې مینه ناکه غصه اورېدله، په مسکا یې ورته کړه:

حتماً، نور به له ځانه مخکې خپله لېلا خبروم، چې کله عملیاتو ته تلم.

مېرمنې یې ترخه مسکا وکړه، چې غټه ککره دې نیولې اوس مې په چل-
چل د مور نوم راته اخلې ها!؟

خاوند یې په کړس- کړس وخندل او غبرگه یې کړه:

وی ریښتیا زما خو هېر و، چې ستا د مور نوم لېلا ده، ببښنه غواړم، پام مې نه و.

د مېرمنې یې په دې مینه ناکو خبرو زړه عاطفې محاصره کړ، په عاجزه خوله یې زیاته کړه:

خېر دی گرانه! نور چې هر چېرته تلې، ما خبروه! باور وکه، له ډېرې ژړا مې سترگې خوږېږي او همداسې خو دې نه پرېږدم، د دې ژړا تاوان درنه حتماً اخلم!

خاوند یې په مسکا ورته د خوراکي شیانو نومونه پیل کړه، چې ته یې وښایه اخېستل یې په ما، خو مېرمنې یې چې له سهاره څه نه و خوړلي، ډوډۍ ورپه زړه شوه؛ تمثیلي غوصه یې وکړه:

خېټا!

تا خو به د دولت مفته قابلي او د گډانو غوښې خوړلي وي؛ ځکه دې خوله په دې نومونو غوړه- غوړه لاړه. زه وږې یم، له سهاره مې هېڅ څه نه دي خوړلي، څم ډوډۍ خورم.

خاوند یې هم تمثیلي غوصه کې له چا کم نه و، ورغبرگه یې کړه :

لېونی کوه مې مه!!!

ته به وایې، که د پلار لنگر دې دی، سهار مې غره کې وچه ډوډۍ د یو پیاله چای سره خوړلې.

مېرمن یې ورته په ریشخندي ډول خوله کږه کړه:

ویشش بېچاره، زما د لاس هغه غوړې پراټې دې په زړه ونه ورېدې!؟

خاوند یې ځانته پام شو او په ارام غږ یې وویل:

ای لېلا! وی وبښه غلط شوم، هغه خو زموږ مور ده،



خو گرانې دسې یخ مې کیږي!

مېرمنې یې تندی تریو کړ:

ولامبه چې یخ دې ښه شي او په همدې سره یې موبایل بند کړ.

خاوند یې څو ځله د بلې، هلو او اورې کلیمې تکرار کړې.

موبایل کې راغلی زنگ پرې شوی وو، په غچ اخېستو ښه یې له هولې ووتل:

کټ دې که؟

د لېلا لورې زه درته وایم، له یخه مې زړه رېږدي او ته وایې ولامبه!؟

دې جدایی دوی د یو بل سخت ترې کړي وو او دواړو به له خدایه د ایمانه مخکې د یو بل غوښتلو دعاوې کولې.

دا داسې وخت و، چې لا یتیمې نجلۍ د پیداښت څرک نه لگېده، په شوخی به د کلي نجونو له مېرمنې د خاوند پوښتنه کوله، چې کله-کله به په مېرمنې د بدریخی له امله بد لگېده او ستغ ځواب به یې ورکاوه، چې له دې به هم د کلي نجونو خوند اخېسته.

ډېر ځله خو به یې له ډېرې غوصې خاوند ته وویل:

دا څه عاشق مورې گرځوې، چې هر څوک له ما وړاندې رانه ستا پوښتنه کوي؟

هغه به په شوخی ورته د ځان ستاینه پیل کړه، چې وگوره! یو په تا باندې قدر نه لرم، کنه گوره زه خو سم شهزاده یم.

هو- هو غټ سریه، ماته مالوم یې!

د دوشنبې ورځ سهار و، چې خاوند یې د پیغام پرځای مېرمنې ته زنگ وواهه.

مېرمن: دا څه ګورم، په شین سهار، د پیغام پر ځای زنګ اورم، یا چې په خوب درغلي وم!؟

خاوند: نه مېرې، تا غوندې خلک چې ماته په خوب کې د راتلو جرئت وکړي.

مېرمن: اووو هووو؛ هو کنه؛ ته له کوره تښته او زه به بیا په خوب کې درځم؟

خاوند: څه مېرې ته مه راځه، زه به درشم.

مېرمن: اخخخخ، څه وایې؟ رښتیا؟

- هو وی!
- نا رښتیا ووایه!
- ولا چې!
- کله؟
- د پنځشنبې ورځ!
- وای خدایه شکر! زه به ستا راتګ ته شېبې شمارم.
- ښه نو څه درته راوړم؟
- ښآ؛ څه به راته راوړې!؟
- هر څه چې وغواړې!
- هو- هو رښتیا په یاد مې شو، یو څه درنه غواړم!
- اورم چې لېلا مې څه غواړي!؟
- ای! تا بیا زما د مور نوم واخېسته!؟ دا ځل چې راغلې مور ته شېطانی کوم، چې غوږونه دې تاو کړي.
- نه- نه ولاچې هسې مې خوله کې راغله، غلط شوم، وبخښه، خو پام چې هغه ته ونه وایې، له هغه مې هسې ښسه وېره کېږي، ښه ووایه، چې څه راوړم؟



- خپله دا دوه منه ککره راوړه کنه!
- هغه خو بې له هغې راوړم، نور؟
- ښه نو دسې وکه، چې هغه لمدې نګریزې نه دي!؟
- کومې؟
- هغه چې کَـون ورته وایي! هغه ځان سره یو دانه راوړه، چې بیا د شپې درباندې په خپلو لاسو ګلان اچوم!
- اووو ایبی! د خپل او ستا د نوم لومړي توري هم هن؟
- هو بالکل!
- ښخي سمه ده، مور دوی مې هم خبر کړه؛ زه ځم چې کارونه مې راغونډ کړم!
- سمه ده، د الله پامان!

خاوند یې د ټېلېفون بندېدو په وخت کې وویل:

ای! واوره!

- ها څه وایې!؟
- در سره مینه لرم، ډېره مې یادېږې، ښکلوم دې!
- کښه غټ سرِیه، هسې ګپ مه لګوه!
- ولا که به ګپ لګوم!
- ښه- ښه سمه ده ورځه کارونه دې خلاص کړه، چې بیا په وخت لخېره راشې!

د مخه ښې وروسته یې په مېرمنې د خوښۍ له امله د تن جامې تنګې شوې، چې کله به خپل مسافر اشنا له نږدې وینې؟

کور ټول خبر او د دې مینه ناک شخص راتلو ته سترګې په لار وو.

پنجشنبه شوه، مېرمنې یې سهار وختي خپل ټول کارونه خلاص کړل، چې یې خاوند مسج وکړ:

ته وایه، چې د زړه خور شوی ټغر دې زماپه راتلو څه ارادې لري؟

ستا لېونی خو لکه ملنګ، کچکول په لاس ستا پر لور روان دی.

مېرمنې یې له مینې ډکه مسکا وکړه، او ځواب یې ورکړ:

راتګ دې د شکي روژې اختر دی، د انتظار شېبې یې ښکلوم؛ ځکه چې خوند به یارانه وکړي، ماسره او تاسره!

خاوندېي ژر ولیکل : له زړه، ښو، بنګړو او سپینو- سپینو مړوندو سره خو سلا وکړه!

مېرمن: د رواج له بندیزونو او په چغو د دې لوړو- لوړو غرونو له انګازو څخه وېرېږم.

باور وکه دا چې زما او دا ستا په منځ کې ولاړ دوېوالونه ښکاري، دې ته هم ساه تنګې کېږم؛ ژر راځه، کنه په چغو مې کلي خبروم.

خاوند مسکا وکړه، چې بس که بیروبار نه و، دوه ساعته دې زړه ته عذر وکړه، در وبه رسم.

د څه باندې دوه ساعتو وروسته له عسکرۍ راغلی اتل، بېک په اوږه، درېشي په ځان او د مېوو پاکټ په لاس، د دروازې په درشل ودرېد.

غږ یې وکړ، ای د کور واکدارانو!

مسافرو ته اجازه ورکوئ؟

په غږ یې مېرمنې د کنټرول ماده له لاسه ورکړه او له ټولو وړاندې یې د خپل مینه ناک خاوند غېږې ته ځان ورساوه.

تر ډېره یې د یو بل غېږه کې ځانونه ورک کړي وو، چې مور یې ورغږ کړ:

لورې! زما خو هم زوی دی کنه! مور ته خو یې هم لږ روغبړ ته پرېږده!



ولې نه مورې!

زوی دې کلکه نیولې یم، له کله نه ورته وایم، چې د کور نور غړ ي دې هم سترې مشي ته ولاړ دي، خو لکه چې عسکرۍ کې یې د سترګو لید هم کم کړی.

خاوند یې هم په دې خبره هوش کې راغی او په مسکا یې ورته وویل:

له تا نه لا اوس هم د دې دروغو عادت نه دی تللی!؟

مور او د کور نورو ټولو غړو په خنداوره خوله روغبړ وکړ او د همدې ناوې په خونه کې سره جرګه شول.

خوراک- څښاک وشو، ټوکو ټکالو هم خپل رنګ جوړ کړی و او د عسکر خوېندو د ورور په نشتون کې د خپلې ورېندارې د ژړاګانو نکلونه خپل ورور ته کول، چې په تمثیلي بڼه به د ورېندار له جدي غبرګون سره مخ شول؛ همداسې د عسکر په نشتون کې د مېرمنې د ژړاګانو د راز خونه، اوس ټوله خندا ګانو پور کړې وه.

شپه شوه، یو- یو له خونې په وتو، ټول خپلو خونو ته لاړل. دوی د یو بل په سترګو کې سترګې ښخې کړې. د لږې مسکا وروسته دواړه د جدایی په یادونو ډوب شول، د سترګو له سمندره یې د اوښکو څپو لکه فوارې اوبه رد کړې؛ په مړو- مړو اوښکو یې د یو بل په درد ځانونه وپوهول.

دې کې ډېر وخت واوښت؛ د مېرمنې دې غږ یې چې:

بې وفا اوس راغلې!؟ د خونې چوپتیا ماته کړه.

تا دا فکر نه و کړی، چې که ستا په نشتون کـــې له ډېره درده مړه وای. د خاوند فکر یې هم د درد له حالته اوسني خوشاله حالت ته راواګرځېد او په مسکا یې وویل : د مرګونو ځای کې زه وم او دعوې یې ته کوې!

د خونې چوپتیا لږه موده ګیلو او بیا د مینې څپو ماته کړه.

خاوند یې د خپل بېک وړوکی جیب خلاص کړ، ډبې کې ګوتمه او د لمدو نکریزو ډک پاکټ یې د مېرمنې په ورون کېښود.

په خندا یې وویل:

واخله لېونۍ! که درته هغه د مور نوم اخلم، بیا غوصه کېږې. راکړه لاس دې، چې درته په کې د نیول شوي کمین انځور واچوم.

مېرمنې یې په تمثیلي بڼه تندی تریو کړ:

د کمین انځور دې مور ته واچوه، چې تل دې پلار پرې د برید اراده لري؛

ماته ښایسته ګلان واچوه، چې سبا پرې دا ګوتمه هم په لاس کړم!

په سبا یې ډېر ملګري د عسکر لیدو ته راغلل؛ له هغو سره یې د عسکرۍ کیسې وکړې.

همداسې ډېرې شپې سبا شوې، تر دې چې د ځوان د بېرته تګ ورځې رالنډې شوې.

یوه ورځ چې بېرته تلو ته یې دوه ورځې پاتې وې، مېرمنه یې بې هوښه شوه، په بیړه روغتون ته لاړل.

له معایناتو او تشخیصاتو وروسته یې ځوان ته مور راغله او په مسکا خوله یې زوی ته مبارکي ورکړه، عسکر هک- پک شو، ویې پوښتل:

څنګه چل دی مورې!؟

هر څه خو ښه دي!؟

د مور د خولې کشک یې نور هم وتېښتېد او په خندا یې وویل:

مبارک دې شه زویه! لځېره پلار به شې!

عسکر ځوان د حېرانۍ مسکا وکړه او اسمان ته په کتو وویل:

ربه مننه ستا له ذات نه، چې که جیب مې خالي خو زړه دې مست راکړ.

لږ وروسته یې د مېرمنې لاس مور نیولی او د روغتون له ودانۍ راووتل.



عسکر ځوان په حېرانتیا- حېرانتیا د خپلې مېرمنې مخ ته کتل او د خپل راتلونکي اولاد مجسمه یې د مېرمنې له ښایسته جوړ شوي شکله انځوروله.

موټر کې ناست یې غلی شان خپله مېرمنه وسکوندله او په غوږ کې یې مبارکي ورکړه.

مېرمنې یې د حیا په ځادر سترګې پټې کړې وې او د هېڅ ویلو جرئت یې نه درلود.

له ځان سره یې د شیرینۍ په بڼه یو څه د کور غړو ته یوړل.

کور غړي چې له وړاندې د مېرمنې حالت لیدلی و، تعجب کې شول.

عسکر ځوان سل زړونه یو کړل او په کرار غږ یې وویل:

مبارک مو شه!

ستاسې کور ته به زما د مېرمنې پوټستېټ راشي!

دا چې د ډېرو خلکو هلکان خوښېږي، د مور یې تندی تریو شو اوپه بیړه یې وویل: څه وایې زویه!؟

خدای مې دې د اېنګور لمنه شنه کړي!

خدای دې ستا په څېر په ګلالي زوی ونازوي.

عسکر چې د مخ جغرافیه یې مسکا اشغال کړې وه، وویل:

نه مورې زه بدرنګ یم، خدای دې د سپوږمۍ په څېر یوه لور راکړي او ان شاءالله چې همداسې به کیږي هم؛ ځکه ما مې سپوږمۍ ته په لومړي ځل کتو سترګو کې د خپل راتلونکي اولاد مجسمه رسم کړه.

ځوان عسکرۍ ته په بېرته تلو کې د خپلې مېرمنې اوښکې پاکولې او د ډاډ په پار به یې هغه ته په لنډ وخت کې د بېرته راتلو ژمنه کوله، خو مېرمنې یې د ده په نشتون کې یوه ثانیه هم په درد کې لیدله؛ ځکه دې ته یې خاوند

لاندې څمکنی ګلاب، بره ستوري او آن پاس اسمان و؛ نو له همدې امله پرې بې حسابه ګران و.

چې بلاخره يې خپل مينه ناک خاوند په ډېرې ناچارۍ، د مسافرت او عسکرۍ سخت ژوند غېږې ته د اوښکو په بدرګه وسپاره.

ژوند همداسې تېرېده، چې وخت وروسته يې د خاوند بيا راتګ انګازو مېرمنه بيا د امېد او خوښۍ په ټغر کېنوله.

تياری د تېر په څېر ونيول شو، ټولو دروازې ته په کتو د عسکر ځوان راتګ ته شېبې شمارلې، خو د راتګ له وخته يې څو ساعته ډېر ځنډ وکړ. د مېرمنې يې دروازې ته په کتو دوه سترګې څلور شوې. ساعت او دروازې ته په ډېروکتلو د کورنۍ د غړو سرونه وګرځېدل.

شپه شوه، خو عسکر ځوان هېڅ ونه ليدل شو، ټول کور د تشويش په درياب غوټې وهلې . هېڅا هم سترګه پټه نه کړه. د زنګ هڅه هم بې پايلې وه؛ ځکه موبايل يې بند وو.

قومندان ته يې زنګ ووهل شو، له هاغه ځايه هم د ورتلو خبره وشوه.

بې مړي يې په کور د غم ټغر خور و، آن تر دې چې سبا بيا هماغه وخت شو. ناګهانه يې د مېرمنې موبايل ته د خاوند په نمبر زنګ راغی. مېرمنې يې په ډېره بيړه موبايل پورته کړ او پرته له دې چې د هغه غږ واوري، د تېر په څېر په غوصې پيل وکړ او کنځاوې يې شروع کړې.

غټ سريه! زموږ دې زړه وچوو، تاته دا هرڅه ولې ټوکې ښکاري؟ ستا زما په دې اُمېدوارۍ هم زړه ونه سوځېد، چې بې پروا دې موبايل بند کړی و!؟ ککره دې غټه ده، خو هېڅ ماغزه په کې نشته، تا خو دې خدای راولي، که تر څو ورځو درسره خبرې وکم او يادرته سلام واچوم!

ولې!؟



خلک به همداسې ټول کور د تشويش په ټغر کېنوي!؟

ته پوهېږې!؟

د مور دې بېګا د تشويش له امله دومره فشار لوړ شوی و، چې دوه ځله مو روغتون ته بېولې؛ پلار، ورونه او د خوېندو خو دې د سرو سترګو پوښتنه مه کوه. زه خو دې هسې هم بې مرګه ووژلم.

مېرمنې يې لا نور هم څه ويل، چې يو کرکجن غږ يې په خوله کې خبره وروچه کړه.

اووو بسسس کړه نووو !!!

کيسې دې شروع کړې، وار بل چاته د خبرو نه ورکوې!

- ته، تت، ته څوک يې؟؟؟

څه شو زما خاوند؟؟؟ هغه ښه دی؟؟؟

- زه ستا د دې ځوان خاوند اجل يم، اجل!!!

د کور نور غړي دې هم راوغواړه، چې د خپل نازولي سره د ژونداخري خبرې وکړي، چې کيسه يې نوره ختمه ده.

د کور غړو چې له پخوا يې غوږونه د دروازې غږ ته بوخ و، د مېرمنې له لوري د خپل خاوند نوم په چغه کې اخېستؤ، ټول په بې دريغه منډو د ناوې تر خونې ورسول.

ګورې، چې ناوه موبايل په غوږ کريکې وهي. په تندي يې مړو خولو لارې کړې، د هر چا زړه د حالت پوښتنه کوله، خو زبون د ټولو خولې مُهر کړې وې، چې ناڅاپه يې مېرمنې د ژړا په کريکه کې د خپل خاوند د نيول کېدو خبره وکړه.

چا په سينه او چا په خوله لاسونه کېښودل، هک- حېران يې د موبايل پر لور د ناهيلۍ سترګې ښخې کړې.

ناوې مېرمنه په خپل زړه کې د هیلو په لټون شوه او په ځاریو یې پیل وکړ:
خېر دی، قربان مو شم، زما خاوند میږي ته هم ضرر نه رسوي، نو تاسې ولې هغه ته د زیان اړولو هڅه کوئ!؟
پوهېږئ!؟
په قسم که به زه د خپل خاوند نه غیر په دې دنیا کې یوه شېبه هم اوسېدلی شم؛ زړه مې چوي، که زما خاطر نه کوئ، زموږ د دواړو راتلونکي معصوم اولاد سترګو ته وګورئ! اولاد ته مې په نس کې د یتیمۍ څپېړه مه ورکوئ! پلار به یې د هغه اوهغه به د خپل پلار د څېرې لیدو ارمانجن وي.
کرکجن غږ یو ځل بیا غړمبار وکړ، چې له وړاندې یې د مېرمنې غونې زیږې کړې:
- ولې مو خاوندان زموږ مرګ پسې لېږئ؟؟؟
کله- کله خو به دوی هم د مرګ خوراک کیږي، داسې خو نه ده، چې دوی لکه ښکاریان، یوازې زموږ مرګ پسې راخېستې، موږ هم دوی د مرګ مېلمانه کولی شو، ژوند یې په دوزخ بدلوی شو، کورنۍ یې د غم په ټغر کېنولی شو!
زه نه غواړم چې له نامحرمه ښځو سره په خبرو ځان د جهنم خشاک کړم.
د انساني همدردۍ له مخې که له دې عسکر ځوان سره اخري خبرې کول غواړئ، نو چې موبایل ورکړم، کنه نو له دې ځوانه مو د کور په ګنده اوبو کې لاسونه ووینځئ!
د مېرمنې یې په مخ د اوښکو بې شمېره لارې جوړې شوې، په ژړغوني غږ یې وویل:
موبایل لږ ورکړه!



- موبایل ورکوم، خو ګوره وخت ډېر نشته؛ لنډو کې د ژوند اخري خبرې ورسره وکړئ!
واخله ځوانه! کورنۍ سره دې د ژوند اخري خبرې وکړه!
مېرمنې یې په سلګو- سلګو کې د خاوند نوم اخېسته، او په ژړا کې یې ترې پرلپسې پوښتنې کولې:
ولې قنده؟
دوی څوک دي!؟
وهلی خو به یې نه یې؟
ولې تاسره داسې کوي!؟
څه زیان خو یې درته نه دی رسولی؟
د خاوند یې د مېرمنې حالت په خبرېدو ستونی ډک شو او په ټیټ غږ یې وویل:
ژاړه مه ګرانې!!! هسې نه ما دلته وژړوې، بیا به دا وحشیان وایي، چې عسکر د مرګ له ډاره، له سترګو د ارمان اوښکې تویې کړې. زه د دې وحشي صفته انسانانو څخه هېڅ ډار نه لرم. ماته دعا کوئ؛ خدای چې څه کوي، دا وحشیان یې لیدلی هم نشي.
مېرمنې یې چې د خپل خاوند ټینګ عظم ولید؛ فکر یې وکړ، چې ممکن خاوند یې د ځان تسلمېدو پرځای د کوم غبرګون تابیه نیسي-، په ډکو سترګو یې ورته د ځان خلاصون سوالونه کول او همدا یې ویل، چې څه وکړه، کنه زه ستا نه بغیر یوه شېبه هم نشم تېروی.
دې خبرو کې و، چې د ځوان له لاسو هغه کرکجن غږ لرونکي سړي د موبایل اخېستلو غږ وکړ، ځوان وویل:
یو دقیقه صبر، یوه جمله ویل غواړم!

ولاړ کس همداسې د موبایل اخېستو په پار نیم څوړند پاتې شو.

خاوند یې مېرمنې ته وویل، چې د موبایل اواز پورته کړه! غواړم یوه جمله تاسې ټولو ته ووایم!

خونه کې د ساندو ویر خپور و، مېرمنې یې په ډکو سترګو ټولو ته د دې جملې د اورېدلو بلنه ورکړه، ډېر ژر خونه کې د خاموشۍ فضا خپره شوه.

عسکر ځوان د زړه په ډاډ داسې وویل:

بیا به راځم ځارئ مې لاره

که مرګ رامخکې نه شو تاسې له درځمه

د دې په ویلو یې درون غږ وکړ، چې دعا کوئ! یا تیر یا توقه، برید کوم!

په همدې سره د ډزو غږونو د ځوان په غږ برلاسي توب خپل کړ. کور کې هم د خاموشۍ فضا ژړغونو کریکو ماته کړه. مېرمنې یې په سلګیو کې ډېر غږونه د پوښتنې په پار وکړل، خو ځواب یې ونه موند.

په ژړغوني غږ یې خدای ته د غذر لاسونه پورته کړل او په ژړا- ژړا یې الله پاک ته زارۍ پیل کړې:

که به ما یوه ورځ هم ستا په مینه، تاته سجده کړې وي؛ نو خبر دی، د هغې له مخې زما خاوند په خپل امن کې وساته او ته یې ژوندی خپل کور ته راستون کړه!

ګاونډیان هم رارسېدلي و، هغوی هم د تسلۍ هڅې کولې، خو تر ډېره بې پایلې وې.

بله شپه هم په ویښه تېره شوه، سهار چې د کورنۍ هیلې هم یو څه مړاوې شوې وې، ناڅاپه دروازه کې لوړ غږ وشو:

سپوږمۍ زه رااغلمم!!!

مېرمنې یې د دې غږ په اورېدو لاره خطا کړه، چې څه وکړي؟



له خونې تر دوازې لاره یې څو قدمه کړه او ځان یې د مرګ له خولې راوتي خاوند په غېږ کې واچو.

خپلو اندرېندو ته یې په ډکو سترګو چغې کړې؛ چې راشئ! ورور مو راغی! مورې! راشه اتل زوی دې راورسېد.

دا چې خبره بیخي ډنډوره شوې وه، ګاونډیانو ښځو، ماشومانو او آن ځوانانو هم د دوی یو بل په مینه ښکلول ولیدل او دوی هم د مینې په داسې مقام کې کرار درلود، چې هېڅ یې نورو خلکو ته پام نه و، ځینو مشرانو دغه کړنه ښه ونه انګېرله، خو یو ځوان په مسکا یو مشر ته مخ واړوو او په مسکا یې وویل:

د دوو زړونو په کیسه او د عشق په مرتبه کې ګوتې وهل د غمازانو کار وي، ځئ چې موږ ترې ووځو!

دغه جدا شوې جوړه چې په ځانونو پوهېدل، نو د عسکر ځوان خوېندو او مور ترڅنګ یې ټولو نږدې خپلوانو د ځوان د ښکلولو هڅې کولې؛ بې اختره خوښۍ بې مړې غم ته دې کور کې لغته ورکړه.

هېڅوک نه پوهېدل، چې له خوښۍ څه وکړي او څه ووایي؟

مېرمنې یې له خدایه شکر ووېست او خپل تک سور ځادر یې یوې ګاونډۍ پېغلې ته ډالۍ کړ، په مسکا یې وویل:

واخله! کېدای شي، ستا هم همداسې مینه ناک ځوان نصیب شي.

خاوند یې خپلې مېرمنې په کتو ځان سره همدا ویل:

له تا بغیر مې د ژوند په دایره کې ساه ورکیږي! وخت مې د تنهایۍ تورې پنجرې ته سپاري! د ژوند له کتابه مې توري کډه کوي او د فکر له خیالي اسمانه مې ستوري تښتي!

دې فکرونو کې وو، چې مېرمنې یې د خلاصون په اړه ترې وپوښتل.

عسکر په مسکا وویل:
مَړې تا خو دسې ژړل، زموږ دې زړه وغورځاو؛ که زه بله ورځ ووژل شم، ته به همداسې کارونه کوې!؟
مېرمنې یې د مرګ ټکي په اورېدو لکه د کندهار انار رنګ تک- سور شو او د ټولې کورنۍ په مخ کې یې د خاوند په خوله خپل سره لاسونه کېښودل:
چُپ!
د مرګ په اړه چې یوه کلیمه هم بله ونه وایې، د خلاصون کیسه دې وکه!
خاوند یې اوږده ساه واخېسته او په خبرو یې پیل وکړ:
کله چې مې تاسې سره خبرې کولې، نو د هغه ځناور اوږه د موبایل اخېستلو په پار زما لور ته مایله شوې وه، چې په اوږه یې ټوپک هم زما په څنګل لګېده؛ همدلته مې د خپلې عسکرۍ له زده کړې تکتیکه کار واخېست او د ټوپک په اخېستلو مې لومړی په هم هغه او وروسته د هغه په نورو ملګرو ډزې وکړې.
د دې خبرو په جریان کې د کورنۍ ټولو غړو غوږونه بوڅ او په مخ کې یې د انتقام رنګونه راتلل.
مور وویل: ښه نو هغوی تش لاس ول!؟
- نه مورې!
زه هغوی د وژلو په نیت د فلمبرادارۍ کمرو سره، له خپل مرکزه لرې دښتې ته په موټر کې بؤولی وم، چې ما له ټوپک اخېستلو سره سم ځان د موټر تر شا ورسوو او هغوی مې هېڅ ښورېدو ته پرې نه ښودل.
که څه هم هغوی د موټر په ښکته سر یو څو ډزې وکړې، خو شکر زه د موټر بره سر ته پټ وم.



د هغوی ختمولو سره سم مې دوه خپلې او دوه پردۍ ځان تر بازاره او بیا تر خپل کوره راورساوه.
ټولو د شکر وېستلو په پار خدای ته د منني لاسونه پورته کړل او د هغه له درباره یې ځوان ته د نوي ژوندپه ورکړې منندویي کوله.
د رخصتۍ څخه دې جوړې په خورا ډېره مینه خوند واخېست او د یو بل دردونو ته ټکور شول.
دا وخت د ځوان د مېرمنې اومېدواري له اتو میاشتو اوښتې وه، د راتلونکي ماشوم جنسیت هم مالوم شوی و؛ مېرمنې یې له خاونده پوښتل:
ته نن په ایمان راته ووایه، چې زه او زما لور درته یادېدو او که نه؟
موږ خو تاپسې ډېر ژړېدو، ته ژړېدې او که نه؟
خاوند به یې سترګې ورته په سترګو ښخې کړې او له خولې به یې ورته داسې ووتل:
له زړه نه زړه ته لار وي؛ څنګه چې ستاسې یادېدم، همداسې زه هم کړېدم.
دا چې د رخصتۍ ختمېدو شېبې رالنډېدې؛ مېرمنې یې هېڅ بیا تلو ته زړه نه ؤ، هغې ورته د شخصي کاروبار مشوره ورکوله، خو خاوند یې د عسکرۍ قرارداد تر ختمېدو، د دندې په ترسراوي ځان مکلف ګاڼه.
په سبا یې د تګ امادګي نیوله، چې د مېرمنې یې خاوند ته په کتو زړه وښویېد او هسې بېسه به یې ورته له ستوګو اوښکې لاړې.
خاوند یې بیا هم ورته ډاډګېرنه ورکوله، خو هغه ته دا تګ په زړه کې ډېر دردوونکی ښکارېده.
شپه شوه، مېرمنې ته یې هېڅ خوب نه ورته، د خپل خاوند په سر کې یې ګوتې وهلې، چې د وخت په تېرېدا یې خپل حالت ښه نه لیده.

اړ شوه، چې له خپل خراب حالته خاوند خبر کړي.

هغه ورته بیا هم ډاډ ورکاوه، چې هېڅ خبره نشته؛ هسې وېرېدلې یې، خو مېرمنې یې دا نه منله او په ټینګار یې ورته د خپل خراب حالت یادونه کوله. عسکر ځوان خپله مور خبره او روغتون ته د تګ تابیه یې ونیوله.

ورغلل؛ ځوان بهر انتظار وېستو، د تورې شپې په چوپه چوپتیا کې ځوان له روغتونه د ماشوم د ژړا ځو کریکې واورېدې؛ مُسک شو او له ربه یې شکر ووېست.

لږ وخت وروسته یې مور د دوا پارچه په لاس د زوی خواته راغله، د زړه په زور یې مسکا وکړه او زوی ته یې د لور د پېدایښت مبارکي ورکړه.

عسکر ځوان هېڅ نه پوهېده، چې له خوښۍ څه وکړي؟

په بیړه یې دوا راوړه او بار- بار یې د روغتون دروازې ته کتل، چې کله به خپله مېرمن او لور ګوري؟

وخت وروسته یې مور د موټر تاوولو غوښته ترې وکړه، چې کور ته د تلو امادګي ونیسي.

ځوان د موټر مخه د کور او سترګې یې د روغتون د دروازې پر لور ودرولې، چې مور یې ماشوم په غېږ او ترور یې د مېرمنې لاس نیولی، د موټر پر لور راروان دي.

له موټره ښکته شو، د خپلې مېرمنې بل لاس یې ونیو او سره له نورو موټر ته پورته شول.

ځوان څو منه پلې واخېستل او ښه په خوښۍ د کور په دروازه ننوتل.

خپل قوماندان ته یې په زنګ د لور پېدایښت زېری ورکړ، هغه د مبارکۍ ترڅنګ د درې نورو ورځو اجازه هم ورکړه.



دا درې داسې ورځې وې، چې هېڅ کله ترې په نورو ورځو دومره خوند نه ؤ اخېستل شوی.

عسکر خپلې مېرمنې ته په مسکا مبارکي ورکړه او خپله لور یې په تندي ښکل کړه.

په درېیمه ورځ سهار یې مېرمنې ته د تګ وویل؛ مېرمنې یې بې واکه له خولې ورته ووتل:

لېونی به شمه، مرمه - داسې مه وایه چې ځمه
بې له تا به لېونی شم
ستا په مینه قسم خورمه

خاوند یې اوښکې پاکې کړې او په مسکا یې وویل:

دغه دی شاعره هم شوې!

د ګلونو ګل غوټۍ!

د سپرلي مسته سیلۍ!

د وفا له سره تېره لېونۍ!

ژاړه مه! ان شاءالله ډېر ژر به راشم، بیا به یو ښه پروګرام ونیسو، ختم به وکړو او بېرته به په تخت کېنو.

ځوان د کور ټول غړي په ژړغونو سترګو پرېښودل او د کور له درشله بهر شو.

لاړ؛ د تېرې کارنامې په اړه د مشرانو له لوري وستایل شو.

دنده یې په پوره ځواک ترسره کوله، خو ترڅنګ یې رخصتۍ راتلو ته هم شېبې شمېرلې.

وخت چې څومره هم بېرته نږدې کېده، نو مېرمنه يې له ماشومه او ماشومه يې له موره ډېر په زړه وربدل، چې د انتظار شېبې يې رالنډې شوې؛ په څو ورځو کې يې رخصتي پيل کېده.

د مېرمنې نه يې د څه راوړلو پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل:

که رښتيا په تخت کېنو، نو ګوره زه په هغه زوړ کميس کې نه کېنم.

ماته درسره يو نوی سپين کميس هم واخله او لور ته مې هم ښايسته-ښايسته لباسونه!

خاوند يې مازيګر قرارګاه ته نږدې بازار کې سودا وکړه. ځان يې تګ ته پوره اماده کړ، چې د شپې ناوخته په قرارګاه باندې د دولت مخالفينو بريد وکړ. ټول په خوب ويده ول، پرته له څو پېره دارانو، چې هغوی هم د بريدګرو له لوري په ابدي خوب ځملاستل.

ټوله قرارګاه کې ډزو او د خلکو د غوغا غږونه خپاره شول.

دا چې دوی تر ډېره ناوخته يو بل سره ګپ لګوو، نو د بريد په اړه يې مېرمنې ته وويل، د هغه په زړه کې بې ډزو شور ګډ شو.

خاوند يې د موبايل بندېدلو غوښتنه ترې وکړه، خو مېرمنې يې په ناکراره چغو هغه له دې کاره منع کړ او ورته ويې ويل:

همداسې ګوشکي کېده او خپل کار دې کوه، چې زما درته سودا نه وي.

همداسې وشول، ډزو- ډوز بيخي زيات شو، د زخميانو چغو د مېرمنې نه په کور کې وار- پار خطا کړ.

هره ګړۍ به يې له خاونده پوښتل:

ای ګرانه ته ښه يې!؟

خاوند به يې هم ځواب ورکوو، چې تر اوسه خو هو، اما کاته راته ډېره جنجالي ښکاري.



غوغا ورو- رور ډېرېده، چې د عسکر ځوان د خونې دروازې درز ښځه يو ځل بيا وارخطا کړه او په ژړغوني غږ يې وويل:

ښه يې ګرانه!؟

خاوند يې پر ځای د دې چې ده ته ځواب ورکړي، په زورور او دهشتي غږ يې د ده خونې کې ننوتي بريدګر ته د تسليمېدو امر وکړ، چې د بريدګر له لوري په ډزو عسکر هم خپلې سرې مرمۍ د بريدګر پر لور وتوغولې.

خوله په خوله ډزې وې، بريدګر او عسکر دواړو د اللهُ اکبر چغې وهلې.

ډېرې مرمۍ د دواړو له لوري د يو بل وژلو په پار تبادله شوې، چې دې کې د عسکر له شپېلۍ يوه وتلې مرمۍ د بريدګر په ټټر ورننوته.

هغه په دردېدونکي ډول تندی تريو کړ. په ډېرې سختۍ يې ځان پورې تړلو چاودېدونکو توکو بټن ته د لاس وروړلو هڅه کوله؛ عسکر سترګې د دې حالت په ليدو رډې ووتې، ژر يې څو نورې مرمۍ هم پرې پېرزو کړې، خو له ځانه تېر بريدګر ځان پورې تړلو چاودېدونکو توکو بټن ته لاس ورسېد او يوې زوروې چاودنې غږ تر ډېرو لرې ځايونو انګازې ورکړې.

د چاودنې زورور غږ له مېرمنې نه په کور کې زړه ووبست.

په چغو- چغو يې د خپل خاوند د روغتيا پوښتنه کوله، خو خاوند يې چې په ټول مخامخ بدن د چاودېدونکو توکو پارچې خوړلې وې؛ د لږ ځنډ وروسته يې د زړه په ډېر زور مېرمنې ته يو څو کليمې وويلې:

ګرانې!

هېڅ ښه نه يم! کېدای شي تر همدې ځايه به وه؛ ځکه وتل او بيا رغېدل مې ستونزمن دي. ستا مې هېڅ ارمان پوره نشو کړای:

هغه دنيا کې به مجنون ته وايم
زه هم عاشق وم، خو مزه مې نه وه

د کورنۍ په ټولو غړو، په ځانګړي ډول په ځان او په خوږې لورکۍ مې ډېر پام . . . .

په دې سره د خاوند غږ ورک شو، د مېرمنې ناتراشه کریکو د شپې په خاموشۍ کې انګازې وکړې. څو میاشتنۍ ماشومې هم په چغو کې خپله مور بدرګه کړه او په خپلې یتیمۍ یې د درد څو کریکې ووهلې.

د کور نور غړي هم په ورخطايي د ناوې تر خونې راغلل، د هغوی راتلو سره سم موبایل کې بیا کمزوری غږ تر غوږ شو، چې د زړه په ډېر زور یې د :
اَشهَدُاَنّ لا اِلهَ الاّ اللهُ وَاشهَدُ انَّ مُحمداً عَبدُهُ وَرَسُولُهُ
کلیمه وویله.

د مېرمنې په زوروږې چغې د کور غړو په غوږونو کې لاسونه کېښودل او بار- بار یې له مېرمنې د علت پوښتنه کوله.

مېرمنې یې په چغو- چغو د شهید عسکر مور ته غېږه ورکړه او په زورور غږ یې وویل:

مورې! ماته تور څادر راوړه! زه کونډه شوم!!!

لور مې د یتیمۍ څپېړه وخوړه!

نازولی زوی دې په خپلو سرو وینو ولمبېد او د تورو خاورو کوربه شو.

ټولو په رډو سترګو یو بل ته کتل.

د عسکر مور چې دا خبرې نه شوې زغملی، خپلې اینګور ته کلکه څپېړه ورکړه، چې دا څه وایې!؟

زوی مې سبا راځي او ته د سرو وینو او تورو خاورو خبرې کوې.

دې کې د شهید عسکر مشر ورور موبایل تر غوږ کړ؛ د څو انسان خوړونکو ډزو غږونه یې واورېدل.



د شهید مېرمنې په څپېړې هېڅ درد محسوس نه کړ او په غېږ کې یې خوابنې نوره هم ټینګه کړه، بیا یې په کریکو کې وویل:

هو، د هغه به بیا یواځې جنازه راشي!

دې سره د کور نورو غړو هم د حوصلې زغم له لاسه ورکړ او په کریکو یې پیل وکړ.

د شهید کونډه شوې مېرمنې ټولو اېندرېندو ته په غېږه کې همدا ویل:

اتل ورور مو نن د تورو خاورو مېلمه شو؛ ما مړه کړئ! زه ژوند نه غواړم.

تر سهاره د کور خاموشي چغو په سر اخېستې وه، سهار مهال یې مېرمنې د مېز پر سر د خپل خاوند انځور ته پام شو؛ ورمنډه یې کړه، په غېږ کې یې ونیو او په چغو- چغو کې یې ویل:

یاره، د نیمګړي ژوند تصویر وې مکمل نه شوې!

ستا په جدایۍ به مې زندګي ډېره ستونزمنه شي، ستا دغه انځور چې څنګه له خوځښته پاتې، همداسې مې نور د خوښۍ عمر پر ځای ودرېد او د مینې دغه کتاب کې مې د خوښۍ توري نور خلاص شول.

د عسکر له شهیدېدو وروسته یې د کونډې مېرمنې ژوند تېرول په انګار درېدل ؤ.

هر کله به یې انځورونه راخېستل او ځان سره به یې د ویر ساندې وهلې.

خپلې یتیمې لور ته په کتو یې زړه ډېر دردېده. سلګۍ به یې وهلې، آن کله خو به یې په دې سلګو کې کېدونکې خبرې هم بندې- بندې شوې.

د دود سره سم، وخت وروسته د شهید عسکر په مېرمنې څادر واچول شو او د هغه بل ورور ته په نکاح شوه.

د مېرمنې له زړه به هېڅ پخوانۍ خاوند نه وته او هر کله به یې په اخترونو کې د هغه ځوان د مزار دیدار کاوه، چې دې ورسره په ژوندوني د مینې لوبې کړې وې.

لور ته په کتو به یې هر کله ژړل، سترګو یې سور رنګ خپل کړی ؤ. کورنۍ یې اړ شوه، چې د فکر ښه والي لپاره یې یتیمه ماشومه ترې د مشر- لېور کور ته چې په ښار کې اوسېدل، بوځي او هلته د ژوند څو کلونه تېر کړي، خو وخت وروسته د ښوونځي په پلمه بېرته یتیمه نجلۍ خپل کور ته راوړل شوه.

د مېرمنې اوسني خاوند له خپل پلار سره په کورني جنجال کې له کوره مرور کېده د ښار لور ته یوړه.

له کورنۍ سره یې هر څه پرې کړل او هېڅ راشه- درشه یې نه لرله.

یتیمه نجلۍ چې پېغلتوب یې ورځ تر بلې غوړېده؛ د ماشومتوب په پرتله اوس ډېره شوخه شوې وه، هغه په ښار کې ښوونځی ویلو.

یو ورځ چې له لېسې څخه د ملګرو په ډله کې په ډېرې شوخۍ او ټوکو- ټکالو روانه وه، د یو ځوان له لوري چې د پوهنتون کتابونه یې تر شا تړلي و، په سایکل ووهل شوه؛ نامنظمه ولوېده، نورو نجونو ورپورې وخندل.

هاخوا څو لوچک ډوله هلکان د ځان ښودلو په پار د نجلۍ د ننګې په تمثیل، له هلک سره په بحث او دعوو پیل وکړ.

محصل ځوان په هلکانو باندې پوه شو، چې د ننګې ترشا یې د ځان ښودنې عمل پټ دی؛ ورو یې نجلۍ ته وویل:

اغلې!

که ژوبله شوې یې، چې ډاکټر ته دې بوځم، نجلۍ ته نورو نجونو مسکاوې کولې او همدا یې ویل:



که واره دې ورباندې راځي، پرې تاوان به دې کړو!؟

نجلۍ همزولو ته ډېره کمه راغله، خو محصل ځوان ته یې د ښه صحت ډاډ ورکړ. ځوان ورنه د تلو غوښتنه وکړه، څو دا تمثیل کوونکي هلکان هم خپل تمثیل پای ته ورسوي.

نجونې روانې شوې، هلکان هم د دې حالت په لیدو بېرته په چوپه خوله لاړل.

ځوان چې پوهنتون ته پر لاره ؤ، د رسېدو سره سم یې فېسبوک خلاص کړ، چې د داسې بد تمثیل په اړه یو څه پوسټ کړي، چې په چَټ کې د یوې نجلۍ په نوم پرې یوې آی ډي لرونکې سلام واچوو.

محصل ځوان چې په دې آی ډیانو ډېر باور نه کاوه، غوږ یې پرې ونه ګراوو؛ چې نا ګهانه یې بل پیغام سترګې خپلې کړې، چې لیکلي یې وو:

ښاغلیه!

له هغه هلکانو سره مو څه وکړل؟

محصل ځوان ولیکل: کومو هلکانو سره؟

- هغه چې زما د ننګې تمثیلونه یې کول!
- امممم ښآ! ته هغه ټپي شوې نجلۍ یې؟
- هو کنه، ته راسره فېسبوک کې هم ملګرۍ یې!
- ښه څنګه یاست، ژوبل شوي خو به ډېر نه یاست؟
- ولې نه، پښه مې دې ژوبله کړې، هلته خو مې څه ونه ویل، خو د دې تاوان درنه غواړم؛ بل زه خپلو همزولو ته ډېره کمه راغلم.

محصل ځوان مسکا وکړه، چې تاوان؟

د انسان بدن خو تاوان نه لري، خو عذر یا تداوي لري! ستاسې خوښه، چې تداوي مو وکړم، که عذر؟

یتیمه نجلۍ هم مُسکۍ شوه، چې نه- نه ولې یې نه لري، کله چې ښه سور کړی چرګ وخورې، هغه درد ځای ته ځي او خدای بیا هغه ځای رغوي.

- ښاَ، سمه ده، هر څه چې تاسې غواړئ، حق مو دی، زه به یې درته درکړم، خو اوس زموږ درس پیلیږي!

نجلۍ ته نورې پوښتنې هم ولاړې شوې:

ښاَ، د څه شي درس وایې؟

- پوهنتون کې یم؛ لومړی کال مې دی!

یتیمې پېغلې د شوخۍ مسکا وکړه، چې ښاَ، اولکۍ یې؟

- ته دسې شلم صنف کې یې، بکسه دې ماولیده، له شلېدلو کتابو دې مالومېده، چې له اول صنف نه وړاندې هغه صنف چې وي، هو- هو په یاد مې شو، چکړ صنف.

- ههههه چکړ صنف دې یادیږي؟

- هو ولې مې نه یادیږي!

- ښا، ښه درس، خو هېڅ ذهن نه لرې، صنفونه دې یادیږي، اما د ماشومتوب خلک نه!

- څنګه!؟ پوهـ نشوم؟

- څنګه نه، مال څو- څووم نمره یې!؟

محصل ځوان په ویاړ وویل: اول نمبره!

یتیمې نجلۍ شوخه مسکا وکړه: له اخر طرف نه؟

محصل ځوان ژر غبرګون وښود: نه شکر اول طرف نه!

نجلۍ په کړس- کړس وخندل!

محصل ځوان خبره بدله کړه، چې زموږ استاد راغی؛ ښه وخت!

- تر بیا مو الله مل!



یتیمې نجلۍ محصل ځوان وپېژانده، خو هغه د چادري لاندې دغه پېغله هېڅ ونه پېژندله.

وخت نا وخت به یتیمې نجلۍ د محصل احوال اخېسته او کله-کله خو به یې ترې د کور د غړو پوښتنې هم کولې، چې محصل ځوان به په حېرانتیا سره د ښه والي ډاډ ورکړ.

کله- کله به محصل ترې وپوښتل: که ځان راته راوپېژنې، خوښ به شم؛ ځکه زما به دا سودا له منځه یوسي، خو یتیمې به هر کله ورته یوه خبره کوله، چې دا ستا خپله ستونزه ده؛ ځکه خپل نږدې خپلوان او دوستان له فکره وباسي.

ځوان هم کله له نجونو سره داسې خبرې نه وې کړې، د نجلۍ په ناکراره او مایلو خبرو به ډېر نه پوهېده، کله به حېران شو او کله به یې نور ډېر څه ذهن ته راتلل.

د محصل ځوان چې نږدې وخت کې ازموینې وې، د نېټ له کارولو یې لنډ مهال لپاره لاس واخېست، خو په دې نه پوهېده، چې په نوې میَنې شوې پېغلې به څه تېریږي؟

میَنې شوې یتیمې به هر کله په بې صبرۍ سره خپله پاڼه خلاصه کړه او محصل ته په لېږلو- رالېږلو مسجونو به یې سترګې ښخې کړې او هر کله به چې د مینې څپو ډوب کړه، له ځانه سره به یې محصل ځوان ته د خپلې مور په څېر غوصې او کنځاوې کولې.

ثانیه به پرې ساعت او ساعتونه به پرې ورځې تېرېدې او د کلونو- کلونو ورځو خو پوښتنه مه کوه.

نجلۍ ته سم روانې تکلیف پیدا شو، غوښتل یې چې د خپل پلندر (ناسکه پلار) کړې پرېکړه ماته او هلته لاړ شي، چې پلندر یې له شاوخوا دولسو کالو پرېښې دی.

یو شپه یې چې مسجونه کتل، له ډېرې بې کرارۍ یې د لومړي ځل لپاره د محصل ځوان په نشتون، په لیکنې بڼه خپل د مینې ښکاره اظهار وکړ:

ای زما د زړه تښتوونکیه!

زما د زړه په ښکلي بڼ دې ولې د کابل په څېر انقلاب راګډ کړ؟

زما ټولې قیمتي غوښتنې دې په ډېرې اسانۍ وړیا ترلاسه کړې.

د دې په لیکلو یې زړه په درزهار پیل وکړ، خو غوښتل یې چې د جدایۍ په لمبو کې نور هم سخت ژوند ښکاره کړي، نو په ډېر جرئت یې ولیکل:

چې د سترګو تور مې نه وي، په سپینو باندې د مینې لیدل خو څه، چې غړېدل هم نه کیږي؛ ځکه خو مې د سترګو تور او د زړه قرار په نشتون هېڅ څه نه تر سترګو کیږي.

د لږ وخت وروسته یتیمه نجلۍ د هغه په یاد تبې ونیوله او سخته ناروغه شوه.

هېڅ کوم دوا او دعا پرې اغېز نه کاوه. ساعت په ساعت به یې رنګ د درد انځورونو بې اوره سوځوله.

یو ورځ یې کنول په لاس موبایل راواخېست او چټ کې یې ولیکل:

ای بې پروا!

د خپل ژوند په جوړ شوي کتاب کې مې ستا د اوسېدلو توري له ډېره وړاندې پر ځای کړي، په جل وهلې تنده مې ستا د مینې څښلو ته خپل لاسونه کچکول کړي او له ربه دې وصال غواړم.



شوخ ژوند د یتیمې نجلۍ په سوچونو او خیالونو بدل شو، هره ورځ به ډاکټر ته د ستنې کولو لپاره تله.

یوه ورځ په پاکټ کې پیچکارۍ په لاس، په هماغه لار ډاکټر ته روانه وه، چې ناګهانه یې په هماغه سایکل سترګې ولګېدې، نېغه ودرېده.

سترګې یې پرې ښخې کړې، ګوري چې هماغه محصل ځوان زنګېدلی او په ډېرې پرېشانۍ د سایکل پایډل وهي.

د هغه په لیدو یې بدن بې واکه او زړه یې د خوښۍ ټوپونه شروع کړل. د نږدې کېدو سره سم یې په قصدي ډول د سایکل مخې ته ورمنډه کړه، د ځوان پام کېدو پورې یتیمه نجلۍ له سایکل سره ولړېده.

محصل ځوان چې ازموینو هم خواشینۍ کړی و، لا پسې ورخطا شو. په تکراري ډول یې له هغه د ښه والي پوښتنه کوله.

نجلۍ په ډېر ناز او مینه ناکې غصې د ژوبلېدو خبره وکړه.

محصل ته غږ هماغه پخوانۍ ښکاره شو.

د ځوان دې پوښتنې سره، چې آیا ډاکټر ته دې بوځم؟

نجلۍ په غصې وویل:

هو، ما ډاکټر ته بوځه، زه هېڅ ښه نه یم!

څه د پلار دښمني دې راسره ده، چې دا دوهم ځل دې په سایکل ووهلم!؟

ځوان خپل سپورتي سایکل له غوړه نیولی د نجلۍ سره په پښو د ډاکټر پر لور روان شو.

هغه پوهېده، چې نجلۍ دومره نه ده ژوبله؛ خو کېدای شي، بل څه به ویل یا کول غواړي.

د ډاکټر دوکان ته په نږدې کېدو سره محصل نجلۍ ته په مسکا کې وویل:

پوهېږم، چې دومره نه یې ژوبله شوې، که هر څه ویل غواړې ووایه!

ځم، چې ازموینه مې ناوخته کیږي؛ زما دا اخري دوه ازموینې پاتې.
نجلی چې زړه یې بې واره ګیلې کولې؛ نه یې غوښتل، چې دخپلې خپلوۍ له اړیکې یې خبر کړي.
مخ پټ یې ورته د درملتون مخ کې دا څو ټکي له خولې ووتل، چې د نیمګړي لارې ملګریه!
په دې زخمي او ناروغ زړه مې ستا د مینې هر توري پسې د عشق قاموسونه پلټلي او له رب نه ستا په ډېرو غوښتلو مې په لپه کې ګرمو اوښکو اتم اسمان جوړ کړ.
د پوهنتوني زویه!
ستا د یو نظر په اشاره مې ځان ته ځان نه ویل، خو ته مار د لستوڼي او یا هغه غل وې، چې له کوره آن د لمانځه جای نماز باندې هم سرپه نه کوي.
د نجلی له خبرو داسې مالومېده، چې د هغه په زړه کې پېغلتوب او مینتوب لاسونه یو کړي او غواړي، چې له دې محصل ځوانه د تېر درد غچ واخلي.
زړه یې د خپل مېَن په لیدو په مستی او شور پیل کړی و. هېڅ یې د محصل ځوان د لیدو توان نه درلود او د مینتوب په رنګ، رنګ شوي پېغلتوب ورته د محصل ځوان غېږ کې نیولو امر کوو، خو پښتونواله یې پرې ځواکمنه وه؛ نه یې غوښتل، چې په نیمګړي بازار کې خپله نیمګړې مینه بدنامه کړي.
په غصې یې ووېل:
په ملګرتیا کې راته پاتې راغلې؛ ولې دې نیت بند کړی دی؟
محصل چې هره خبره یې په مسکا وه، په هرې مسکا به یې د یتیمې نجلی د زړه بندونه پرې کول.



دا چې له نجونو سره یې داسې خبرې کله نه وې کړې، په خپل سر یې د شرمندګۍ لاس راکاږه او په مسکا یې ووېل:
ولا ازموینې مې دي، هلته رقابت و، بیخي مې نشو کړای، چې له درسونو سره- سره مجازي دنیا کې هم سر ښکاره کړم.
نجلی چې د محصل عاجزې خبرې واورېدې، په کرار یې ووېل:
وګوره!
زما دومره سودا وه، چې آن بدن مې ناروغه شو!
محصل چې دا خبره واورېده؛ له ځان سره ورو یې په مسکا ووېل:
دغه دی ځوانه، د مور په څېر دې بله خواخوږې هم پیدا کړه.
د نجلی زړه ټکانونه چې د محصل په لیدو لا ډېرېدل، مسکا یې وکړه او په خندا یې زړه کې ویل:
په ما به ګران یې، که په خپلې مور به ګران یې؟
پــه ایمان یې وایه، که مسلمان یې!
خو په خوله یې ورته زیاته کړه:
د مور ځویه!
هر خواخوږې مور نه وي؛ دوستان، ملګري او بیا د ژوند ملګري لا ډېر خواخوږي جوړېدای شي.
محصل په سترګو کې د تلو اجازه غوښتله، خو یتیمې نجلی د هغه له شتونه د راتلونکي ژوند چارج اخېستو.
محصل د تګ په غوښتنه کې د یتیمې نجلی ساه په ډوبېدو شوه؛ لکه چې د دې ځوان په تګ یې له بدنه روح په تلو وي، خو په امېد لرونکو خبرو یې له هغه د موبایل شمېره وغوښته.

ځوان د مور له ډاره زړه نا زړه په دې شرط چې د شپې له لخوا به د مور او درسونو له امله زنګ نه وهي، نمبر ورکړ.

د محصل تر روانېدو او بیا تر پناه کېدو پورې یتیمې د هغه پر لور سترګې ښخې کړې وې او په زړه کې هغه سره د وړوکوالي یادونو په یادېدو به یې همدا ویل:

خدایه یتیمۍ کې مې د مانۍ دغه دنیا نه غوارمه، هغه ماشومتوب غوارم، چې له خپل مین سره مې په کې ښکلې لوبې کولې.

له ناروغۍ زنګېدلې نجلۍ د خپل عشق په لیدو مسته د کور په دروازې ننوته.

په ډېرې ناکرارۍ یې انتظار کولو، چې شپه ښه ناوخته شوه؛ نا ارامه زړه دې ته مجبوره کړه، چې ځوان ته زنګ ووهي.

د ځو- ځو ځل زنګ تللو وروسته یې موبایل هوکی شو.

سلام یې وکړ.

نجلۍ غاړه تازه کړه، خو ځواب یې ورنه کړ.

ځوان بیا غږ وکړ:

- السلام علیکم!!!

نجلۍ د محصل ځوان غږ په اورېدو ډېره وارخطا شوه، ټول بدن یې په رپېدو شو؛ ژر یې د خپل پېغلتوب شوخۍ ته پام شو، په بیړه یې وویل:

له ټولو رحمتونو سره علیکم! د مولوی صېب زویه څنګه یې؟

محصل وخندل، مننه ښه یم؛ تاسې؟

د نجلۍ په بدن کې د مینې لېونی احساس او پښتنې حیا د یو بل پرزولو هڅې کولې، فکر کې یې بېلابېلو خبرو د بېلابېلو فکرونو طرحې غځولې،



خو د دې لپاره چې محصل ځوان ته کمزورې مالومه نشي، په خبرو یې پیل وکړ:

په سایکل او زړه، زخمي شوې یتیمه نجلۍ!

- ښاّ- ښه ، خو تاته ما ویلي و، چې زه د شپې درسونه وایم!

نجلۍ چې مینې تر جنونه رسولې وه، مړې خولې پرې راماتې شوې لاسونه یې بې حرکته شو، په ارام غږ یې وویل:

هو- هو، خو غوښتل مې چې د ازموینې په اړه درنه وپوښتم، چې پارچه مو څنګه وه!؟

- ښه وه، خو ستا له لاسه لږه ناوخته شوه!

- هو کنه، ته چې په سایکل کېنې، کله درته موږ غوندې واړه خلک ښکاري، ته به وایې که په کام اېبر تیاره کې ناست یې!

- هههه لېونۍ لورې، خلک قران وهي، ته الف، بې، تې ووهلې!

نجلۍ هم مسکا وکړه: هو کنه پوخ پتیره! ځکه خو سپاره په لاس ستا پسې خوشې یم!

- ښه نو زه اوس درس وایم، ازموینه مې هم ښه وه، کور دې ودان مننه!

نجلۍ دې پارسي سندرې، چې:

بی تو یخ بسته و پرده است، مگر خانه ی من؛ یار نازدانه ی من ...

د ځوان فکر خپل کړ، ژر یې د چاپېریال بدلون لپاره ترې د کورنۍ د غړو پوښتنې وکړې:

کورنۍ مو څنګه ده؟

مور، پلار، خوېندې، ورونه؟

نجلی د پلار په نوم زړه راډک شو، اوږده ساه یې واخیسته او د هغوی د ښه والي ډاډ یې ورکړ.

بېرته نجلی هم ترې پوښتنې پیل کړې:

څنګه ده ستاسې کورنی؟

مورجانه، پلارجان، خویندې؟

- شکر دی، ټول- رک روغ دي!
- او ورونه خو هسې نه هم نه لرې!
- محصل ځوان وخندل، چې ته څه پوهه شوې!؟
- نجلی هم په خندا کې محصل ځوان بدرګه کړ،چې بس پوهه شوم نو!
- هسې ډېره هوښیاره راته ښکارې!

نجلی په کړس- کړس وخندل، هوښیاری کې خو مې شک نشته!

ای رښتیا اوس هم په لوبیا پسې سر ورکوې!؟

د محصل خوله نوره هم په مسکا کې وتښتېده : ښهآ نو؛ ښه خو دې مطالعه کړې یم!

- هو کنه، خلک خو داسې نه کوي، چې څوک ورته غټ- پټ زړه ورکړي، خو هغه بیا بې خبره نېټ بند او احوال هم نه ورکوي!
- ښه نو ګپ خوږ دی، خو زه درس وایم، چې اخري ازموینې ته تیاری ونیسم، بیا به خبرې وکړو، سمه ده؟
- سمه ده، مننه ، خو ای!
- هآ!
- په اردو خو هسې هم پوهېږې کنه!؟
- ښه له دې هم خبره یې!



- هو نو، دا واوره بیا څه!
- څه واورم؟
- دا دی اوس یې درته چالانوم:

ملے هو تم ہم کو، بڑے نصیبوں سے

چرآیا هے مے نے، قصمت کی لکهیروں سے

- ښه مننه وامې ورېده، ښه عاشقانه موډ خو لرې!

نجلی وخندل: هو کنه، غله دې خدای اصلاح کړي، خلک مالونه پټوي، خو دا غله په زړونو پسې خلک په سایکلو وهي!

محصل وخندل: ورسېدم، مننه! نور به درس ووایم.

د موبایل بندېدو او خدای پامانی سره سم نجلی د ځوان انځور کتلو پسې نېټ خلاص کړ او سترګې یې د هغه په انځور ښخې کړې. د زړه سره په جرګه یې په انځور د خپل زړه پرهرونه ټکورول او د سترګو په لیکه یې د ځیګر په غوړېدلي تېغر د دې انځور د نقاشی هڅې کولې.

د سترګو اړیکې یې د فکر په پرتله له زړه سره اوس ډېرې ټینګې شوې وې؛ څکه هر ځل به یــې انځـور ته په کـتو د فکر پرځای، د زړه خبرې ډېرې په خوله راتلې.

نجلی به خپل موبایل نور داسې ځان سره ګرځولو؛ لکه د نادیده ګانو یې چې اوس- اوس لیدلی وي.

وخت وروسته چې څوشپو او ورځو یو بل وپرځول، د محصل ځوان ازموینې خلاصې شوې.

یو مازیګر یې د خپلې مخ پاڼې د لیدو په پار نېټ ته سر ښکاره کړ.

د مخ پاڼې خلاصولو سره سم محصل ځوان ته بې شمېره د مینې او غوصې پیغامونو ښه راغلاست ووایه.

د یتیمې نجلۍ د شعرونو، غوصو او مینه ناکو پیغامو اخري هغه دا وه:

چې ته نه یې نو بل څوک دي راته وایه
زه دا هسې لېونی او مجنون چا کړم؟

محصل ځوان خپله بې احساسي او د نجلۍ ورخطايي چې کتله، پر نجلۍ یې د لېونۍ گمان کاوه.

د پیغامونو په کتو یې د نه باور مسکا وکړه او په خپلې مخ پانې یې یو پوسټ وکه، چې له خپلو زړونو د بازار رومیان مه جوړوئ! هر چاته یې پاکټ کې مه اچوئ! ځکه ممکن د چا به سلاته پکار وي او د رومي په څېر زړه به سلاته شي.

نجلۍ د پوسټ په لیدو، د دې پر ځای چې هلته څه ولیکي، شخصي پیغام کې یې اردو بیت ورواستاوه:

کله-کله خو به یتیمې نجلۍ له محصل ځوان څخه وپوښتل، چې زما د دومره مینې پر وړاندې ستا زړه څنگه خاموشه پاتې؟

محصل ځوان به مسکا وکړه او ویل به یې: آب را دیده، موزه کشیده!

په پټیو سترگو مزل له نورو سره څه، د ځان سره یې هم نه کوم.

ته راته ډېره له مینې ډکه ښکارې، تل راته خاندې، سم لکه زما د مور؛ په درد مې دردمنه او په خوښۍ مې خوښېږې، خو نه پوهېږم، چې ولې زما د مینې دروازه تړلې؟

نجلۍ د تل په څېر په کړس خندا وکړه:

د نیا لمسیه! ښه پوهېږې، خو ځان دې په ټگۍ اچولی!

محصل مسکا وکړه؛ په څه ؟

- په دې چې زه درسره له ځانه هم ډېره مینه لرم!!!



- توبه خدایه! نه فکر، نه شرم، نه لحاظ؛ یو دم راته وایې، درسره مینه لرم!؟

نجلۍ په خندا کې په دې خبرې محصل ځوان تر تاثیر لاندې راوست او په مسکا یې وویل:

پوخ پتیره!

ما به هم وگورې، بهانې به دې هم ختمې شي! خو داسې په اسانۍ هم نه؛ ځکه زموږ تر منځ یو لوی سفر او ځواکمن موانع وجود لري. دعا کوم، چې خدای دې دا موانع ختمه کړي، بیا به ستا او زما په منځ کې هېڅ کوم خنډ وجود نه لري.

محصل ځوان هک- حېران شو او په ډوب فکر یې د دې موانع د ښودلو غوښتنه وکړه، خو نجلۍ د خپلې نازکې مینې په باریکو تارونو وویرېده، چې هسې نه د دې خبرې د اورېدو برداش ونه لري او د دې تار د غوڅېدو باعث وگرځي. د نجلۍ زړه له خولې سره په اړیکه کې یو څو کلیمې وویلې:

زما تمه به وفا وي، خو ته به بیا جفا کړې؛ د دې مینې اور به مې هسې وسېزي؛ پیغور به شي، زړه به مې هم له دغې مینې تور شي. هر څوک د محبت سندرې وایي، خو هېڅ مالوم نه دی چاته زور د محبت؛ ځکه ما مې د ټولگیوالو خبرې او کیسې اورېدلې.

داسې هم نه وایم، چې وېرېږم؛ که مې سر په کې ځي، هم پروا یې نه کوم، لور په لور به د محبت نوم خپور کړم، خو په خپل وخت، اوس نه!

ځوان هم د خبرو وار واخېست:

ښه نو ته هم خبره یې، چې مینه شلېدلی کټ دی او په دې شلېدلي کټ کې هر څوک خوب نشي کولای او ته خو له دې هم ښه خبره یې که نه،

چې زه د موره یو او ډېر نازولی یم، هېڅ مې خوله خفګان ته نه جوړېږي، نو ځکه مې زړه رانه مور په بکس کې ایښی دی.

نجلۍ په کړس- کړس خندا کې وویل:

پوهېږم پوخ پتیره! ماته له ماشومتوبه مالوم یې، هغه چې د نجونو سره به دې لوبې کولې، ته باور وکه کنه!

کله چې تېر وخت راپه یاد کړم
دېوال ته شا کړم، زړه ته کېږدم زنګونونه

ځوان چې د خپل ماشومتوب کیسې له نجلۍ اورېدلې، ډېر به حېران شو؛ هر کله به یې ترې پوښتل، ته څه پوهېږې، چې زه داسې وم!؟

ډېره ځله به نجلۍ د خبرې بدلولو په پلمه دا بیت ووایه:

زما د زړه په دېوالونو
ستا انځورونه خدایي چاپ شوي دینه

ځوان به چې د سم ځواب په ترلاسه کولو ونه توانېد، غوصه به ورغله او په ترخه خندا به یې وویل:

هسې خو ښه چهارسوبیس یې؛ اما بد بختانه زه بیا دومره چلونه یاد نه لرم!

نجلۍ به ژر غبرګون وښود، چې ولې به چهارسوبیس یم، رښتیا وایم کنه! او رښتیا هغه کور کې مو اوس هم بېره شته که نه!؟

هغه ټال کې اوس هم زانګې؟ که نه اوس درته ځان لوی سړی ښکاري!؟

محصل ځوان به چې نور هم د حېرانۍ په فکر شین شو، په ماته لهجه به یې ور غبرګه کړه:

نا مړې هغه بېرې سر وخوړ. باد راغی، چپه یې کړو، ټال هم لاړو؛ ما خو به کله- کله ټال خوړ، خو ستا په څېر د هغو نجونو مستې خرابه شوه، چې د



اوبو وړلو لپاره به زموږ کور ته راتلې او بیا به یې زما له خویندو سره یو ځای ټالونه خوړل.

- هو کنه؛ هغه چې تا سره به نورو څو وړو- وړو نجونو د وړو کاڼو ګوزارونه کول!

محصل ځوان بیا د حېرانتیا مسکا وکړه، چې ته خو دسې یې؛ لکه زموږ د کور پېرۍ چې اوسې؛ ځکه هر څه درته مالوم دي، خو ته ماته مالومه نه شوې.

یتیمې د شوخۍ خندا وکړه، چې مه کوه، کنه اوس درته د کورنۍ د ټولو غړو نومونه هم اخلم!

د مور دې، د هغو شپږو خوېندو، چې څو درنه کشران او څو درنه مشران دي!؟ پلار، نیا، نیکه او نورو ټولو ترونو!

هلک چې لا د شک په فکر ډوب شو، په مسکا یې وویل:

د مور، نیا او خوېندو له نومونو تېر شه، یواځې زما د ترونو نومونه واخله!

- سمه ده، اول ستا پلار!

محصل ځوان وخندل، چې ښآ

- ولې خاندې، غلط وایم؟
- نه- نه دوام ورکه!
- دوهم : امممم
- وایه کنه!
- نجلۍ د خپل پلار نوم په اخېستلو ستونی ډک شو، پلار ته په فکر کولو یې زړه کې وویل:

پلاره! ستا په یاد مې سترګې په ډېرې خوږېدو ړندې شوې، چې دغه ړندې سترګې به تر قیامته ونه غړېږي.

سترګو ته یې اوښکې په جرګه شوې، په ډنډو سترګو یتیمې ته یو شی څو-څو ځایه ښکارېده.

ځوان چې د نجلۍ له دغه درده نا خبره ؤ، په خندا یې وویل:

څه کنه، ولې چپ شوې؟ یا چې فکر دې سرچپنګ کې دی!

نجلۍ په ژړغوني غږ وویل، نا ولې نه، زده مې دی! خو . . . دلته بله خبره وه.

- دا ولې؟ ستا غږ خو ژړغونی غوندې شو! څه درباندې وشو!؟
- هسې زړه مې خراب شو!

محصل ځوان دناخبرۍ مسکا وکړه، چې زړه دې خراب شو او که ازموینه کې پاتې راغلې!؟

نجلۍ چې ضد راواخېسته، زړه یې ټینګ کړ، غاښونه یې وچیچل او په وچو شونډو یې وویل:

کوم تره نوم درته واخلم؟

هغه چې شهید شوی او که دا چې ژوندی پاتې؟

- واییی، ښه نو دومره هم خبره یې؟ سمه نیا یې؛ هغه خو ډېر پخوا شهید شوی، آن شاوخوا شل کاله کیږي، ته نو د هغه له شهادته څه خبره یې؟

نجلۍ په خپلو اننګو د روانو اوښکو لاره د لاس په کش کولو بدله کړه او په ډک زړه یې د څه ویلو هڅه وکړه، خو ژړا پرې غلبه وکړه، هېڅ یې ونشو ویلای، موبایل یې بند او په کریکو یې پیل وکړ. د خپل پلار، د نالیدلي یاد په تازه کولو کې یې کریکو مور د دې تر خوني راوسته.

د مور له پوښتلو وړاندې یې یتیمې لور غېږه ورکړه او په چغه یې وویل:

مورجانې!



زما پلار جان!!!

نن مې رانه یو چا د پلار جان پوښتنه وکړه! ما ډېره هڅه وکړه، خو د هغه نوم مې نشو وراخېستی. زړه مې په کریکو پیل وکړ، زه هغه ته د پلار نوم څنګه واخلم؟

هغه پلار چې ما یې یو ځل هم لاسونه ښکلولای ونه شول، د پلار جان ویلو تر غېږه مې پاتې نه شو. ما د هغې له خولې، چې زما له پیداینښته وړاندې یې زما مجسمه ستا په مخ انځور کړې وه، د لور جانې ویلو ارمان په زړه پریښی.

د مور یې هم دې یاد زاړه دردونه تازه کړل او په خورا زګېرویو یې د شهید اتل عسکر په یاد له سترګو د مرو اوښکو لارې جوړې شوې.

ځوان پرلپسې مسجونه وکړل، چې غږ دې ژړغونی شو، په دې هیله چې درد دې جدي ونه اوسي.

خو یتیمې نجلۍ د مور په غېږ کې د خپل پلار د انځورولو په هڅه، کریکې وهلې.

مور یې هم د خپل لومړني خاوند هغه د مرګ صحنه او د شهادت اوربدلې کلیمه په ذهن کې انځور شوه، خپله لور یې تر ډېره په ژړا کې بدرګه کړه.

ډېر وخت تېر شو، مور ته یې د ده د پلار هغه اخري خبرې په زړه شوې، چې په ځان او په لورکۍ مې ډېر پام کوه.

په یتیمې لور یې زړه وخوږېد، خپلې اوښکې یې پاکې کړې.

د ډاډ په پار یې د هغه پر سر لاس راښکه او په ارام غږ یې وویل:

لورجانې!

ژاړه مه، ستا پلار جان ته به د رب له لوري همداسې مقرره وه، کنه ولا که به زما هم هېڅ کله له زړه نه وځي.

دا یو پټ غم دی، چې زه یې په زړه تېروم.

هغه زموږ نه په سفر کې دومره لرې تللی، چې هېڅ یې د بېرته راګرځېدو لاره نشته، کنه زه پوهېږم؛ موږ به هم هغه ته ډېر- ډېر یادېږو او الله دې وکړي، چې د جنت حورو او نعمتونو له امله یې موږ ونه اوسو هېر کړي.

هغه په تلو کې دا فکر ونه کړ، چې آیا زه به څنګه له هغه پرته ژوند وکړم؟ بې له هغه به څنګه خپل وجود ته ساه داخل کړم؟

که یې دومره لنډه او لړه مینه کوله، ماته به یې ویلای وای، څو ما ورسره د دومره مینې جرئت نه وای کړی.

هغه نه پوهېده، چې په تګ یې زما په ژوند کې څومره بدلونونه راځي!؟

په دې دنیا خو یې له موږ سره اړیکه پرې کړه، خو موږ په هغه دنیا کې د هغه د نیمګړې مینې د پوره کېدو امېدونه لرو.

که هر چا درنه د پلارجان په اړه دې پوښتنه کوله، په ویاړ سره وایه، چې پلارجان مې د هېواد په ننګه جل وهلي ګلانو ته خپلې وینې ډالۍ کړي. هغه د شهیدانو په کتار کې د دې دنیا سره خدای پاماني کړې.

په دې هېڅ خفګان مه کوه!

خفګان دې هغوی وکړي، چې د پلار مړینه یې په دنیا کې د هغوی شرم ګرځېدلی او هېچاته د پلار په اړه څه نه شي ویلای. ستا پلار خو د ویاړونو او کارنامو په کولو د شهادت جام نوش کړی.

وخت وروسته چې د نجلی زړه یو څه راحت شو، فکر یې بیا د خپل مشر- تره په مین شوي زوی شو، چې دې ورسره د ماشومتوب څلور کاله تېر کړي وو.

دا چې کله دغه نجلی یتیمه شوه، کورنی یې مور، چې د شهید عسکر ښځه وه، د ده بل تره ته په نکاح کړه.



د دې د ژوند سختېدا له امله یې نیکه دا نجلی خپل مشر- زوی کره، چې ښار ته نږدې اوسېدل، ولېږله. هلته یې د ماشومتوب، له درې کلنی تر اووه کلنی ژوند د همدې محصل ځوان په کور کې تېر کړی وو.

بیا د ده پلندر له ټولې کورنی سره خپلې اړیکې شکولې وې او په خپل منځ کې به یې هېڅ تګ- راتګ نه درلود.

نجلی بېرته زنګ ور وواهه، له سلام- کلام وروسته تر محصل ځوان د صحت پوښتنه وکړه؛ یتیمې نجلی ورته د ښه صحت ډاډ ورکړ.

ځوان بیا مسکا وکړه او د تېرې پوښتنې تکرار یې وکړ.

د نجلی وچې سترګې بیا ډنډ شوې او په زړه کې یې پټه غصه وکړه، چې لېونی زویه!

ولې مې راته شهید پلار مخته- مخته کوې؟

خو په خوله یې ځان کنټرول او په ډاډه غږ یې وویل:

هو د هغه شهید تره نوم دې درته واخلم او که نه د ورپسې ترونو؟

- واخله د هغه شهید تره نوم هم واخله، چې یاد یې تازه شي!

- ښه، نو د هغه نوم اتل و او ورپسې ...

ځوان د نجلی خبره غوڅه کړه، چې د اتل کاکا مې اولادونه و او که نه؟

نجلی وویل: هو یوه خپرنه غونډې لور یې وه.

- چپ شه، د ګندې لورې! چې بیا داسې ونه وایې، هغه زما د خور په څېر ده، موږ په ډېرې خوښی ماشومتوب تېر کړی؛ خدای دې وکړي، چې په ژوندوني مو مرور تره پخلا شي او زه مې خپله خوږه د تره لور چې ډېره راته ګرانه ده، وګورم!

نجلۍ د خور نوم په اورېدو په زړه کې بې غږه چاودنه وشوه، په ځان کې یې شته وینه وچه شوه، د بدن وېښتان یې زیږ شول، رنګ یې تک- سور او فکر یې د حېرانۍ په ټکر کېناست.

د ژوند ټول درد یو خوا، خو د دغې خبرې زغمل نجلۍ ته په بلې خوا وه.

د پلار زوړ غم په تازه والي دې خبرې د هغه په زړه کې د بل درد کلا جوړه کړه.

ژر یې د ځوان له خولې د خبرو اخېستلو په پار پوښتنې پیل کړې:

ښه نو، هغه درته ډېره ګرانه وه؟

- هو ولا؛ په ژوند یې د بري لمن خوره اوسه!
- اوس دې هم خوښېږي؟
- بالکل، خدای دې زموږ تره پخلا کړي، حتماً ورځم!
- بیا به درته هماغه نجلۍ وکړو، څنګه!؟
- نآ، داسې مه وایه، زه دسې فکر هېڅ نشم کولای او هغه ته خو بیخي نه!

د نجلۍ په زړه کې د یوه نوي غم لمبو، غړمبار جوړ کړ. هڅه یې کوله، چې په غیر مستقیم ډول ځوان ته قناعت ورکړي، خو هر ځل به په خپله دې هڅه کې ناکامه شوه.

یتیمې نجلۍ ډېره هڅه کوله، چې ځوان پرې د تره لورګرۍ په موضوع اوس مهال لپاره نا خبره اوسي؛ ځکه خو یې نه غوښتل، چې خپله څېره ورښکاره کړي او نه ورته د خپلې شجرې په اړه څه ووایي، خو زړګي کې ډېره ترپېده، څو له ناخبره تره زوی سره چکرې ووهي او د ژوند ډېره برخه د د هغه له نوم سره یو ځای تېر کړي.



وخت ناوخت به یتیمې نجلۍ د خپلې مینې خبر اخېسته او د زخمي زړه ټکورونه به یې کول.

دغې پټې او یو طرفه مینې ډېر وخت دوام وکړ، آن تر دې چې څو اخترونه هم په منځ کې تېر شول، په هر اختر کې به یتیمې نجلۍ محصل ځوان ته ځانګړې ډالۍ اخېستلې او په یو نه، یو ډول به یې ورته سپارلې.

هر کله به یتیمې نجلۍ له خپل پلندر څخه په ټوکو کې د نیکه کور سره د بېرته اړیکو جوړولو غوښتنه کوله؛ هغه به د دې دغه غوښتنه رد کړه، خو په زړه به یې د کلونو- کلونو راهیسې نالیدلي ورونه او پلار راوورېدل، سخت به وددردېد.

هېڅ پلمه نه وه، چې د یتیمې نجلۍ پلندر د خپلې کورنۍ سره یوځای کړي.

یو ورځ چې د یتیمې نجلۍ پلندر له یو دوکانه سودا کوله، د یو بابا دوکان ته ننوت، د دوکاندار له لوري د بابا نوم واخېستل شو، په نوم سره د ده زړه په درباري شو. غلي غوندې یې ور وکتل، ګوري چې د کلونو- کلونو نالیدلی پلار یې خواته ولاړ دی.

د پلار توره- سپینه رېره یې تکه سپینه شوې وه، په مخ یې کونځو پرده غوړولې، هغه ځواکمنتیا یې له لاسه ورکړې، خو قهرجنه څېره یې لا په خپل حال پاتې ده.

په ډېرې بې صبرۍ یې غوښتل، چې په کلونو- کلونو جدا شوی پلار غېږ کې ونیسي او په ډک ښار کې په چغو- چغو وژاړي، خو خپلې پښتو دې کار ته اجازه ورنه کړه او په زبون حالت کې یې یواځې تماشا کوله، د پلار یې خپل زوی ته هېڅ پام نه و، له دوکانداره یې سودا وکړه؛ دا چې له دوکاندار سره یې کاته لرله، نو د پېسو لیکلو غوښتنه یې ترې وکړه.

پلار یې لاړ، خو د زوی یې په شنه اسمان، زړګي کې رڼې ورېدل پیل شو.

ځان یې ناخبره واچوو او له دوکانداره یې د خپل پلار په اړه د یو عام سړي په ډول یو عالَم پوښتنې وکړې؛ هغه ورته د بابا سخته ستاینه وکړه.

له ډېرو خبرو وروسته د بابا زوی ( یتیمې نجلی پلندر) سودا په اوږه د کور پر لور روان شو.

کور ته په ننوتلو یې له سترګو اوښکې روانې شوې، کورنۍ یې د اوښکو په تړاو ترې وپوښتل؛ په ډکو سترګو یې مسکا وکړه او زیاته یې کړه:

نه پوهېږم، چې د خوښۍ او که د درد اوښکې زما له سترګو نن کډه کوي!؟

نن مې د کلونو- کلونو جدا شوی پلار د ښار په یو دوکان کې ولید؛ زړه مې ډېر ناراحته شو، په مخ اوږده ږیره یې ټوله سپینو ډکو نیولې وه، هوار مخ یې ګونځو محاصره کړی و.

هغه ځواکمن پلار مې خپل ډېر ځواک له لاسه ورکړی و؛ غوښتل مې په ډکو سترګو یې غېږ کې ونیسم، خو له قهرجنو سترګو مې وېره راغله، پښتو مې وکړه او هېڅ مې ورته ځان ونه پېژانده.

د کورنۍ غړو هم خپلې سترګې د بابا په یاد نم جنې کړې، یتیمې نجلۍ په ډېرې بې صبرۍ ورغبرګه کړه:

خو په غېږ کې به دې نیولی وو کنه!

هغه خپل نالیدلي خپلوان به مو ټول خپل شوای وای.

پلندر یې د افسوس سر وښوراوه، چې زما هم اوس ارمان راځي؛ کاش چې غېږ کې مې نیولای وای.

یتیمه نوره هم بې صبره شوه او پلندر ته یې مسکا وکړه، چې خبر دی، کور ته به یې ورشو!

پلندر یې تندی تریو کړ او د ناسکه لور خبرې یې پرې کړې:



نا هلته نشو تللای؛ ځکه خلک به وایي، چې ځوانې یې خپله وه او اوس یې په زوړ ځان، ځان په زوړ پلار تاوان کړ.

خو خېر! وخت په وخت به یې له همدې دوکانداره احوال پوښتم؛ ځکه له هغه سره یې کاته لرله.

نجلی دې ټولو خبرو ته د بلې زاویې نه کتل او غوښتل یې، چې څنګه کولای شي، ځان تر خپلې مینې ورسوي.

وخت نا وخت به د یتیمې نجلی پلندر د خپل پلار احوال په غیر مستقیم ډول له هغه دوکانداره پوښتل. د پلار له امله دې هم دوکاندار سره کاته پیل کړه او وخت- ناوخت به یې په قرض او پور سودا پېرله.

دوکاندار هم د وخت په تېرېدو پرې پوهـ شو.

یوه ورځ یې په زړه کې وګرځېدل؛ څنګه کولای شي، دغه د کلونو- کلونو جدا شوي پلار او زوی سره یو ځای کړي؟

دوکاندار د بابا په راتګ یوه ورځ پلمه جوړه کړه، چې وکولای شي د دوی اړیکه یو څه ورغوي، نو بابا ته یې وویل:

باباجانه! سودا ژر وکړه، چې زما یو ملګری سخت ناروغه دی، غواړم پوښتنې ته یې لاړ شم.

بابا چې جرګه مار سړی و، پوښتنې یې پیل کړې:

څوک دی؟ څه یې نوم دی؟ او د کوم ځای دی؟

زه به هم درسره لاړ شم، ثواب به مې وشي!

د دوکاندار له لوري بابا ته د هغه د جدا شوي زوی نوم په اورېدو غوني زیږه شول. د پوره ادرس اخېستلو وروسته یې وویل:

ولا زه خو لړ کار لرم، ته ماته سودا راکړه، چې زه کور ته لاړ شم.

**دوکاندار د خپل منتر په ناکامېدو زړه کې سخت خواشینی شو، بابا ته یې سودا ورکړه؛ بابا لاړ، خو دوکاندار پر بابا د ناکامېدو وروسته د هغه زوی باندې د داسې یوې خبرې جوړولو په فکر کې شو.**

**بابا کور ته په تلو سخت خواشینی او په دې فکر کې و، چې څنګه به د خپل زوی احوال پوښتنې ته ورځي؟**

**هېچاته یې هم ونه ویل؛ یواځې یې خپل مشر- لمسی چې همدا محصل ځوان و، خبر کړ، څو د تره کره د تګ تابیه ونیسي.**

**محصل ځوان هم سخت خوښ شو، په خاموشۍ یې ځان تیار کړ او خپل بابا سره د هغه ادرس پر لور روان شو، چې دوکاندار یې بابا ته ورکړی و.**

**دروازې ته په رسېدو یې بابا خپل لمسي ته وویل:**

**زویه! که هغه هرڅه وسې وکړي، خو کور ته به نه ورننوځو، حجره کې به کېنو؛ ځکه زه مشر او بیا پلار یم، باید زما زوی ماته راغلی وای، خو دا چې ناروغ دی، مور یې فقد پوښتنې لپاره راغلی یو، چې هم مو ثواب وشي او هم د پلارګرۍ حق ادا کړو.**

**لمسي یې د تایید سر وښوراوه؛ دروازه یې وټکوله، خو څوک راونه وتل، د بیا ټکولو سره سم دوازه خلاصه شوه، د یتیمې پلندر د خپل پلار په لیدو په بې واکۍ له سترګو اوښکې روانې شوې او د پلار په غېږ کولو یې خپل پلار غېږ پورې ټینګ ونیو، لمسي یې کله تره او کله بابا ته کتل.**

**دواړو د یو بل په بدرګه ښې اوښکې توی کړې، د کورنۍ د غړو سودا شوه، د یتیمې مور نجلۍ ته وویل:**

**ته ورشه لورې د دروازې له چوده وګوره، چې څه خبره ده!؟**

**نجلۍ د دروازې په چود کې د خپل میَن (تره زوی) په لیدو په بې واکې ډول منډه کړه او مور یې غېږ کې ونیوله، چې مور جانې!!!**



**د تره زوی مې مور کره راغلی!!!**

**مور یې هک- حېرانه ورنه وپوښتل:**

**د تره زوی!؟**

**- هو مورې د مشر تره زوی مې!**

**په دې وخت کې یې فکر کار وکړ، چې زه یوه پېغله یم، مناسبه نه ده چې د مور مخ کې خپله مینه داسې ښکاره کړم، ژر یې خبره بدله کړه، چې بابا مې او د مشر تره زوی مې مور کره راغلي.**

**مور به لخبره بېرته سره یوځای شو او د خپلوانو له نعمته به برخمن شو.**

**مور یې هم له خوښۍ په سترګو کې اوښکې راغلې، دواړو دروازې ته منډه کړه. د دوی د منډې سره د یتیمې ناسکه وروڼه او خوېندو هم ځانونه تر دروازې ورسول.**

**خو هغوی نه ول، هک- حېران ودرېدل، د لږ ځنډ وروسته یې پلندر په دروازې راننوت؛ سرو سترګو ته په کتو یې مېرمنې ځان په ناخبرۍ وواهه او پوښتنه یې وکړه، چې څوک راغلي!؟**

**- مېلمانه دي!**

**یتیمې نجلۍ په ډېرې بې صبرۍ وویل:**

**دروغ مه وایه؛ بابا مې راغلی!!!**

**پلندر یې په سرو سترګو مسکا وکړه، چې بابا دې راغلی، خو د مېلمه په ډول؛ ځکه که کوربه وای، کور ته به راغلای وای.**

**مېرمنې یې ورته وویل:**

**خو کور ته به دې راوستلای وای کنه!**

**خاوند یې ورته کیسه وکړه، چې ډېر مې ورته وویل، خو هغه ویل:**

یواځې ستا پوښتنې ته راغلی یم، چې خبر شوم، ناروغه شوې یې؛ بېرته ځو. فکر کوم چا ورته له دروغو ویلي، چې زوی دې سخت ناروغ دی!

ټولو غوښتنه وکړه، چې مورِ ورځو، خو د یتیمې پلندر د دې لپاره چې پلار یې دې سره ډېرې اوښکې توی کړې وې، د نورو اوښکو تویولو پېرزو یې په خپل پلار نه وه، نو ځکه یې دوی له ورتللو منع کړل.

د یتیمې نجلۍ ډېر ارمان و، چې له بابا وړاندې خپل د تره زوی وګوري، خو هېڅ چاره یې نه لرله.

کور کې د حجرې مخامخ د انګورو تاک و. په یتیمې نجلۍ باندې د مینې ځپو ډېر زور وکړ او دې ته یې مجبوره کړه، چې د انګور تاک له ځېرې د خپلې مینې دیدن وکړي.

د ختلو سره ورو- ورو یې ځان تر هغه ځایه ورساوه، چې د حجرې منځ ترې لکه د لاس ورغوی داسې ښکارېده.

د خپل مین د ډېر دیدن وروسته پرې سر وګرځېد؛ غوښتل یې، چې په پرده کې بېرته ښکته شي، چې یو دم د انګورتاک له برنډې نه لاندې پر ځمکه ولوېده، چغه یې کړه او بې هوښه شوه، ټوله کورنۍ پرې خبره شوه؛ ترې راتاو شو.

مور یې یو ماشوم ته وویل، چې منډه دې پلار خبر کړه، چې لور مې له برنډې ولوېده، بې هوښه شوه.

د هغوی خبرېدو سره سم ټولو رامنډه کړه. محصل ځوان له ټولو وړاندې ځان ورساوه. ټولو پرې اوبه اچولې، چې د لږې مودې وروسته یې مړې سترګې وغړولې.

د سترګو غړولو سره سم یې په خپل مین سترګې ولګېدې.



د دې لپاره چې محصل ځوان یې په خوا کې پاتې شي، خپل دردونه یې هېر کړل او په تمثیلي ډول یې بېرته د بې هوښۍ په پلمه سترګې پټې کړې.

بابا یې محصل ځوان ته د موټر تاوولو خبره وکړه، چې روغتون ته یې بوځي.

د موټر تاوولو سره سم محصل بېرته راغی او یتیمې ته په تکرار ډول همدا ویل:

کاکا لورې پاځه!

خورکۍ وګوره مورِ راغلیٍ یؤ!

دا چې یتیمې نجلۍ خبرې اورېدلې، د خورکۍ په اورېدو یې د زړه وینې په جوش شوې، خو هېڅ غږ یې نشو کولای؛ ځکه چې خلک پرې پوهـ نشي.

بابا یې لمسي ته امر وکړ، چې د تره لور دې اوچته کړه او په موټر کې یې واچوه، چې روغتون ته یې بوځو.

د محصل ځوان له لورې نجلۍ په غېږ کې اوچتولو سره یتیمې اوږده ساه واخېسته او په زړه کې یې د ټول ژوند په وړاندې دغه صحنه ځاروله.

هېڅ نه پوهېده، چې څه وکړي؟

لاس یې د تره زوی له غاړې تاو کړ او لږې- لږې یې سترګې د ښه احساس ښودلو په پار وغړولې، سترګې یې د محصل ځوان په مخ ښخې کړې، بدن ته یې مینتوب د پېغلتوب د ټولو دردونو ترجماني وکړه. د محصل ځوان مینې یې بدن کې دومره ژورې ریښې غزولې وې، چې هېڅ یې د سترګو رپولو ته پام نه و. یتیمې له ځان سره وویل:

همدا وخت دی، باید په یوه پلمه یې خپل غېږ کې ونیسم، نجلۍ چې له اوږو یې لاس تېر کړی و، لاسونو ته یې زور ورکړ، محصل له شرمه هېڅ نه

**شو ويلای؛ څکه لومړی ځل و، چې يوه پېغله غېږ کې اوچتوي. ژر يې غږ کړ: لکه چې په هوښ راغله!**

**نجلۍ بېرته خپل بدن سست او ژر يې سترګې پټې کړې، خو له وخت وروسته يې روغتون کې د تداوۍ په جريان ليدل، چې په رښتيا ډېره ژوبله شوې، خو د مينتوب نشې په خپلو دردونو نه ده پوهه کړې. خپلې سترګې يې وغړولې او د خپل مين يې ښه ديدنونه وکړل، خو محصل ځوان لاهم ناخبره و، چې هغه په سايکل وهل شوې نجلۍ دې د ده د تره لور وي.**

**په نجلۍ ټول غصه و، چې د انګور تاک په څېرې دې څه کول؟؟؟**

**نجلۍ ويل: بابا ته مې انګور شکول، ټولو ورپورې وخندل، چې دې وخت کې انګور څه کوي؟**

**مور يې په مسکا وويل: تا په دې وخت کې هم له شوخۍ لاس نه دی اخيستی!**

**مه يې کوئ، د خپل بابا ديدن يې کولو، يتيمې نجلۍ په زړه کې ټوک ناپوهان وګڼل، خو په خوله يې د هر چا خبرې ته د تاييد سر ښوراوه.**

**د دوی د ډېر ټينګار سره- سره بيا هم بابا او لمسی خپل کور ته لاړل. محصل ځوان ټوله کيسه کور کې وکړه، ټول خوښ شول او امېد يې درلود، چې د کلونو- کلونو شلېدلې خپلوي بېرته ورغيږي.**

**مازيګر د يتيمې پلندر د دوکاندار دوکان ته د سودا لپاره راغی، خو د تل په خلاف يې هېڅ د خپل پلار پوښتنه ونه کړه. دوکاندار اړ شو، چې وپوښتي، څنګه يې نن پلار ياد نه دی!؟**

**هغه وخندل، چې همدا نن مې پلار موږ کره راغلی و، چاورته ويلي و، چې زوی دې سخت ناروغ دی.**



**چې راغی، ټيټ پاس يې راته کتل، زما هم په خپل ځان شک شو، لکه چې کوم ګوټک مې مات دی، خو وروسته پوهـ شوم، چې چاورته په دروغو ويلي، چې زوی دې سخت ناروغ دی.**

**دوکاندار په زړه کې مسکا وکړه او د سودا په ورکړې يې زړه کې وويل: څه ورځه! څو ورځې وروسته به ستا چاره هم وکړم.**

**وخت تېرېده، څو اونۍ تېرې شوې، د يتيمې پلندر بيا له دوکانداره د خپل پلار احوال وپوښت.**

**دوکاندار سر وښوراو او سوړ اسوېلی يې وويست.**

**سړی حېران شو، چې ولې، څه شوي؟**

**دوکاندار وويل: پرون يې زوی راغلی و، ويلې پلار مې هېڅ ښه نه دی، که ستا د کاتې کومې پېسې پاتې وي، راته يې وواېه، چې در يې کړم. سخت خواشينی شوم، بيا يې تپوس ته لاړم، بيخي ښه نه و، الله پاک دې ورسره مرستندويه شي.**

**د سړی په ملا او زړه درد شو، چې دا څنګه کېدای شي؟**

**ډېر خواشينی يې سودا د کور په درشل کې کېښوده، د کور غړي يې د خپل پلار له سختې ناروغۍ خبر کړل.**

**ټول خفه وو، خپلې مېرمنې ته يې د کورنۍ غړو د تيارولو غوښتنه وکړه، چې ټول په يو ځايي د بابا دوی کور ته ورځو.**

**يتيمه نجلۍ دا وخت د لېسې په دولسم ټولګي کې وه، مور يې ورته زنګ ورواهه، چې په وخت راشه، بابا کره ځو.**

**دغه خبرې د يتيمې نجلۍ هرڅه هېر کړل او له ډېرې خوښۍ يې بيخي بل ډول خبرې خولې ته راتلې.**

وخت پرې نه تېربـده؛ د نـاروغـی پـه پلمـه یـې لـه مـدیره اجـازه واخیسـته او مخکې له وخته د لیسې له دروازې د ناسکه خور سره یوځای ووتله.
ژر یې محصل ځوان (خپل تره زوی) ته زنګ وواهه، چې چېرته یې؟
هغه ویل دفتر کې یم، ولې؟ خیره شه! څنګه واخطا یې!؟
د نجلۍ چې څه بله بهانه نه وه، ژر یې وویل:
نن داسې ورځ ده، چې باید خلک یې د مور او پلار خواکې تېر کړي، زموږ له لیسې ډېرو نجونو رخصت واخیست. ما هم بهانه وکـړه او لـه لیسـې د خپلـې مورجانې د لیدلو لپاره کور ته پر لاره یم!
د محصل ځوان چې په دې خبرو ډېر باور نـه و، ویـې خنـدل؛ چـې لیـونۍ دا هسې خبرې دي، بېرته لاړه شه او درس دې ووایه!
خو نجلۍ هڅه کوله، څو خپل د تره زوی په یو چل سره مجبـور کـړي، چـې کور ته لاړ شي.
محصل ځوان وویل:
نن پنجشنبه ده، پوهنتون مې رخصت دی، دوه بجې هسې نه هم خپله مور ګورم، ضرور نه ده، چې اوس دنده پرېږدم او لاړ شم!
نجلۍ خدای پاماني وکړه او ژر یې ځان کور ته ورسوو؛ ډېره خوښـه وه، خـو د کورنۍ په خواشـیني لیـدو یـې زړه ولوېـد، چـې کېـدای شي تـګ مـو لغـوه شوی وي، خو مور یې ورته د نیکه د سختې ناروغۍ خبره وکړه.
لومړیو کې خواشینې شـوه، خـو وروسـته یـې د تـره زوی سره کـړې خـبرې ورپه زړه شوې.
ځان سره یې وویل: کوم نېک سړی غواړي، زموږ کورنۍ سره یوځای کړي؛ ځکه : که بابا مې ناروغه وای، د تره زوی مـې دفـتر تـه نـه تلـو او حـتماً یـې راته د نیکه د ناروغتیا خبره کوله، خو داسې څه نشته.



په ښکاره د مور په څېر خواشینې، خو په زړه یې له خوښۍ ګوړې ماتولې.
پلندر یې موټر راوست؛ خپلې مېرمنې ته یې وویل:
سامان دې ښه پوره واخله؛ کېدای شي، شپه مو هلته راشي.
یتیمې نجلۍ له ډېـرې خوښـۍ خپـل پلنـدر تـه ورغـاړې وتـه او لاسـونه یـې ورښکل کړل، خو وروسته یې د هغه خپه څېرې ته، چې پـلار تـه خواشـینی و، پام شو. په کراره یې وویل:
الله پاک دې زما په بابا جان هېڅ هم نه کوي.
پلندر یې د امین په ویلو د خپلې ناسکه لور په سر لاس راښکه.
حرکت وشو؛ پر لاره یې پلندر او مور د کلونو- کلونو نالیدلي ځـایونو پـه لیـدو خپلې سترګې خړوب کړې.
ډېر څه بدل شوي و، نوې ابادیانې شوې وې، ډېر کم شیان د پخوا پـه څېـر پاتې وو.
ټولو په ډېرې ناارامۍ غوښتل، خپل د ډېر وخت جدا شـوي خپلـوان ووینـي، خو یتیمې نجلۍ بیا ټول پام خپلې مینې ته و، څنګه به هغه قانع کوي، چې ورسره له ځانه هم ډېره مینه لري؟
تر دروازې ورسېدل؛ ټول ودرېدل او د یتیمې پلندر پر لور یې سترګې ښـخې کړې. هغه هم هک- حېران و، چې څـه ووایـې، څـه وکـړي او څنګـه د خپـل ناروغ پلار پوښتنه وکړي؟؟؟
دلته یې خپلې مېرمنې ته مخه وکړه او ویې ویل:
څومره سخته وي، چې وجود یو او لارې دوه وي؟
مېرمنې یې په شوخۍ هغه راکش کـړو او لـه هغـه وړانـدې یـې دکـور دروازه ټېله کـړه، خـو دا چـې د کـور دروازه لـه هغـې خـوا لَـټ شـوې وه، ټولـو پـرې وخندل.

بيا يتيمې نجلی خپله مور يو خواته کړه او دروازه يې وټکوله.
د لږ وخت وروسته يو ماشوم دروازه خلاصه کړه؛ دا چې دوی د نيکه ناروغی وارخطا کړي و او په ورخطايی او خفګان کې يې هر څه ګډ- وډ راخېستي وو، هغه ماشوم پرې د بنګړيوالانو ګمان وکړ او د خلاصېدو سره سم يې بېرته دروازه بنده کړه.
کور کې د ماشوم پلار ورغږ کړ، څوک دي؟
ماشوم پرته له دې چې صبر وکړي، ورغبرګه کړه:
پلاره! بنګړيوالان دي، د ډوډی غوښتلو په بهانه خلک څوروي.
بهر ولاړو ټولو ته يې سخت زور ورکړ؛ له ډېرې غصې يې خنداوې وکړې؛
دې کې د يتيمې مور ورغبرګه کړه:
د بنګړيوالې زويـــه! دروازه خلاصه کړه، هر چاته په خپل نظر ګورئ!
او دا چې تاته بنګړيوال ښکاره شو؛ کاکا دې دی، بېچاره جدايی ځپلی؛ تا پرې د بنګړيوالانو ګمان وکړو.
بيا ټولو خنداوې وکړې؛ خاوند يې له سخت زوره سور- شين شو، په خندا يې ورته په خوله لاس کېښود، چې سره- شنه تا اغوستي او د بنګړيوالانو په نوم مو درسره ياد شو.
دا چې ټولو خندل، ماشوم ته يې خوند ورکړ، بېرته يې د ننداري په پار دروازه خلاصه کړه.
د خلاصولو سره سم د يتيمې نجلی مور ماشوم غېږ کې ونيو او په تمثيلي بڼه يې غوصه کې ورته کړه:
اوس دې مور تښتوو، ماشوم چغې کړې، ټول برګ شول، چې خاوند يې ورته مخ واړوو:
ای مېرمنې!



خدای خبر پلار به مې څومره ناروغ وي او تا نخرې شروع کړې!
ټول ورننوتل، د ماشوم پلار د خپل جدا شوي ورور څېرې په ليدو يودم له خولې چغه ووته.
هلی ورور مې راغی!!!
مورې! راشه مرور زوی دې راغی!
د کور ټولو غړو ورمنډې کړې. له خوښی شرو- شور جوړ شو، د پخواني بېلتون له امله ژړاګانو کور په سر واخېست. ماشومانو چې د مشرانو په سترګو کې اوښکې وليدې، هغوی هم ناخبره اوښکې تويول شروع کړل او سمه غوغا يې جوړه کړه.
د يتيمې او محصل ځوان نيا خپل زوی ته په غېږ ورکولو بې هوښه شوه، ټولو پرې اوبه واچولې، چې د هغه په خود کېدو سره يې بل ورور بې هوښه شو، د کورنی ډېر غړي له خوښی د بې خودی خوند وڅکه.
د کورنی د ډېرو غړو جامې د بې خودی له امله لمدې شوې.
دې خوښی هر څه هېر کړل، خو د يتيمې پلندر د خپل پلار په لټه کې سترګې په ورخطايی سره اړولې، څو- څو ځل يې د خپل پلار پوښتنه وکړه، خو چا يې غږ وانه ورېد.
دا چې بابا يې د کور شاته پټي کې کار کاوه، د دوی چغو په بيړه تر کوره راوست.
ګوري چې نور خلک په کور کې ښکاري، ورمنډه يې کړه، خپل زوی يې وليد.
د غېږې ورکولو سره سم پرې سر وګرځېد.
په همدې حالت کې محصل ځوان هم پر دروازې راننوت.

حالت هر یو ته بدل- بدل ښکارېده. د خبرېدو سره یې هر یو ته په خورا مینه ستړي مشي ورکړه، یتیمې نجلۍ محصل ځوان ته لاس ورکړ.

یتیمې په دې حالت کې زړه ته راغلل:

زما په زړه واکمنه!

زما د بدن چوکاټ او لېونی احساس ستا بادشاهي ژوند ته د درتلو هیلې لري او زړه مې غواړي، چې خپل سپین رخسار د ستا غوندې یار په دربار کې کونځې کړي.

د یتیمې غږ محصل ځوان ته ډېر اشنا ښکارېده، خو لا هم پرې ناخبره و.

د یتیمې پلندر بار- بار له خپل پلاره د صحت پوښتنه کوله؛ هغه وخندل، چې زه خو جوړ او روغ یم . ولې چا خو به درته څه نه وي ویلي؟

- ولې نه! هغ ، هغه دوکاندار ...

د دوکاندار نوم په اخېستلو بابا په خلاص زړه وخندل او ویې ویل:

چې هغه زه درغلی وم، همدې دوکاندار راته ستا د سختې ناروغۍ خبره کړې وه.

ټولو د دوکاندار په داسې لوېې لوبې سخت وخندل او هغه ته یې د خېر دعاوې وکړې، چې ویې کولای شول، یوه جدا کورنۍ سره یو ځای کړي.

نجلۍ فرصت پېدا کړ، څو له خپلې مینې سره مخامخ خبرې وکړي.

محصل ځوان یتیمې نجلۍ ته وویل:

ستا غږ راته ډېر اشنا دی؛ نه پوهېږم، چې ولې!؟

نجلۍ نه غوښتل چې له قناعت ورکولو وړاندې یې خبر کړي. ویې وخندل، چې د تره زوی مې یې، ولې به مې غږ درته اشنا نه وي!؟

شپه شوه، یتیمې نجلۍ همدا ښه فرصت ګڼلو، چې خپل تره زوی ته په خپلې مینې قناعت ورکړي.



له ټولو په څنډه د دوهم منزل خونه کې یې موبایل راواخېست او همدې تره زوی ته یې زنګ وواهه.

هلک د موبایل په ښیښه په سایکل ټېپې شوې مینې نجلۍ شمېره ولیده. نېغ ودرېد؛ غوښتل یې له ټولو پناه ورسره خبرې وکړي.

دا هم دوهم منزل د یتیمې نجلۍ خونې ته مخامخ بلې خونې ته ننوت.

د زنګ هوکې کولو سره یې په خوښۍ سلام واچوو.

یتیمې د سلام په اخېستلو د خوشالۍ په اړه ترې وپوښتل؛ دا چې یتیمه په جریان ښه خبره وه، خو بیا یې هم محصل ځوان تنګولو او ټول جریان یې پرې تېر کړ.

دې کې یتیمې نجلۍ محصل ځوان ( تره زوی) ته وویل:

زه هم درشم!؟

- هو ولې نه! راشه کنه، خو که مور وډېولې؛ هغه دې خپل کار دی!

یتیمې وخندل، چې که زیمواري مې ته کوې درځم!

- په دې توره شپه کې!؟

- هو وی، ولې څه خبره ده!؟

محصل ځوان چې دا هر څه ګپ ګڼلو، په خورا جرئت یې ورته دعوت ورکړ.

یتیمې نجلۍ وخندل او ورته یې د ورتګ خبر ورکړ.

هلک هم په زړورتیا د هغه د راتګ خبره ټوکه وګڼله.

یتیمې وخندل، چې نېغ ستا خواته درځم، ته راته دقیق خپل ځای وښایه، له نورو سره ډېر کار نه لرم.

محصل ځوان چې د یتیمې خبرې یې ریشخند ګڼلې په شونډو یې مسکا خپره وه، خپل دقیق ادرس او آن دوهم منزل خونه یې هم ورته جوته کړه.

یتیمې هم په خندا کې ویل درغلم یاره!

- راشه، په خېر راشې!

د لږو خبرو ورسته یتیمې نجلۍ ور غبرګه کړه:

زه هم ستاسې کور ته ننوتم، ته چېرته یې؟

محصل ځوان نوره هم مسکا وکړه او زیاته یې کړه:

دوهم پوړ ته راوخېژه، مخامخ خونه کې یم!

نجلۍ چې خندل، زیاته یې کړه: دروختلم!

- سمه ده، په خر وخېژې!
- ها! څه؟ څه دې وویل؟؟؟
- نا غلط شوم، مال په خېر وخېژې، زه درته په تمه یم!

یتیمې نجلۍ چې محصل ځوان په بره ختلو کې هغه لیدلی و، د خپلې خونې دروازه یې خلاصه کړه، حرکت یې وکړ او د محصل ځوان، چې د تره زوی یې و، د خونې په دروازې یې سرکېښود.

د خونې دروازه بنده وه.

په مسکا یې وویل:

زه خو ستا د خونې په دروازه کې ولاړه یم!

محصل ځوان چې نخره ګڼله، په خنداوره خوله یې زیاته کړه:

دننه راشه کنه، بهر مې مور او د کور نور غړي دي، وېرېږم!

یتیمې هم له خندا خوله نه راغونډېده، ورغبرګه یې کړه:

نو تا خو د خونې دروازه لَټ کړې کنه!

د محصل ځوان زړه درز کړ، چې نجلۍ خو یوه ننبه سمه وویله؛ په خندا یې وویل: ته خیر دروازه وډبوه!

د دروازې په ټکولو محصل ځوان زړه په نابېره درزهار پیل وکړ. ګمان یې دا و، چې ممکن دا د نجلۍ په شکل کومه پېرۍ وي.



سخت وډار شو، لاس او پښو یې سستیت وکړ ، موبایل یې له لاسه پر ځمکه ولوېد، غوښتل یې چې چغې ووهي، خو هغوی خبر او ځان له دې بلا وژغوري.

دوهم ځل د ګوتو په څوکو د دروازې ټکار هلک نابېره چغو ته اړ کړ، نجلۍ له محصل ځوان نه ډېره وډاره شوه. منډه یې کړه او بېرته په هماغې خونې کې پټه شوه.

ټول راغلل؛ محصل ځوان د دروازې خلاصولو سره سم بې هوښه شو. ټولو یې لاسو پښې موښلې، چې همدا یتیمه نجلۍ هم راغله. ټولو د مور یو زوی په سر اوبه اچولې، چې لږ په هوښ کې راغی؛ له خولې یې همدا وتل، چې پېرۍ و، پېرۍ!!!

ټولو پرې دمونه شروع کړل، چې لږ راحت شو، د کور له نورو غړو سره یو ځای ښکته شو.

نجلۍ له ډېرې غوصې سره- شنه کیبرې او په زړه کې وایي، چې د ډارن بچیه!

په تا به هم ډزې شوې وي؛ افسوس د هغې شیرې، چې مور دې په تا خوړلي! تا خو له ډاره زما هم زړه ودروو؛ یو ځل خو به دې ور خلاص کړای وای او لیدلي به دې و، چې څه وو؟

ژر یې فکر خپل کړ او غږ یې وکړ: ماته یو ګیلاس اوبه راوړئ، چې په سورت یاسین یې ورته دم کړم!

یتیمه نجلۍ یې خوا کې کېناسته او پوښتنه یې ترې وکړه، چې څه شی وو هلته!؟

محصل ځوان ویل: پېرۍ و، پېرۍ!!!

نجلۍ غوصه شوه، چې د پېرې بچیه! کیسه وکه!

محصل ځوان خجالت شو، ځکه نه یې شو کولای، له اصلي رازه د کورنۍ غړي خبر کړي.

ژر یې خبره بل خوا کړه: زه څه خبر یم، خو دروازه یې راپسې وهله، زه ترې ډېر وډار شوم!

وخت چې یوڅه تېر شو، هغوی بېرته په خپلو کیسو کې بوخت شول، محصل ځوان یتیمې نجلۍ ته په اشارې سره غږ وکړ.

نجلۍ گمان وکړ؛ لکه چې اوس یې په داستان سر خلاص شو، خو په پوښتلو ورته محصل ځوان وویل:

هلته په هغه خونه کې زما موبایل پاتې شوی او هغه کې د دفتر او د نورو ډېرو ملگرو نمبرې دي.

ته خو ځانته زړوره وایې، لاړه شه زما هغه موبایل لږ راوړه!

نجلۍ تندي ته ټپ ورکړ، چې تورزنه! تاخو موبایل هم ورته برېښنی دی، خو خبر زه ورځم چې درته رایې وړم.

نجلۍ چې بره وخته، زړه یې ونه غوښتل،چې موبایل ورته یوسي.

له خپل موبایله یې ورته مسج وکړ:

د ډارن بچیه! زه کوم پېری- مېری نه یم، قسم کوم چې انسانه یم، د کور خواکې مو چې دا بل کور همسایه گان دي، دلته زه مېلمنه وم، تا وغوښتم؛ ځکه پټ- پټ له هغې شریکې دروازې ستا تر خونې راغلم او ته وې چې چغې دې شروع کړې او زه دې بېرته په منډه وشړلم. ته او خدای همداسې به څوک کوي!؟

نجلۍ بېرته ښکته شوه او د تره زوی ته یې وویل:

ما خو ستا موبایل پیدا نه کړ! راځه چې دواړه یې ولټوو!



محصل ځوان له نجلۍ سره یوځای دوهم پوړ ته وخته. له خپلې خونې یې د موبایل اخېستو سره سم په مسج سترگې ولگېدې، ژر یې له خپل تره لوره د موبایل ښیښنه پټه کړه.

هغه په ښکاره ځان پرې پوهه نه کړه، خو په زړه کې یې وویل، لېونیه!

له هغه چا ښیښنه پټوې، چا چې همدا مسج په خپلو گوتو لیکلی.

د مسج په لوستلو یې تره لور ته وویل:

کاکالور! ته لاړه شه، زه چاته یو زنگ وهم!

هغه پوهه شوه، حرکت یې وکړ، په دروازه کې یې ورغږ کړ:

گوره چې بیا چغې ونه وهې!

محصل ځوان وخندل، چې نا هغه یو سوی تفاهم و، بیا به هغسې نه کیږي.

بېرته یې زنگ وواهه، نجلۍ هم هغې پخوانۍ خونې ته ننوته، چې مخکې په کې پټه شوې وه.

د زنگ په هوکې کولو یې وړباندې ښه ریشخند وواهه، چې لېونیه!

ته دومره ډارن یې؟

محصل ځوان یې ژر خبرې پرې کړې، چې تا دسې دقیق- دقیق زما د کونۍ مشخصات ویلی، زه دې وډار کړم.

- ښه نو بیا راشم؟

محصل مسکا وکړه، چې خوښه دې!

نجلۍ پرې وخندل، چې که بیا چغې وهې خو نه راځم، کنه زړه مې غواړي چې درشم!

- خېر صبر چې زه پر ځان ایات الکرسي ووایم، بیا راشه!

یتیمې نجلۍ پرې سخت وخندل، چې چهارقل هم ووایه ګوره، چې بیا چغې ونه وهې!
محصل ځوان په زړورتیا سره ورغبرګه کړه، راځه نو!
په تمه دې یم!
- څومره وخت کې درشم؟
- داسې خبرې مه کوه، کنه بیا مې غوني زیږي کیږي، ولې مې چغو ته مجبوروې!؟
نجلۍ وخندل، چې سمه ده درغلم، خو که بیا دې چغې کړې، تښتوم دې!
- مه راځه- مه راځه! ته ټولې ګډې وډې وایې!
- نه- نه ګپ مې ولګوو، غټ سریه!
- سمه ده، ژر راشه نو!
- دغه دی، درننوتم کور ته مو!
- هماغه خونې ته راشه!
- درغلم!
په همدې سره یتیمې نجلۍ یوځل بیا د خپل ناخبر مېن د دروازې پر لور قدم وهل پیل کړل.
د خونې په دروازه یې بیا سر کېښود او په ارام غږ یې وویل:
زه خو بیا راغلم یار، خو دروازه درته نه ټکوم، ته خپله دروازه خلاصه کړه!
محصل چې لایې هم ډار په زړه کې وو، د ځو- ځو ځل ایات الکرسي ویلو وروسته په کراره د دروازې پټ خلاص کړ.
د خلاصېدو سره سم یې د شهید شوي عسکر یتیمه لور د دروازې په درشل، د مینې په سمندر لاهو، د احساساتو په رنګ لت- پت، په چپ لاس



موبایل تر غوږ او ښي لاس کې یې د څادر پیسکې سرببره او غټه ګوته په خوله کې نیولې، په مسکا د محصل ځوان مخ ته ګوري.
محصل ځوان د تیمې تره لور په لیدو لاس او پښې بې دمې شوې، موبایل ترې بیا پر ځمکه ولوېد او د بې هوښۍ د راتلو سره چې پر ځکه لوېده، تره لور یې لاس واچوو او غېږ کې یې ونیو.
په کراره یې له ژوبلېدو وژغوره. دا چې مخکېنیو اوبو فرش لوند کړی و، محصل ځوان بدن د لمدېدو له امله ببرته لږ- لږ په هوښ راغی.
په کرار غږ یې وویل:
ته ما سره ټوکې کوې!؟
ته خو به هم هغه نجلۍ نه یې، چې ما په سایکل وهلې وې!؟
یتیمه نجلۍ پوهه شوه، چې د تره زوی یې سخت هیاجاني دی، په کراره یې وویل:
خېر دی، ته زما خبرې یو ځل واوره، که چېرته مې خبرې قناعت بخښونکې نه وې، بیا دې خپله خوښه، چې هر څه کوې، زما له خوا درته اجازه ده، زه به هېڅ هم ونه وایم.
هو!
زه هماغه نجلۍ یم، کومه چې تا دوه ځله په سایکل باندې ووهلم او زه هماغه نجلۍ یم، چې تا راسره د ماشومتوب څو کلونه یو ځای تېر کړل او زه هماغه یتیمه یم، چې تاته مې ستا په لاس دغه ساعت اخېستی.
هسې دا به د رب پرېکړه وه، چې زه په داسې یو چا خپل ژوند تېر م، کوم چې تر ننه ماته د خور په سترګه ګوري، هېڅکله یې کمه نه یم ګڼلې، خو زه هېڅکله ستا غوندې احساس نه لرم او نه به زما احساس ستا د احساس په خبر شي.

زما ستا سره له مهاغې ورځې مینه پېدا شوې، هغه چې تا په خپل سپورتي سایکل د همزولو مخ کې ووهلم.
نجلی غوښتل، چې نور څه هم ووایي، خو محصل ځوان (تره زوی) یې خبره ورپرې کړه.
گوره زه هم له تاسره پرته له دې کیسو مینه لرم، خو زما مینه ستا له مینې سره توپیر لري، هغه چې زه یې ستا په مقابل کې لرم.
گوره! پوهېږم، چې د خور په ویلو دې رنگ لکه انار تک سور شي، خو زه څه وکړم؟ ضمیر مې داسې جوړ دی، چې تا له خپلو خویندو هم ډېره خوښوم، مینه درسره کوم، خو ستا له مینې په بېله بڼه.
هیله کوم، مه خفه کېږه! ته راته ډېره گرانه یې!
یتیمې نجلی موبایل په گرېوان کې ننوېست او د تره زوی ښي لاس یې په دواړو لاسو کې کلک ونیو؛ د اوښکلو په بدرگه یې زارۍ پیل کړې:
گوره گرانه! که ته وغواړې، ستا دا احساس د وخت په تېرېدو بدلېدلی شي، خو که نه غواړې داسې څه وکړې، نو زه حاضره یم چې خپله مینه ستا له خوښۍ ځار کړم؛ ځکه مینه یواځې د یوځایتوب نوم نه دی؛ بلکې مینه د قربانۍ نوم هم دی، چې د خپل مَیَن د خوښولو لپاره خپله خوښې لوگی کړې.
- گوره! که زه پوهېدای، چې ته زما د تره لور یې؛ داسې د تره لور چې له سکه خوېندو راته هېڅ توپیر نه لري، نو ما به له لومړیو ستا د دې کارونو مخه نیولای وای؛ خو دا چې زه په دې کار ونه توانېدم، ډېره- ډېره بخښنه غواړم؛ زه مې ځان په دې کړنه کې پړ گڼم.
یتیمې نجلی چې شنې سترگې یې له ډېرې ژړا تکې سرې شوې وې او داسې نږدې سره د دروازې په درشل ناست و، چې د یتیمې مړې اوښکې د



محصل ځوان په غېږ کې لوېدې، خپل سره او نازک لاسونه یې د تره زوی په خوله کېښودل.
چپ شه! هېڅکله دې ځان گرم ونه گڼې! که تا په دې کې لږ هم ځان گرم وگڼه، نو زه هېڅکله ژوند نه غواړم.
په دې خبرو کې د محصل ځوان له سترگو هم اوښکو خدای پاماني اخېسته او په دردېدلي زړه یې وویل:
گوره! خبر که ما مینه نه ده کړې، خو ستا له دا ډول احساساتو تا ډېره ښه درک کولای شم؛ زه هم غواړم، چې ته خوشاله اوسې او زه وکولای شم، ستا دردېدلی زړه له خوښیو مالامال کړم. خو دا چې ته یې په کوم ډول غواړې، داسې څه فکر نه کوم، که زه وکولای شم!
نجلی په ډکو سترگو په خپلو اننگو لاس تېر کړ او په ژړغوني غږ یې وویل:
دا چې مور مې له پلاره شل-پنځویشت کاله جدا ژوند کولی شي، پلار د خپل زوی په جدایۍ کې کلونه-کلونه ژوند کولی شي، نو زه هم ممکن ستا په نشتون په خپل لاهو ژوند کې لاسو پښې اچولای وشم.
نجلی په ډکو سترگو د هیلو ډکه مسکا وکړه او په ژړغونو سترگو مسکا کې یې د محصل ځوان په سترگو کې خپلې شنې سترگې نورې هم ننوېستې او زیاته یې کړه:
گوره د تره زویه!
که زه د خپلو ډېرو امېدونو په ترلاسه کولو کې پاتې راغلې یم، خو په مینه کې د بریالي کېدا خوب ما له ډېر پخوا نه لیدلی دی؛ دغه احساس مې ماته ژوند راکوي، خو ته هم یو دم پرېکړه مه کوه؛ ځکه کېدای شي، په دغه لاره زه په قسمتونو زوروره او په بخت بختوره شم، یبا به زړگی ستا او حکومت به پرې زه کوم.

بیا هم وایم؛ خېر دی، زه وخت درکوم، هوښیار هلک یې؛ ته یې په هر اړخ فکر وکړه، ممکن فکر دې تغیر شي.

زموږ په کورنۍ کې به ان شاءالله هېڅ کومه ستونزه وجود ونه لري، یواځې ستا دغه احساس دی، که هر ډول دې زړه بیا غوښتل، زه درسره همغږې یم اوچمتو یم، چې ستا هره پرېکړه په سر سترګو ومنم.

محصل ځوان په لومړیو کې ډېر ناارامه، خو د هوښیارې نجلۍ په ماهرانه خبرو یې زړه یو څه راحت شو.

د هغه دا وړاندیز چې باید څو ورځې په دې خبره فکر وکړي، ومانه.

یتیمې نجلۍ هم له ځانه سره وویل:

د خپلو ترږمو اوښکو په جرګه مې ستا زړه ته عذر وکړ او آن تر دې چې خپلې رڼې اوښکې مې ستا غېږې ته ننواتې دروړې او ستا په لمن مې خپلې رڼې اوښکې په هیله مند یاد، تار- تار وپاشلې.

دې فکرونو کې وه، چې له لاندې څخه د ډوډۍ تیاري غږ وشو، دوی هم باید ورغلي وای، خو دا چې محصل ځوان د درسونو او وزن ډېرښت له امله د شپې ډوډۍ نه خوړله، هغه ته یې د ډوډۍ لپاره د تلو خبره وکړه.

یتیمې نجلې چې په آبدان کې یې مخ وینځلو له تره زویه وغوښتل، څو نن شپه د دې لپاره د ډوډۍ خوراک په پلمه ښکته لاړ شي او دوی سره دسترخوان ته کېني، خو محصل ځوان د درسونو او وزن ډېرښت نه شکایت کاوه.

بلاخره اړ شو، چې د یتیمې نجلۍ دا غوښتنه ومني، په روانېدو کې یتیمې نجلۍ محصل ځوان ودراوه، چې کله دې هم کوم څوک ښکل کړی او یا ته کوم چا ښکل کړی یې!؟



محصل د حېرانتیا مسکا وکړه، چې کشران ما او مشرانو بیا زه له اننګو ښکل کړی یم.

- سمه ده، نو چې په هر یو دې واره راځې؛ زما سر ښکلوې او که زه دې اننګې ښکل کړم!؟

محصل ځوان حېران ودرېد، چې اوس څه ووایي؟

خو د خبرې لنډېدو لپاره یې یتیمه نجلۍ پر تندي ښکل کړه او له خولې یې د زړو خلکو په څېر دعا ووته، چې تل بریالۍ اوسې!

نجلۍ مسکا وکړه، چې د تره بچیه! سم نیکه یې، دا دعاګانې زړې ښځې کوي؛ ځوانان داسې دعا کوي، ګوره!

محصل چې متوجه شو، یتیمې نجلۍ یې په اننګو شونډې کېښودې، ښکل یې کړ او بیا یې وویل:

همداسې هسک او تاند اوسې ښاغلیه!

ډوډۍ ته ښکته شول؛ د یتیمې نجلۍ په خوراک کې ټول پام خپل تره زوی ته و، چې په دیدن یې سترګې مړې کړي، خو نه پوهېده، چې ولې یې په کتلو د مړښت پرځای د مینې تنده لا پسې زیاتېږي؟

د ډوډۍ په جریان کې یې پرې غږ وکړ، وخوره کنه د تره زویه!

ته خو بیخي خوراک نه کوې!

د محصل ځوان پر ځای یې خور په مسکا ځواب ورکړ:

دا د شپې لخوا بیخي دسترخوان ته نه ګوري، چې نن څنګه په وخت ورته ناست دی!؟

یتیمې وخندل، چې نن به زما لپاره راغلی وي؛ خور یې هم وخندل، چې کېدای شي همداسې وي!

د دوه کورنیو زړه خپلوي تازه، خو د یتیمې په نوې ښکاره شوې مینې اور په لګېدو شو، خو دا لا مالومه نه وه، چې د نغري په څېر دغه اور به لکه د جدي میاشت خوړ ولګي او یا که به د جوزا میاشتې په څېر لکه بَرو له لرې سوځول کوي؟

محصل ځوان تل فکر کولو، چې له ټاکلي وخته وړاندې وکولای شي، خپله پرېکړه خپلې تره لور ته ووايي، خو هېڅ يې په لوړ توپير فکر کې بدلون نه راته.

دا چې په سبا یې باید خپله پرېکړه یتیمې نجلی ته اورولې وای، د شپې یې ورته زنګ ووهه.

زنګ ډېر ژر هوکی شو او د سلام-ستړي مشي وروسته ترې په ډېرې بې صبری نجلی د پرېکړې په اړه وپوښتل.

محصل ځوان وويل:

نه پوهېږم چې له کومه ځایه، کوم الفاظ درته وکاروم؛ ځکه زړه مې درد کوي او ضمیر مې خپلې سترګې نه پټوي.

ما خو ټوله هڅه وکړه، چې ته څنګه غواړې زه هماغسې وکړم، دواړه یوه کورنی جوړه او خوږ ژوند په کې تېر کړو؛ ځکه زه ډاډمن یمه که داسې وشي، موږ به د نړی نېکمرغه جوړه اوسو، خو څه وکړم؟

هېڅ داسې څه مې ونشو کړای او په هر ډول پرېکړو کې پاتې راغلم.

په دې خبرو نجلی سوړ اسوېلی ویست او په ژړغوني غږ یې وويل:

زما دا لېونی احساس او ستا دا بې پروا پرېکړه!؟

دا به نو څنګه شي!؟

محصل ځوان هم چې ډېر خواشینی و، ورته یې کړه:

ته ووایه، چې زه څنګه وکړم؟



تاته خو ما مخکې هم ویلي دي، چې ته ماته له ډېرو خپلو ګرانه یې، ولاچې له ما هم لار ورکه ده.

نجلی چې د پلار له کیسو اورېدلې مینې تر ننه یې دا حالت سترګو ته شو، په ژړغوني غږ یې وويل:

ولاچې د تره زویه دا هر څه لکه یو فلم یا سېریال غوندې؛ یو وشي، هغه وران شي، بیا بل جوړ شي، بېرته په پای کې هغه هم بې پایلې سر وخوري؛ دا ولې!؟

- هو والله، خو ولا که به پوهېږم!

نجلی غبرګه کړه: دا ژوندون هم یو ښه سیریال، فلم یا ناول دی، خو بدبختانه د ځینو بیا دغه داستان انتها نه لري.

محصل هم په ژړغوني غږ وويل:

ولاچې په تا مې له ځانه ډېر زړه سوزي، هېڅ نه پوهېږم، څه وکړم چې ته خوشاله شې!؟

د یتیمې چې اورده بانه نمجن ؤ، په ژړغوني غږ یې له ډېرو خبرو او درد وونکو الفاظو وروسته په سوځېدلي زړه یو ځل بیا سوړ اسوېلی ووېست:

ته دا ومنه، چې زه به خپله مینه کې بریالی کېږم!

که یې نه منې، دا هر څه یاد وساته!

دا چې تر اوسه دغې کیسې لکه د سیریال ښه لرله، نو غواړم دغه تر دې دمه کیسه په یو ډول د دنیا په مینو کې ژوندی وساتم؛ که داسې وشي، په دغې کړنې به زما زړه له نورو ډېر راحت شي.

- نآ! داسې خو نه کیږي؛ ځکه خلک به بیا پر ما لعنت وایي، خو هڅه کوم؛ ځان کې بدلون راولم او ستا په څېر فکر خپل ذهن ته پور کړم.

**نجلۍ چې پوهه شوه، محصل ځوان کېدای شي، د وخت په تېرېدو ځان کې بدلون راولي، ډېره خوښه شوه، خو تر دې دمه د دغې کیسې په ژوندۍ ساتلو یې د دې له امله ټینګار وکړ، چې ترڅو دغه مینه په یاد وساتل شي، څو راتلونکي کې د بدلون یو احساس ترې وزېږي. ژر یې وویل:**

**باید دغه مینه د قلم په ژبه تل لپاره ژوندۍ وساتل شي!**

**ګوره د تره زویه! ستا فکر تغیرېدو لپاره به زه تر ابده د انتظار شېبې ښکلوم، خو ګوره هېڅکله به څوک د دې مینې په ژوندۍ ساتلو کې پر چا لعنت ونه وایي او که وایي یې، نو زه هغو ټولو ته قسم ورکوم، چې له تا وړاندې ما په لعنتونو کې لتاړ کړي؛ ځکه دا زه وم، پرته له دې چې مقابل لوری وپوښتم، د هغه احساس وګورم، خپل زړه مې ورته پاکټ کې واچوو.**

- **خو که په تا باندې هم لعنت ووایي، هم زه خفه کېږم؛ ځکه ته زما د تره لور او ډېره نږدې خپلوانه مې یې!**

**یتیمې نجلۍ وویل:**

**زه به هغه وخت ستا ملګرتیا ومنم، تا به وبښم، هېڅ به درته نه وایم، ټول ژوند به ستا په نوم ولیکم او خپل ټول دردونه په پرې ټکور کړم، که زما تر دې دمه مینه دې ژوندۍ وساتله!**

**خو ای! زه رب دربار ته زه امېد لرم، مبارزه کوم او خپله مینه ثابتوم، نو باید یادونه وشي، چې که د دغې ورکې مینې د لټون وروسته یې راتلونکې، د ژوند په دوام اوږده شي، نو نورې خبرې به یې په بله برخه کې د همدې سرلیک لاندې کیږي؛ یانې دا به یې لومړۍ برخې پای وي.**

- **سمه ده، ته چې د دې ټولو کړنو په مقابل کې دا غواړې، نو هڅه به یې وکړم! خو ته به یې کرکټېره یې!**



- **هو؛ دا چې تر دې دمه مې مینه بې انتها وه، نو د ناول لومړۍ برخې پای کې ولیکه، چې:**

## ”تاسره مینه لرم.“

**د لومړۍ برخې**

**پـــــــای**

# دوهمه برخه

د محصل ځوان ویښ ضمیر او سپېڅلی وجدان د زړه نادرو لارو ته هېڅ تسلیم نشو. د نفس له دامه وتلی لکه پیر د خپلو تړلو احساساتو په کابو کېدو باندې برلاسی و.

د یتیمې ښودل شوې د مینې مجبوری محصل لیدلې، د خپل زړه په باغ یې د دغې زخمي کوترې په لیدو انکار کاوه، خو وار په وار به یې د خپل ځان د بدلون هڅې کولې.

ورو- ورو د یتیمې پر وړاندې د محصل افکار بدلېدل او د ژوندانه پر لار یې د یتیمې د مینې ګوزار لکه د مار زهر، ورو- ورو اغېز کاوه.

د دې زهرو په اغېز کې به بلا هڅو د سر پورته کولو سره بېرته خپل سرونه خوړل.

زړه که نه منله، خو د احساس غندنه یې د ژوند په لومړیتوب باندې بسیا وو.

یتیمې هم د خپلې مینې له زخمونو ټکورونه اخېستل او د مینې په دغه روزګار کې یې له هېڅ ډول تاریکی او مانښامی وېره نه لرله، خو په لنډ وخت یې د لوی لارې تلوار هم له فکره نه وېسته؛ ځکه خو یې د خاموشی له شوره د چغو چوپتیا غوره کړې وه.

د محصل ځوان الفتي نظر او له دغه انکاري مینې اظهار لپاره یتیمې ډېری پسرلي په خزانونو واړول او بې شمېره سپین سهارونه یې د محصل ځوان له نومه په ماښامونو وسپارل.

د خپل سپین مخ په نقاب کې یې شنې سترګې د محصل ځوان مخ پسې اینه ګرځولې.



محصل به هماغسې په شونډو کې مسکا ګرځوله، خو د زړه په اباده مېنه یې د درد لمبو سم غړمبار جوړ کړی و. ډېر کله به چې مینې ډېر ډوب کړ او بې اوره به یې بدن نه لمبې ختلې، نو د یتیمې هاغه بې کراره مینه به ورپه زړه شوه، چې ده به پرې هر وخت د لېونی ګمان کاوه.

د محصل ځوان په بې غرضې خانی یوه بل نازک غبر د لوګو منظر کشي کړې وه.

لنډ وخت کې د محصل ځوان او یتیمې نجلی په خپلوانو کې د خوښی مراسم ول. یتیمه پوهېده، چې د تره زوی یې حتماً په کې ګډون کوي.

په ډېرې خواری او ځاری یې د خپل حسن سینګار ته نورې ښکلاوې هم پور کړې.

د مراسمو له پیله یې خپلې شنې سترګې د تره زوی د لیدو په خوشبویی او بادشاهی تسلي کولې.

وخت ډېر تېر نه و، چې محصل ځوان د خپلې کورنی سره یوځای د مراسمو ځای ته راغی.

خزان مخ او لوېدلی زړه یې د یتیمې له مخه ښکلا وتښتوله، چې د یار له بازاره یې چا پسرلي وړي؟

سترګې یې پرې ښخې کړې، زړه یې صبر نشو کوی، اوچته پاڅېده او ورمنډه یې کړه.

د کورنی نورو غړو سره د سلام او ستړي مشي وروسته یې تره زوی ته مخ ورواړوو:

ای ګلالیه د تره زویه!

ځنګه یې؟

د تره زوی یې د خپل تره لور رڼو، غټو او زړه راښکونکو شنو سترګو تـه پـام شو، چې کمان داره باڼه یې لاس په ماشه د شنو سترګو پېـره داري کولـه. د دنګې ځوانۍ په قالب کې یې سره جوړه ډېـره ښـکلې ښـکارېده. سربېـره لـه سرې جوړې یې سور- سپین مخ او د تـورو- طلایـي زلفـو ترڅنګ یـې شـنو سترګو سم ملي بېرغ جوړ کړی و.

هر اړخ یې ځلاوې کولې. دنګې ولاړې تره لور ته مسکی شو، خـو زړه یـې د دغې مراسمو له خلکو لرې مرور او په دښتو یې چکرې وهلې.

یتیمه د تره زوی په خزان- خزان کتو باندې شـکمنه شـوه، چـې د تـره زوی یې هم لکه چې زړه بایللی؛ ځکه دا کتل یې پرې له ورایه ګواهي کوي.

بیا یې ترې وپوښتل:

د کاکا زویه سلام مې وکړ! څنګه په ژورو سترګو راګورې!؟

ښه خو به یې کنه!؟

د تره زوی یې د بیا ځلې غږ په اورېدو فکر له ژور سوچه دغه حـال تـه شـو، په بنده- بنده او تته لهجه یې ورغبرګه کړه:

شش شکر ز. .، زه ښه یم!

تاسې ښه یاست!؟

د یتیمې شوی شک لږ یقیني شو او په مسکا یې وویل:

نه!

ښه خو نه یې، خو نه پوهېږم ولې یې پټپوې!؟

محصل ځوان د زړه په زور مسکا وکړه:

فکر کوم اوس مې د کاکا لور په اروا پوهنه کې هم زده کړې پیل کړي؛ ځکـه خو له ورایه د خلکو په حال پوهیږي.



یتیمې هم ښکلې ګلابي رنګه شونډې د خندا په پلمه راښـکلې، خـو زړه تـه یې دوه خبرو لاره وکړه:

یا خو خپه یې او یا زما د مینې په ساري ناروغۍ اخته یې!

محصل ځوان چې مینې دردولی و، په ډېـرې نرمـۍ یـې خپلـې تـره لـور سره برخورد کاوه.

د تره کاکا لور یې د خپلې مینې غمجن مخ ته د زړه غوښـه او د فکـر خوښـه وربښله، د هغه په ټولو سزاګانو یې د دغې مینې یو اقرار ځاروه.

دلته یې د تره زوی مخ او سترګې له یتیمې څخه نه اوښتې، نو دغـې کړنـې ورو- ورو یتیمه په خپل ګمان باوري کوله، چې ممکن په ورته مینې یـې تـره زوی هم اخته وي.

د مینې په دې روزګار کې یتیمې د خپلو هېرو او یادو ارمـانونو پـه یـاد خپلـې شپې سبا کولې.

د مراسمو په جریان کې شپه راورسـېده؛ دواړو غوښـتل، چـې پـه یـوه پلمـه سره خبرې وکړي. نجلۍ له خپـل تـره زویـه د وریجـو د راوړلـو هیلـه وکـړه. محصل ځوان هم ومنله او د لږ وخت وروسته یې د خپلـې تـره لـور غوښـتنه پوره کړه.

د یتیمې په ټینګار یوه څنډه کې دواړه غوري ته کښېناسـتل او د خـوراک پـه جریان کې یې یو بل ته په خورا مینه کتل.

د خوراک شخوند او په مینه د کتلو خوند لا پسې زیاتېده.

د یتیمې هغه شک اوس بیخي باوري کېدونکی وو؛ ځکه نو یـې د ربـاب پـه څېر نرۍ خبرې له خوښۍ بیخي ګډې- وډې کېدې.

د غوري دپاسه یې پرته غوښه یو بل ته د خوړلو په پلمه ټېل وهله. پای کـې محصل په دې بریالی شو، چې خپله برخه په خپلې تره لور وخوري.

د محصل مینه ناک چلند یتیمه په خپلې مینې بیخي ډاډمنه کوله او داسې یې انګېرله، چې نور نو هغه احساس دوی تر منځ نشته، چې ترې رنځ یې وړه او که وي نو د بیخي لږ، چې ژر د له منځه تلو په حال کې دی، خو هېڅ یې نه غوښتل چې د اوس لپاره په دې اړه څه ووایي.

له مراسمو وروسته عادي ژوند کې به هم، چې یتیمې د محصل ځوان ځخه څه غوښتنې یا پوښتنې کولې، په ډېرې مینې او خوښۍ به یې تره زوی په ورین تندي ورځوابولې.

هغه ډالۍ چې به یې خپل کاکا زوی ته اخېستلې، په ډېرې مینې به منل کېدلې او آن کله-کله خو به په برعکس ډالیو هم نازول کېده.

ډېر وخت همداسې تېر شو. اوس نو هغه شکونه او دردونه نه و، چې پخوا ترې یتیمې ډار درلود.

پسرلی و، محصل ځوان د انګلیسي ژبې له یو کلن پروګرام ځخه فارغېده، ښایسته مراسم نیول شوي وو او د نورو خپلوانو سربېره یې د یتیمې کورنۍ هم رابللې وه.

یتیمې ورته د غاړې یو هار اخېستی و او د مور سره یوځای راغلې وه.

له هغو تېرو جفاګانو هېڅ ګیله منه نه ښکارېده؛ لکه ګلاب چې په خپلو اغزو ویاړي، یتیمې هم په تېرو مبارزو باندې سم ویاړ کاوه.

د نورې کورنۍ سره یې د محصل ځوان راتګ ته شېبې شمېرلې.

د پسرلي په خوشګوار او ابري موسم کې یې پام د ګلابو بوټو ته شو، ورغله او د ګلانو په شګَولو بوخته شوه. په فکر کې یې د تره زوی په سر د همدې پاڼو د ورَولو خیالونه لیدل، چې لاس کې د اغزي ننوتو یې فکر بېرته پرځای کړ، خو بیا یې هم ښې ډېرې د ګلابو پاڼې دانه- دانه کړلې او خپل پلو یې ترې ډک کړ. د انتظار په دغه لار یې بېلابېل فکرونه کول.



له خدایه یې غوښتنه کوله، چې کاش ورسره تللي کسان یو هم رادننه نه شي او د تره زوی یې یواځینی کس وي، چې د ښځو په مجلس کې ورننوځي.

دغه دعا یې هم ځښتن رد نه کړه او هماغسې د دروازې خوله کې یې ټول خپلوان او ملګري ترې ستانه شول. محصل ځوان کور ته ننوت او د کورنۍ ټولو غړو: مور، خور او نورو خپلوانو پرې خواږه وشیندل.

یتیمه ورمخته شوه، پر سر یې د ګلابو پاڼې ور ودوړولې، هار یې ورپه غاړه کړ او په مسکا یې مبارکي ورکړه.

د یتیمې په خاموشې مینې اوس اکثره نجونې پوهې شوې وې او د ده پر وړاندې به یې کله-کله د ځورولو په پلمه، محصل ځوان سره د خپلې مینې په پیداکېدو د شوخۍ خبرې او دعوې کولې.

د یتیمې بې کچې مینې به دغه غمازي هېڅ نشوه زغملای. په غیر مستقیم غبرګون به یې د هغوی ټولې دعوې دروغ ثابتولې.

زړه کې به یې کله ویل:

دغه ظلمونه او پېغورونه دې نور تمام شي.

دواړه په یو بل ښه مین یو؛ هسې د یو بل په مخ کې خپلې مینې ته د چوپتیا پوزکي اچوو، سم مو له ځانه ماشومان جوړ کړي.

زه چې هر څومره بهانې وکړم او دروغ ووایم، دوی زما په بې زړه ټېر باندې پوهېږي، چې ترې زړه مې ستا ګوګل ته کډه کړې؛ ځکه زما د سرو لاسونو په فسادونو او په اترنګي رنګ کې لیکل شویو زموږ د دواړو د نومونو لومړي توري دوی ګوري او پوهېږي.

د دنیا په څو ورځني ژوند کې ولې دومره د وېرې په ژوند لکه د قربانۍ وُری سپېځلې مینه تر پښو لاندې کوو؟

ستا په مینه کتل پر ما لکه د ژوره ماتې ماښامي ښه لګي.

خو ژر به یې فکر خپل کړ:

نا!

ځینې خبرې داسې دي، چې په دې ټولنه کې باید پټې وساتل شي، خو دا هوډ مې کړی او کوم، چې خپله لېونۍ مینه ساتم او دغه مینتوب ثابتوم.

خپل سره لاسونه او د مینې ډک احسانونه به یو ورځ د خپل مین پر اوږو اچوم.

تر خوږو د رسېدو لپاره باید د ترخو لارو اوږده مزلونه ووهل شي، چې دې مزلونو ته ما خپله ملا تړلې.

د هغه وخت به احسانمنده یم، چې د مینې په دې ابادۍ کې خپل لاسونه زما د مینې په خوښۍ ورنګوي.

محصل به هم ورځ تر بلې د مینې په څپو کې د خپلې مبارزې ځواک له لاسه ورکاوه او خپلې خاموشۍ به ورته د ملنګ د کور سکروټې شوې.

که د یتیمې زړه به په نړېدلو دېوالونو د محصل ځوان مینې او دیدن ته لکه د باران زړه وشو، صبر او زغم به یې کاوه، خو یو ورځ چې ډېره مجبوره شوه، موبایل یې راوویست او د خپل تره زوی شمېره یې راواړوله.

په موبایل ښکارېدونکې شمېره یې ښکل کړه او د زنګ وهلو تکل یې وکړ.

بېرته خپلې هاغه لومړنۍ خبرې او ژمنې ورپه زړه شوې، چې هېڅکله به یې نه ځوروم او نه به ورته بیا لپاره خپله مینه یادوم، څو چې هغه خپله راته څه نه وي ویلي.

د موبایل ښیښه یې د ګوتو په څوکو پړمخې پر ځمکه کېښوده. سوچ یې وکړ، زړه یې ورته ویل:



هغه ځان- ځانۍ او د بېلتون ناکردۍ اوس پای ته موندلی. اوس خو هغه پخوانۍ وخت نه دی، چې سهار او ماښام به مې د خپلو هیلو په قبرونو فاتحې اخېستې.

زړه یې راډک کړ، بېرته یې په بیړه شمېره ډایل او زنګ یې وروواهه.

د زنګ روانېدو سره سم یې د زړه په بازار شور ګډ شو، په اسانۍ یې د خپل زړه بې واره دربا اورېده.

د سلام سره سم یې تره لور لکه په زړه ویشتلې کوتره ورېږدېده. خولې پرې راماتې شوې.

له ځانه سره یې وویل:

زما د زړه په خزان وهلي دښتې ستا غږ لکه د پسرلي اسماني غړزار، پر ما یوه وېره راوسته او ستا په دې غږ مې خزان وهلی زړه د خولو په باران ولمبېده. اوس به مې د زړه په اسمان ستا په خوږو خبرو د لږ وخت لپاره هغه اووه رنګه کمان چې د بوډۍ ټال ورته وایي، رازرغون شي.

د خپل حسن په اس سپره یتیمې په مسکا د خپل تره زوی سره خبرې پیل کړې.

محصل په خورا خوږو الفاظو د یتیمې ښه راغلاست وکړ:

ایله چې رایاد دې شوم کاکا لور!

د تره لور یې په دې خبرې لړه زړوره شوه او د اوږدې ساه په اخېستو یې خبرو باندې پیل وکړ:

ته څه خبر یې اشنا!؟

زما خو هر وخت رایادېږې، خو هغه ژمنه مې هم یادېږي، چې تاسره مې کړې وه.

محصل ځوان ته هم د یتیمې کړې ژمنه ورپه زړه شوه. په مسکا یې وویل:

هغه بله ورځ خبر شوم ناروغه شوې وې، غوښتل مې چې زنګ درووهم، خو هغه بل موبایل مې له لاسونو غلو تښتولی او دغه موبایل کې دې شمېره نه وه.

څنګه یې اوس؟

ښه یې؟

د یتیمې غږ لکه زانه هسکه شوه:

رښتیا وایې!؟

تا زما پوښتنه کوله!؟

- هو باور وکړه!

ولې داسې حېرانه شوې!؟

- ولې نه! مال چې ستا هم شکر یادېږم.

محصل وخندل:

حتما اوس خو هغه وخت نه دی، چې خپله د کاکا لور دې په سایکل ووهم او بیا یې ونه پېژنم.

دواړو خنداوې وکړې، د محصل ځوان په دې پوښتنې چې څنګه دې نن په زنګ وهلو رایاد کړم؟

یتیمه بیا وربرډېده او په بېړه یې وویل:

وخت وروسته زما دوړوکي ناسکه ورور سنت ګري ده، مال صبر چې له ټولو وړاندې دې زه خبر کړم.

او رښتیا تاته غواړم جامې وکړم، کوم رنګ دې خوښ دی!؟

محصل ځوان وخندل، چې مجبور زه هم خرچه وکړم نو!

- نه- نه! غواړم زه درته جامې وکړم، ته خرچې مه کوه!



- دا نو څنګه کېدای شي، چې ته دې خرچې وکړې او زه دې درته وګورم؟

یتیمې په خندا کې اسمان ته وکتل او خپلې شنې سترګې یې په شنه اسمان ولګولې:

زما جامې خو شکر ښې ډېرې دي او شته هم، خو که ته غواړې چې راته جامې وکړې، ستا د لاس ښه په سر سترګو قبلوم، خو دا راته ووایه، چې کوم رنګ جامې درته وکړم؟

- ځه دسې وکړه، ته په خپله او زه به په خپله خوښه یو بل ته جوړې وکړو.

یتیمې په دې خبره د زړه خاموشي د شونډو په بوسولو ماته کړه.

همداسې وشول؛ دواړو یو بل ته ښکلې جوړې وکړې او په مینه یې د مراسمو لپاره وګنډلې.

د مراسمو په سهار یتیمې نجلۍ د محصل ځوان په ډالۍ شویو جامو کې بیخي وزرې کړې وې او په ډېرې مینې یې د زرکې په څېر د پنجو په څوکو قدم واهه.

د محصل ځوان زړه مینې ډېر نازکه کړی و، هېڅ مراسمو ته په تګ خوښ نه ؤ، خو بیا هم د خپلې کورنۍ سره یو ځای ورغی.

د زړه نړېدلي دېوالونه او خپله ځان- ځاني یې نوره نشوه پټولی.

غریو نیولی یې د ټولو خپلوانو سره سترې مشي وکړه.

یتیمه نجلۍ د دنګې ځوانۍ سره په مکسي- ګلابي کمیس کې سمه ښاپېرۍ ښکارېده.

محصل ځوان یې په لیدو خپل فکر کې بدلون راوست او په پراخه ټنډه یې په خوښۍ سترې مشي ورکړه.

په مسکا یې ورزیاته کړه:

کاکا لورې ته خو سمه ښاپیرۍ ښکارې!

په دې خبره یې له ډېرې حیا لکه د مېوې ډکه ونه د زلفو څانګې د ځمکې لور ته کړې شوې او د هیلو په ډک زړه یې له تله مسکا وکړه:

د ځینو ښایست او مینه ناکې ډالۍ خلکو ته لا ښکلاوې او رڼاوې ښیي.

محصل ځوان وخندل، چې ځکه خو زه ستا په ارزښتمندې ډالۍ کې ځان دومره ښکلی احساسوم.

محصل به د خپلې کاکا لور په خوښ لیدو خوشاله شو، خو د زړه خبرې کولو ته یې هېڅ موقع او فرصت نشو پیدا کولای.

د څه وخت تېرېدو وروسته یتیمه د زړه په خپو د محصل ځوان مخ ته ورغله او ورنه یې د دې خونې ته د ورتلو غوښتنه وکړه.

محصل ځوان ومنله او د لږ وخت وروسته یې د تره لور خونې پر لور قدم ووهل پیل کړل.

دا چې وخت یو څه تېر شوی وو، د تره لور یې خونې څخه بېرته په وتو وه، چې د دروازې په خوله کې سره مخامخ شول.

د نجلی په سترګو درنه حیا بار وه او د سترګو پردې پرې راټیټې شوې وې.

یو بل ته د لږو کتلو وروسته یې ژر پَلو کې نیولی ساعت راښکاره کړ، خپل لاس یې د محصل ځوان پر لور وغځوه:

واخله ښاغلیه!

دا مې هم ستا لپاره ستا نه پټ اخیستی، مال که د جامو غونډې یادونه یې وکړم، هسې نه دغه پور هم پرې کړې، نو ځکه مې تاته په دې اړه څه نه وو ویلي.



محصل ځوان د ساعت پر لور نظر کې د تره لور پر لاس د نکریزو اترنګې رنګ ته پام شو، د ورغوي په کونج کې یې د خپل او د هغه د نومونو لومړي توري ولیدل، مُسک شو:

د کاکا لورې! دا په لاس دې څه لیکلي!؟

یتیمې د لاس په کرښو لا نوره هم د حیا په څادر کې ځان ومروړه، ژر یې خپل لاس پټ کړ:

هېـ ... هېڅ ... هسې مې ګلان پرې اچولي.

- نآ د دې ورغوي په کونج کې دې ما د ګلانو په منځ دوه توري ولیدل!

- نه هغـ هغه مې هسې . . .!

هن دا ساعت په لاس کړه! د جامو هم رنګ دې دی!

محصل ځوان حیا نغاړلې تره لور نوره ډېره ونه چېړله، ویې ویل:

دا په لاس مې ساعت لرې کړم؟

- هو!

هغه ساعت دې د جامو همرنګ نه دی، دغه مې ستا د جامو په رنګ درته اخیستی، خو دغه بند یې بیخي له نورو متفاوت دی، هن خپله یې وتړه!

محصل ځوان د ساعت په تړلو لږه هڅه وکړه؛ دا چې تړل یې یو څه ستونزمن وو، نو د تره لور یې لاس وروغځوو، چې په تړلو کې مرسته ورسره وکړي.

ځوان د خپل شهید شوي تره د لور تماشه کوله، هغه سمه رېږدېدله او د خپل تره زوی له لاسه یې خپل لاسونه تاو کړي، چې ورته اخیستل شوی ساعت په خپل لاس ور په لاس کړي.

محصل ځوان ځان سره په ځان بد ویل، چې دغومره حیاداره او د ښایست په ټول تول پوره د تره لور یې څومره مینه ناکه ده او ما لا دومره ونشو کړلای، چې خپل احساس کې بدلون راولم او احساس خو لا څه، دا مې هم ونشو کړای، چې زړه مې د بل چا ګوګل ته له ورتګه منع کړم.

یو دم یې یتیمې نجلی ته د خولې ووتل:

ای خورې! ته ولې داسې کوې!؟ او زه ولې داسې یم!؟

یتیمه په ډوبې مسکا سر ټیټ واچوو، خو په زړه کې یې وانګېرله :

ممکن همدغه وخت وي، چې د تره زوی یې د خپلې مینې اظهار ورته وکړي.

ژر یې په کرار او ارام غږ وویل:

ولې!؟

زه خو پوهه نه شوم، دا پوښتنه دې په څه مانا!؟

محصل ځوان احساساتو کې راغی، رنګ یې د حقیقت له ویلو وړاندې تک-سور شو.

د پوزې په څوکه یې د خوَلو ځاځکي ښکاره شول، خو ځان یې لږ راکابو کړ او په ارام غږ یې وویل:

ای د کاکا لورې! ته پوهېږې!؟

ستا کانه په ما هم شوې!

د تره لور یې زړه کې د دې خبرې په خوښی، د جشن په لمانځلو بوخته شوه.

ډېره زیاته خوښه شوه. د خوښی په پټېدو سره یې بیا هم د ډېر وخت چېړلي ارمان د مخ جغرافیه تغیر کړه او په ارام غږ یې وپوښتل:

زه خو ستا د خولې هره کلیمه د زړه په بڼ کې سمبال ساتمه!



ولې څنګه کانه درباندې شوې!؟

د تره زوی یې په ډنډو سترګو او سور شوي مخ خپلې سترګې د تره لور په سترګو کې ښخې کړې:

ته پوهېږې!؟

په خدای چې زه هم میَن شوی یم!!!

د محصل دې خبرې سره یتیمې د اترنګ ډک لاس په خوله کېښود او په خلاصه خوله یې تېزه اوږده ساه واخېسته:

هاآآآ! ته رښتیا وایې!؟

- هوولا، قسم کوم!

د هو کلیمې سره دنګې یتیمې خپله غړۍ د اسمان پر لور هسکه کړه او د لاس په پورته کولو یې خپل پروردیګار رب ته د شکر کلیمې تکرارولې.

سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، مخ یې د محصل ځوان په پرتله څو چنده ډېر سور شو، د بدن په رپېدلي حالت کې یې په خبرو پیل وکړ:

ما ویل کنه چې خدای به دا وخت راولي او مننه له خپل ربه چې زما دعاوې او روژې یې قبولې کړې او دغه کلیمه یې ستا لــــه خولې زما لپاره راووېسته.

ته پوهېږې!؟ ستا د دې خبرې اورېدو لپاره مې د زړه باغ خپلې خوښی صبر کړې وې، څو ته مې د نوم سره خپل نوم او له ژوند سره مې ژوندون وتړې.

د محصل ځوان په ذات کې ضمیر په ویر لاس پورې کړ، چې دا مې څه وویل؟

دا اوس څنګه ووایم، چې دا ته نه، بلکې زه د یو بلې پېغلې په غږ او حسن باندې مین شوی یم، چې لا یې ما کورنۍ هم په سترګو نه ده لیدلې.

خو د خوښی په تخت او تاج سپره د تره لور یې چې لیده، ورته یې هېڅ نشو کولای، چې د خپلې مینې مجبوری وروښایي.

بیا – بیا یې زړه غوښتل، چې ورته ووایي:

د وخت په تېرېدو سره زه د یوې نالیدلې پېغلې په غږ مېَن شوم او تا سره د ښه سلوک علت مې هم همدا وو، چې ما خپله د مینې دغه درد وڅَکه، خو د هغه خوښي او بې کنټروله احساسات یې دغو خبرو کولو ته اجازه نه ورکوله او زړه کې د سر پورته کولو سره سم به دغه خبرې د احساس تر پښو لاندې کېدلې. زړه یې نه منله، خو بیا یې هم په خاموشی د خپل زړه ټول شور او زور وخوړ.

د  زړه له ټولو دردونو یې لمبې وویستې.

دې فکر یې رنګ نه وینه وچه کړه، د نور څه ویلو جرئت یې ونشو کولای؛ غوښتل یې چې حرکت وکړي، خو د حرکت سره سم یې د تره لور لاس وروغځاوه او له لاسونو یې ونیوو:

د تره زویه! هېڅ نه پوهېږم، چې څنګه درنه مننه وکړم!؟

ستا د انتظار غمونو خوړلم. په هره ستونزه کې مې ستا د مخ پسې خپل مخ لکه هنداره ګرځوله. خدای ته روژې به مې نیولې او په نیمو- نیمو شپو به مې له خدایه غوښتلې.

تا چې زما مینه ماته ډالی کړه، خدای دې زما ټول ژوند تاته ډالی کړي!

زما د ژوند ټوله خوښي دې ستا شي او ستا ټول دردونه دې زما شي.

دې خبرو کې یتیمې نجلی هڅه کوله، چې له خپلو سترګو بې واره روانې اوښکې راکابو کړي، خو هېڅ پرې لاس برې نه وه.

د تره زوی یې دې حالت ته په لیدو په ځان باندې لعنت وایه، چې ولې یې داسې وویل او ولې یې داسې وکړل!؟



د مینې تبې نیولې تره لور یې لاس کې د خپل تره زوی دواړه نیولي لاسونه خپلو شونډو ته پورته کړل. خپلې شونډې یې پرې زور او بیا یې ښکل کړې.

د محصل ځوان لاسونه سرو شونډو په خپل ګرمایش سم وسېځل او د زړه په زور یې مسکا وکړه:

د ساعت له ډالی دې مننه کوم!

- اووو!

ته ساعت یادوې، خو زه ستا د دغې خبرې له اورېدو وروسته د مننې هېڅ الفاظ نه لرم!

وایم، چې چغې ووهم او د زړه خوښي په دې ټوله دنیا واوروم.

محصل ځوان ته د زنګ راتګ دغه خبرې رالنډې او پرې کړې.

ځوان روان شو، یتیمې نجلی له ډېرې خوښی بېرته خپلې خونې ته منډه کړه او خپل رب ته په سجده پرېوته، چې دغه ناکرار ژوند یې نن د مینې په خورا تېز شور او غوغا سره تر اسمانه تسلي شو.

د پسرلي په رنګونو یې زړه کې د خپل تره زوی مخ ته د ګلانو غوټۍ جوړې کړې او ده ته ډالی شوې جامې یې څو- څو ځل ښکل کړې.

بهر راووته. هره ګړی به یې د خپل تره زوی د کتلو او ځارلو هڅه کوله.

د یتیمې په څېر محصل ځوان هم د سرو لمبو اور ته دانګلي وو او د مینې دغې پاکې کلیمې ورته ټول بدن سم زهرجن کړی وو.

په ښکاره د ښو، خو په زړه کې دغې بدې تمې محصل ځوان سخت ځوراوه.

د پسرلي ښایسته باد یې په زړه د اوړي بَرو لړېده او په خوړین زړه یې د فکر ټولې غوټې په خاموشی سپړلې.

محصل ځوان هغه مست غر له امله، چې د ده زړه ته یې لار کړې وه، هېڅ د خپل راتلونکي برخلیک په اړه نه پوهېده.
په وچو شونډو یې د اوښکو ډک لېمه پاک کړل او فکر یې روان حالت ته راوګرځاوه.
د تره لور یې د ده په لیدو د خوشالی نه من- من غوښې اخېستې.
دغه عجیبه منظر او کېف ورته لکه خوب هېڅ د باور نه وو.
محصل ځوان د خپلې مور پوښتنې ته ځو- ځو ځل راغی، د تل په څېر یې بیا هم لیدل، چې د تره لور یې له ده زیاته د ده د مورکی په فکر کې ده.
دغه ځای د محصل لپاره داسې شو؛ لکه نن چې ځمکه ترې د دومره ګرځېدو غچ اخلي او پر سر یې بار وي.
په زړه کې د وېرې په انتها یې قدمونه اخېستل او هر ځای ته په تلو کې به د دغې خبرې سودا سمه ځان سره ګرځوله.
هوډ یې وکړ، چې ورته به د لږ وخت وروسته وایي:
یوه خبره وه، چې هغه وخت درته ما هېڅ ونه کړای شوه!
زما په مغزو کې لکه یو پور، هغه وخت هم وه او اوس هم ده.
غوښتل مې چې په هاغه ورځ یې درته د مینې کلیمې سره تړلې وکړم، خو تا د مینتوب توري په اورېدو دغه خبره زما په خوله کې وچه کړه!
تا دغې کیسې ته په سر سري سترګو کتل، خو خبره نه وې، چې د بم او ټوپک په سیمه کې زما د عاشقی زندګۍ څومره زوَر او زِبر لري؟
مراسم خلاص شول، خو د یو زړه په درد او د بل په زړه خوښی چغې او ټوپونه کول.



د زړونو جواری کې محصل ځوان په دوه جالونو د فکر په دښته هره ګړی کړل- رېبل کول او داسې یې انګېرله، چې که د تره لور زړه او روان حالت یې خوښ وساتم، ممکن زه به هم د جانان په نوم ودان شم.
بیا به مې دغه د ارمانونو او دردونو تیارې نشي پټولای.
په همدې فکر یې شپې ورځې سبا کولې او ښکلی ژوند یې اوس په اسانی د ګل د خاندان لپاره بې پرهره دردونه زغمل.
اوس نو هاغسې هڅې د محصل له لاسه پاتې وې. چې ټوله شپه دې درسونه وایي؛ ځکه چې د درس او مطالعې سربېره ورته نورو کارونو هم په زړه منګولې ښخې کړې وې، چې د ښې سترېا وروسته به بیا خوب ته تسلیم شو.
د تره لور به یې هره ورځ د خپلې مینې په یاد خپلې شپې سبا کولې.
محصل ځوان به کله- کله هېڅ دا خبره نه منله او انکار به یې وکړ، چې ګواکې دا دې مین شوی وي؛ ځکه د خپلې تره لور مینه به یې چې لیده، خپله مینه به ورته لکه صبح کاذب دروغجنه ښکاره شوه.
د دې ټولو کارونو او ستمونو سره بیا هم محصل ځوان د مبارزې لار خپله کړې وه.
خپله سزاواره مینه یې هېڅ نشوه ښکاره کولی او دغه د زړه بیماري یې په زړه تېروله، خو زړه یې هم هېڅ نشو صبرېدی.
یو ورځ له پوهنتونه کور ته راغی. له کورنی سره د سلام او سترې مشې- وروسته یې خپلې خونې ته د تلو تکل وکړ.
خوېندو او مور یې خپلو کې خبرې سره کولې:
فکر نه کوم که وریې کړي!
- نه نو هغه کورنی خو هم بده نه ده!

- نه-نه!

زموږ د کاکا لور وایي، چې زه لا واده کولو ته اماده نه یم. د هغه لا اوس پوهنتون کې دوهم سمستر دی، شرعیات وایي!

- امم کنه! هغه وایي: ماسټري چې ونه کړم، واده نه کوم!

دې خبرو محصل ځوان وره کې ودراوه. متوجه شو، چې دوی د هماغې یتیمې په اړه خبرې کوي. ویې وپوښتل:

څوک مور جانې!؟

- څوک نه ځویه!

هغه د کاکا لور پسې دې خلک ځي- راځي، د هغه په اړه مو خبرې کولې.

- ښا-ښا!

کاکا مې څه وایي!؟

ورکوي یې؟

- نه پوهېږم زویه!

کاکا دې نجلۍ ته ګوري او د نجلۍ خوښه نــه ده.

- چې ویې کړي، ورته ښه دی کنه!

هغه هلک هم ډېر هوښیار او ځیرک دی، فکر کوم هغه حقوق وایي!؟

- ولا زویه له هلکه خبره نه یم، خو د کاکا لور غوندې بااستعداده، ښکلې او باادبه نجونې به ډېرې کمې پیدا شي.

- ربښتیا هم ډېره حیاداره نجلۍ ده!

- زویه څنګه چل دی!؟ که خوښه دې وي، چې موږ پرې خپل پړاو وروړو؛ ډېره خوشبخته به یم، که مې دغه پېغله اینګور شي!؟

محصل ځوان د خپل هغه احساس له امله رنګ یو دم والوت، په تړتړۍ ژبه یې وویل: نــ ، نه مورې!



موږ لا واړه یو، دا چې خپلو درسونو ته ورسېږو، همدا هم بس دی؛ زه ځم درس وایم، چې سبا په یوې موضوع باندې کورنۍ دنده راکړل شوې!

مور یې په مسکا ورغبرګه کړه:

سمه ده زویه ولاړ شه؛ څښتن دې بریالی لره!

محصل ځوان دغه ښه فرصت وګاڼه، چې تره لور ته د دې رشتې په قبلولو قناعت ورکړي.

زنګ یې وروواهه. د هوکۍ کولو سره سم یې د تره لور سلام وکړ.

محصل تره زوی یې د سلام اخېستو سره سم د کورنۍ د غړو پوښتنې پیل کړې.

د احوال پوښتنې وروسته محصل ځوان خپله خبره جوړوله، چې له کومه ځایه او څه ډول یې ورته پیل کړي؟

وېرېده په دې، چې سترګو کې یې د بې وسۍ او خفګان نم نشو لیدلی.

خبره یې لړه راجوړه کړه:

څه خبرې دي ستاسې لور ته!؟

د تره لور یې پوهه شوه، چې دا خو هسې- بېسه زنګ نه وهي، حتماً د دغو خلکو له راتګه خبر شوی، ورغبرګه یې کړه:

خېریت دی کاکا زویه!

مړې رشتې زموږ په ژوندۍ مینې هېڅ اغېز نه شي پرې باسلی.

پوهېږم خبر شوی یې، چې ځینې خلک موږ کره د رشتې لپاره ځي- راځي.

ما هم ورته خپلې زده کړې پلمه کړي.

نن مې مور ته ویل:

ورته ووایه، چې هسې دې شله ګي نه کوي.

د تره لور یې نور هم څه ویل، چې محصل ځوان ترې د خبرو نـمبر واخېست:

مړې واده خو ټوله لانجه وي، زه خو هېڅ واده نه کوم.

پېغلې تره لور یې ترخه مسکا وکړه:

اممم کنه!

ته خو یې چې بیخي ونه کړې، د نازولي هلکانو په شا د الوګانو بنډونه او د ماشومانو پمپرونه هېڅ ښه نه ښکاري!

او بیا چې شپه کې د درسونو پرځای د ماشومانو ترنمونه واورې، نو د ورځې به دې دفتر کې به هم غوږو کې انګازې کوي.

یتیمه په خندا کې په ملا راماته شوه او دواړو په خلاص زړه وخندل، محصل ځوان غوښتل خبره بدله کړي، خو د طنزي خبرو مساله دومره ډېره وه، چې د هغه نورو خبرو خوند یې له منځه وړی وو.

محصل تره زوی یې خندا کې وویل:

هو کنه هغه کشری تره مو وګوره!

هغه بله ورځ ورکره تللی وم، هغه چې مور به یې په تشو خبرو او ناستې رټلو، هماغه تره مو پروت وو، په اوږو یې دواړه بچې ناست وو او زمور بېچاره تره یې له غوږونو نیولی آچا- آچا یې کول.

یتیمې نجلی په کړس- کړس وخندل:

ربښتیا!؟

- یقین وکه، حېران ورته پاتې شوم، مال قربان له مجرتی!

- ځان ورته بیا تېنګ کړه نو کاکا زویه!

دا نازولتوب دې بیا نه چلیږي!

محصل په خندا کې د خبرې بدلېدو په فکر کې شو:



دا خلک چې تا یاد کړل، څوک دي؟

- څه یې کوې؟

زمور یې پرې څه؟

خپل کار به کوې!

او ته ولې تشویش کوې؟

بېغمه اوسه! خپل درسونه دې وایه!

ما درته ویلي، چې ستا د انتظار لپاره به تر ابده د صبر شېبې ښکلوم.

دغو مینه ناکو خبرو یو ځل بیا د محصل په خوله کې راوړې خبرې وچې کړې او د لږو نورو خبرو وروسته یې خدای پاماني وکړه.

د پلار له مینې بې برخې پېغله نوره هم د خوښی په ټغر کېناسته، چې د تره زوی یې د دې لپاره زنګ ووهه، چې ګوره پام دې اوسه!

خبر نه دی، چې زه به هېڅکله له ده پرته بل څوک ونه کړم.

د محصل ځوان زړه په هغو خبرو، چې بېغمه اوسه او تشویش مه کوه، لا څړیکې وکړې.

حېران فکره یې ځان سره ویل:

ولې هر څه چې زه غواړم د دې نجلی سره په جدایی یې وکړم، په نږدېوالي پای مومي؟

د خپلې تره لور د زړه لپاره به یې ډېر کله چوپتیا غوره ګڼله. د هغه مسافرو هیلو ته به یې لاره پرېښوده او په ارامی به یې ښه راغلاست ورته وایه.

دغه ځوان به چې خپلې مینې کې څومره هم ډوبېده، هومره به د خپلې تره لور مینې ته په درښښت قایلېده.

په خپل سر د خاورو په اړولو راضي وو، خو د بل چا په لږ خفګان به یې د زړه دېوالونه نړېدل.

په رنځ پربوتو هیلو یې د هغې پېغلې پسې سلګۍ وهلې، چې غږ یې پرې د مینې نشه راوستې وه.

د عشق په کلي کې د مینې په دغې باب محصل ځوان هېڅ د خپلې مینې اظهار هغه زړه وړونکې پېغلې ته نشو کولای.

ډېر کله به یې د مینې ډېرې خبرې د یتیمې له افکارو غلا کولې.

د یارانې ګرانې خبرې به ترې نیمګړې پاتې کېدې؛ ځکه که سهار به یې د مینې د اظهار ارادې وکړې، نو ماښام به په خپلې کړې پرېکړې بېرته پښېمانه وو.

په یوې دا او بله په دې مینَه وه.

هېڅ نه پوهېده، چې دغه انتظار کې به د چا زړګي ته لاره کوي؟

د خپلې مینې یې ځکه مزه نه وه، چې دې ورته د مینې اظهار نشو کولای، نه دومره وزګار وو، چې ورته د خپل ژوند تولې خواوې تسلیم کړي او نه یې هم د دنیا له شرمه خپلې لېمې ورته له اوښکو ډکولې.

هغې بله پېغله چې د محصل ځوان له داستانه خبره شوه، هځه یې کوله چې په یو ډول یې فکر هغې یتیمې پرلور وګرځوي. مینه یې ورکوله، خو دومره نه؛ لکه په څومره چې یې تره لور نازوله.

کله خو به له دې غمونو له لاسه خوبونه ترې پاتې شول.

یو ورځ یې کلک هوډ وکړ، چې نن به تره لور ته د خپلې مینې په اړه وایي.

منت به ورته وکړي او که اړینه وه، ژړا به ورته وکړي؛ ځکه نصیبونو سره هېڅوک څه نشي کولای.

دفتر ته لاړ، دندې ترسره کولو هېڅ خوند نه ورکاوه.

فکر یې وکړ، چې څنګه به داسې خبرې خپلې تره لور ته کوي؟

او هغه به یې څنګه اوري؟



دا چې ورته د بلې مینې په اړه وایي، هغه به څه ډول غبرګون ښایي؟

دې پوښتنو ترې تر ډېره وخته لاره ورکه کړې وه، سترګې یې په موبایل ولګېدې. یو دم یې فکر مسج ته شو، چې باید پیغام ورواستوي.

موبایل یې راواخېست او د پیغام په لیکلو بوخت شو:

سلامونه د تره لور!

هیله ده، چې ښه به یې!

غوښتل مې چې د یوې مهمې موضوع په اړه درته ووایم، خو هېڅ مې نشو کولای، چې په خوله یې درته ووایم، ځکه ستا درد او خفګان نشم لیدلی!

ما په هماغه ورځ هم درته د خپلې مینې په اړه ویل، خو ته د مینې په ځولنو کې بندیوانه هېڅ راته غوږ نه شوې.

ستا نه بغیر مې په دې ګرانې زندګۍ کې یوه بله پېغله په زړه ننوتې. زه اوس د بل په خوښه ژوند تېروم. ستا مینې ته په درناوي، زه هم همداسې په هغې نجلۍ مین شوی یم.

هغه مینتوب چې ما تاته یاد کړی وو، هغه احساس ستا په وړاندې نه، بلکې د دغې نجلۍ په وړاندې وو.

ستا مینې ته چې ګورم، د خپلې مینې له یاده مې سم لکه عذاب یره کېږي، خو دا چې ته هم یوه مینَه یې، نو هیله کوم ما درک کړې او هغه خلک چې ستا غوښتلو ته راځي، قبول یې کړې.

دې لیکلو کې یې تندې باندې د خولو راتلو سربېره سترګو کې هم اوښکې ډنډ شوې.

لاس نیولی یې یو دم فکر وکړ:

که چېرته زما مینه، چې زه پرې مین یم، داسې څه ماته ولیکي، زه به څه ډول احساس وکړم؟

زړه يې لړزه وکړه. موبايل يې پر ځمکه کېښود.

بدن يې دومره په جوش کې راغی، چې ته به وايې تبې نيولی.

ساه يې تنګه- تنګه شوه.

ژر يې اوږده ساه واخېسته:

نه- نه!

زه يو څوک دومره نشم دردولی!

دغه ترخه زهر زه په خپل دښمن هم نشم څښلی، دا خو مې لا د تره لور ده.

په خپلې کړې پرېکړې پښېمانه ښکارېده. غوښتل يې چې همداسې يې پرېږدي؛ کله چې دا د خپلې مينې سره کوږده شي، نو د هغه زړه به صبر شي.

بېرته يې زړه يوه څړيکه وکړه، چې دا بد به يې بياڅنګه هېريږي؟

وايي به: يو ځل خو به دې زه خبره کړې وای!

تا زما د ژوند په سرنوشت باندې لوبې وکړې. ما ستا د خپلولو لپاره څومره انتظار وويستو؟

دا ژوند دې زما مرګ شي، چې اوس دې زما زړه په ځمکه وويشته!

ولې دومره خوږېدې راسره، چې په زړه دې د بل چا مينه وه!؟

نه- نه!

زه بايد دا د دغې جدايۍ نه سر له اوسه خبره کړم؛ ځکه وخت چې څومره پرې تېريږي، هومره درد يې سېوا کيږي.

راځه!

دا تهوږ د هغه جوړ لپاره وکړه!

بېرته يې موبايل راواخېست او د بېلتون تريخ پيغام يې د زړه په ستومانۍ د هغې تر شمېرې ورساوه.



له هر ډول پايلې يې وېره لرله. په وېرېدلي زړه او رپېدلو ګوتو يې د لېګلو تنۍ کېکاږله.

پيغام په روانېدو يې زړه په دربا پيل وکړ.

څو ځل يې نيت وکړ، چې له دې عذاب ورکولو بايد تېر شي، خو پيغام ستنول يې له واک او اختياره وتي وو.

بل پيغام يې هم ورواستاوو:

هيله کوم، زه درته ډېر- ډېر ملامت يم!

ستا زړه او مينې ته مې سلام دی!

خو زه د خپلې صفايۍ لپاره يوه کليمه هم نه لرم!

تاسره د خبرو لپاره د يوې جملې جرئت هم نه لرم، چې ويې وايم!

بيا هم هيله کوم، زنګ راته ونه وهې، کنه ستا حالت او خپل خجالت په ليدو به مې هېڅکله خپل وجدان ونه بښي.

پيغام وګوره او هېڅ راته مه وايه!

زه بيا هم بښنه غواړم!

درنښت

ستا له لوري يو هېر شوی کس

همداسې وشول؛ ډېر وخت واوښت، خو د شوګيرو خوږلې يتيمې هېڅ ځواب رانغی.

محصل ځوان په دې چل خپل وجدان يو څه راحت کړ.

د تره زوی به يې کله سودا شوه، چې زما د خبرو داسې چغار هغه په دې ډول خاموشه نشي پرېښوداي.

بيا به يې ځان سره ويل:

هغه باید خپل د ژوند کاروان همداسې پر مخ بوځي. خیر که نن په شپه یا ورځ کې یو څه درد تېر کړي، خو دا د زړه پټ لړ درد به ورته له هغې ناخبرې مینې او ډېر درده ښه وي.

اوس د ځوان په زړه هغه تېرې اجباري خبرې نه راتلې.

محصل ځوان خپلې هغې مینې سره چې په غبږ یې خپل خوږ ژوند پیکه کړی و، د اړیکې پرمخ وړلو په هڅې اکتونه کول.

یو شپه ګوري، چې د کلي دنګ چینارونه د اور لمبو په سراخېستي. د سوځېدا په غم یې غرونه او ګودرونه په ژاړ لکه سیندونه اوښکې بهوي.

د تره لور یې په سوي زړه او وچو شونډو د ګودر پر غاړه مات منګی د تخرګ لاندې نیولی، خپل زړه یې له ټټره راوېستلی، ترې وینې څاڅي او دا ورته ژاړي، له ځانه سره وایي:

د هغه زړه به څه کرار واخلي؟

څوک چې د چا د ژوند ازار واخلي

د ارمانونو په غولېدونکو خبرو مینّه پېغله کراره د ګودر په غاړه ساه نیولې ناسته وه.

محصل ځوان د دې حالت په لیدو سخت غمجن شو او د ورتلو تکل یې وکړ، چې هغه مهربانه او هوښیاره څنګه نن د خپل ځان قاتله ګرځېدلې؟

یتیمې ته هغه تېرو یادونو سم ټالونه ورکول او د مینې په مشغولا کې یې خپل پرهري زړه د لاس په ورغوي کې نیولی، د مینې دومره ترې ښکاري، چې آن د جبین خال یې هم دیدن پسې زړه چوي.

په تورو شپو کې له ځانه ورکې پېغلې یواځې همدا ویل:

ته څومره راته ګران وې!؟

په کتو کې دې له نازه ډک کتل څومره راته ګران ول!؟



ډېر راته مهربان ښکارېدې، خو دې دوه مړو سترګو او وران فکر دې ډېر ورانی راسره وکه.

محصل ځوان یې د نوم په اخېستو ډېر غږونه وکړل، خو هغې خپل سر ټیټ اچولی وو او پَلو کې یې خپلې اوښکې رغړولې.

طلایي زلفو یې له دردونو ناخبره په مخ باندې لکه د ماشومانو سم ټالونه خوړل.

د پېغلو له سېله بېلې شوې یتیمې خپل سر کې د یوه ځوان خیالونه لرل. په زړه کې یې ځښتن ته سوالونه نیولي وو، خو له خپل پېغلتوبه ورته حیا ورتله، چې ډېره به حیا واخېسته، په سرو منګولو به یې د خپلې ښکلا او ځوانۍ بندونه پرې کول.

محصل ځوان بې کوره شوې تره لور پسې ورمنډه کړه، چې له دې کاره یې لاس ونیسي.

د رسېدو سره سم یې تره لور ترې مخ واړوو، له سپینې خولې یې بېلتون خنداګانې وړې وې.

محصل ځوان یې لاس ونیوو او په ځاریو یې ورته شروع وکړه، خو هغه د زړه له ناچارۍ ډېره تنګه شوې وه.

باران لمده کړې نجلی په ټټر کې د زړه پر ځای سکروټې اچولې وې.

سرو سکروټو په ټټر کې د سوځېدلې غوښې سم وږمونه ورول.

محصل ځوان یې مخ او سترګې په دواړو لاسو خپل لور ته متوجه کړل.

تر ډېره یې په مړو سترګو یو بل ته کتل.

د نجلۍ سپینه خوله خاموشه، خو په سترګو کې یې رڼې اوښکې سلامي ولاړې وې.

د لږ ساعت يو بل ته د کتلو وروسته لکه په تره لور يې چې الهام وشي، اوږده ساه يې واخېسته.

خپل زړه يې لاندې په خاورو کې وغورځاوو او د خپلو وينو په سرو شويو منګولو يې د تره زوی لاسونه ونيول.

دنجلی هغه دنګه مسته ځواني نن ډېره مړاوې ښکارېده.

په الوتي او پيکه رنګ يې د خپلې مينې لاسونه له مخه لرې او په خپل ټټر يې کېښودل.

د محصل ځوان لاسونه په ټټر کې پرتو سکروټو سم وسېځل، خو بيا يې هم په توره تياره ګوګل کې د زړه په څېر د دربا چغې اورېدې؛ لکه د مينې قحط چې پرې تېر شوی وي، په ټټر يې ساړوبې خپره وه. د اسمان باران يې لکه پټرول نور هم دردونه، غمونه او اورونه تازه کول.

محصل ځوان خپلې بې وسی او په دغې مينې کې بې خوندی ډېر خجالت کړی و.

هماسې په مړو سترګو يې يو بل ته کتل، يتيمې هم د محصل تره زوی دواړه لاسونه خپل زړګي پورې نيولي او له همدې لاسو يې د اکسيجن په څېر ساه اخېسته.

د بدن په بادشاه سمه کودتا شوې وه؛ ځکه خو اوس له ګوګله بهر وتلی هغه زړګی په ډېرې بې رحمی پر ځمکه پروت وو.

ډېر وخت واوښت، د محصل ځوان فکر ځای ته راغی او په خپل غږ يې د خاموشی پردې وشيرلې:

دا دې څه کړي!؟

د تره لور يې لکه هېڅ يې چې نه وي اورېدلي، هماغسې خپل بانه رپول.



محصل ځوان بيا په خپلو لاسونو د تره لور هسکه غږی ټينګه ونيوله او د لاس په ټکان يې په زوره ترې وپوښتل:

تاته وايم!!!

سترګې دې راويښې کړه!

يو څه ووايه!

دا په ځمکه پروت په تورو خاورو ککړ زړه د چا دی!؟

په دې چغو يتيمې ورو ورغږ کړ:

ته څوک يې چې له ما پوښتنې کوې!؟

- زه يم، زه!

ولې ما نه پېژنې؟ ستا د کاکا زوی!

دا زخمونه او دا وينې ولې!؟

د تره لور يې بيا هم په ډېر ټيټ غږ خبره وکړه:

تا نه پېژنم، خو دغه زخمونه مې ډېر ښه پېژنم؛ ځکه همدغه زخمونه مې دوا او خندا ده، همدا راته ساه او رڼا راکوي.

د محصل ځوان چې له س۱ترګو بې واره اوښکې روانې وې، په وارخطا فکر يې د خبرو کولو جرئت کاوه، خو لکه څوک چې په خوب کې خپسه ونيسي، هېڅ يې نشوی کولای.

په ژړغونې غږ يې بيا خوله خبرې ته جوړه کړه:

خپل نوم درته بيا واخلم!؟

زه يم، ستا هغه مينه، چې تل به دې غوښتلم!

دغه دی نن درته راغلم!

ته چې څنګه غواړې، نن هماسې کوم!

د یتیمې سترګې د دې خبرو په اورېدو بې واره ورپېدې او د تره زوی لاسونه یې یو ځل بیا ټینګ ونیول:

ګرانه ته یې!؟

ښه ده چې راغلې، خو زما له سترګو د بې وسۍ اوښکو نوره کډه کړې.

ستا د پیغام په لیدو مې ژوند لکه د اوسپنې چیچل وو.

ما خپل ژوند تاته ډالۍ کړ!

ما مې بدن او زړګي دواړو ته سزا ورکړه!

وګوره!

زړه مې له ځانه ایسته غورځولی او راسره بدن مې هم د خوړلو زهرو له امله په کراره نه دی پرېښی.

زه درنه ځم!

نور به زما له امله زما خوږ جانان نه ځوریږي!

له هر چا سره چې مینه لرې، رب دې وروسوه، خو هغه ته زما دا خبره هم ورسوه، چې یتیمې تره لور مې ویل:

زما په نازولي تره زوی ډېر پام کوه!

نور یې هم څه ویل، خو راغلې سلګی یې خبره خوله کې ذرې- ذرې کړه!

محصل ځوان باندې په دې خبرو غټه دنیا تنګ قبر شو، غوښتل یې چې چغه کړي، خو د تره لور له خولې راوتې وینې ته یې پام شو، چې د ده په سپینو جامو تویېږي.

زغم او حوصله یې بیخي له واکه ووته، د تره لور یې غېږ پورې ټینګه ونیوله او په خورا زورور غږ یې یوه چغه وکړه:

نـــــــــــــــــــــآ!!!



په دې غږ یې خپله بستره کې خوَله- خوَله ستړی او ستومانه سترګې وغړېدې، مور او خوېندو یې هم د ده په چغه ځانونه راورسول.

د زړه دربا یې سمې چغې وهلې. د بدن رېږدېدو یې سړې ته سړه لړې تبه ورپه زړه کوله.

د کورنی بار- بار ولې پوښتنې محصل اړ کړ، چې ووایي:

ووېرېدم!

د مور یې دې پوښتنې، چې ولې زویه!؟

څه ډول وېرېدل؟

محصل ویل:

مورې چا وژلم!

زړه یې راته په خاورو کې غورځولی وو او په خوله یې زهر راکول.

مور یې د دې خبرې په اورېدو د زوی په خوله لاس کېښود:

چپ شه زویه!

خدای دې دښمن مړ کړه!

کله- کله داسې خوبونه خلک ګوري!

هېڅ تشویش مه کوه!

خدای به اوږد عمر درکړي.

د یو څه وخت ناستې وروسته ټول بېرته لاړل، خو ځوان په سوچونو کې ډوب شو:

ښه چې دا پیغام یې لوستی وي، نو څه فکر به یې کړی وي؟

زړه به یې څومره ازار کړی وي؟

څومره به ناهیلې شوې وي؟

او د خفګان خو یې اندازه نشم کوی!

محصل ځوان کلک هوډ وکړ، چې سبا به د خپل تره کره ځي او د تره لور احوال پوښتنه به کوي.

سبا سهار یې مور ته ویل:

مورجانې غواړم نن تفریح وکړم، که اجازه راکوې، نو غواړم چې کلي ته د کاکا دوی کره مې لاړ شم؛ فکر به مې لږ تغیر شي.

راتلونکې شنبې ته مې ازموینې دي، د هغه لپاره به هم لږ تازه شم!

مور یې د خپل زوی غوښتنه ومنله او ځوان د ځانښت په وخت کې د خپل تره کره د ورتلو پړاو وروړ.

د ننوتلو سره سم یې اوتر- اوتر کتل کول.

ټولې کورنۍ سره یې روغبړ وکړ، خو د تره لور یې نه ښکارېده. تشویش کې شو، د یو څه وخت تېرېدو وروسته یې له تره ښځې وپوښتل:

د کاکا لور مې نه ښکاري!؟

ښه خو به وي؟

د تره ښځې یې ټنډه گونځې شوه:

ده نو زویه!

ازموینې یې خلاصې شوې وې، یوه اونۍ رخصت ول.

بیا دا څو ورځې یې ویل زړه مې ډېر تنگ دی، پرون یې ماما ورپسې راغلی وو، ځانته سره یې بوتله. ویل هلته یې د ماما لورگانې دي هغو سره به یې فکر لږ بدل شي.

د محصل ځوان بېگانی خوب او اوس داسې کار په زړگي سمه ساډوبي راوسته، خو خپلې کاکا ښځې ته یې د تایید سر وښوراو.

ډېر وېرېده، چې داسې نه د خوب په څېر کوم کار ته لاس وانه چوي، بیا به یې خپل وجدان د ژوند تر پایه ځوروي.



غوښتل یې چې یوه لار پیدا کړي، څو د هغه فکر مالوم کړي او د ژوند جوړولو او کولو فکر ورته زړه کې واچوي.

تر ټولو مهمه دا چې د هغه لېږلو پیغامونو په اړه هم وضاحت ورکړي، چې په بشپړ ډول یې تمه ورنه وشکېږي.

یتیمه هم ماما کره زړه ارامه نه وو؛ ځکه چې مین زړگی یې له جهانه د جانان پسې روان وو او د هغه په تشه خندا یې د ټولې دنیا د قربانښت تکبیرونه ویل.

نارامه زړه ورته د ډېر پاتې کېدو اجازت ورنکړ، نو ورځ- دوه پس بېرته خپل کور کې د مور څنگ ته راغله.

د روغبړ او بلها نورو ډېرو خبرو وروسته یې مور ته په ټوکو کې ویل:

بیا مې هم د ماما گانو کور ودان، مامالورگانو سره مې سم سات تېر شو او ماما گانو مې هم ډېره مینه راکړه.

شکر چې ماماگان لرم!

دې خبرو کې یې مور ترې د خبرو وار واخېست:

هغه ورځ دې د مشر تره زوی هم راغلی وو؛ بیا یې ستا پوښتنه وکړه، مال هغه ماما سره تللې.

یتیمه د تره زوی نوم په اورېدو کټ کې هسکه شوه، غړې یې لکه زانه اوږده کړه:

رښتیا!؟

څنگه وو؟

ژر یې خپله پښتنه حیا مخته شوه:

کورنۍ یې څنگه وه!؟

کاکامې!

د کاکا ښځه او د تره لور ګانې مې!؟

- ویل ټول ښه دي، خو د مور یې فشار بیا لوړ شوی وو، هغې ته لږ خواشینی وو.

نور یې د ټولې کورنۍ د روغتیا ډاډ راکړ.

نجلۍ زړه کې یو بل شور ګډ شو، چې کاکا زوی به یې څنګه راغلی وو؟

د څو ورځو وروسته یې هم فکر کې همدې خبرې غوټې وهلې. اخر یې خپلې مور ته ویل:

مورې د کاکا ښځې پوښتنې ته نه ځې!؟

- ولا زړه خو مې وو، ستا له ویلو وړاندې مې هم سړي ته ویل:

مال چې یو ځل ورشم، ویلې زه چې له کابله راغلم، بیا ته او لور دې دواړه لاړې شئ!

د پلار له مینې بې برخې پېغلې د دې خبرې په اورېدو له ډېرې خوښۍ خپله مور په غېږ کې ونیوله او د خپل تره کره د تګ شیبې یې شمېرلې.

د شپې یې رڼې سپوږمۍ سره په خبرو کې د زړه راز او نیاز کاوه:

ای زما جانان ته لیدونکې سپوږمۍ!

په هغه کلي کې هم ځلېږې، چې زما مینه په کې ژوند کوي؟

راته ویلای شې، چې زما د لالي حال څنګه دی؟

څه کوي؟

زما هغه مینه خو ترې هېره نه ده؟

د زړه هغه بد احساس او د غلط غیرت اور یې مړ شوی که نه؟

زه خو یې بدلونونه احساسوم، تاته دا بدلون ښکاري که نه؟

زما قربانۍ او خوارۍ خو به بې ځایه نه وي؟



هماسې د ځوانۍ په غرور کې دی، که نه زما مینې ترې لکه د ژرندې پَل غرور مېده کړی؟

په زړه کې یې زما د مینې مړه ډیوې هماسې بله ده، که نه د پخوا غوندې بیا مړه شوې؟

داسې یو عالم پوښتنې به یې له سپوږمۍ څخه وکړې.

بیا به مسکۍ شوه، چې ای لېونۍ سپوږمۍ!

ته څه خبره یې!؟

ته خو یې زما نه هم له لرې تماشې کوې!

خو بختور په دې یې، چې هغه ستا تماشه کوي.

ته ګوره، چې د پاک او مهذب شخص په لیدو دې مخ څومره ښکلی ښکاري؟

راځه په دې مینې کې د چل ښودلو سبق راوښایه، چې څنګه یې ستا په څېر د خپل مخ په دیدن روږدی کړم؟

دې خبرو به یې د ترې زړه د غوښتنې کفاره یو څه پوره کړه او هیله منده به یې خوب ته ځان سپاره.

ځوان به خوب کې خپلې تره لور ته په هغه پوښتنو ډېرې توبې وېستلې او د زړو خبرو په اړه به یې قسمونه ورته کول.

یتیمې به هم خوب کې خپله مینه رابلله او د زړه غوښتلو په ټینګار به یې سترګې خلاصې شوې. په تورې شپې به یې خوب کې تره زوی سره د ویشتلې زړه په بدل اخېستو ښه مجلس وکړ:

کله به وې؟ چې راته ووایې قربان!

او په دې سره مې ټولې اندېښنې راته ووایې، چې مور لاړو بس دلوی الله پامان.

خوښي به مې ملګرې او مصیبتونه به مې کډې وکړي.

رب دې زما نه مه جدا کوه، ستا له یادونو پرته زه هېڅ نه یم!

هرې خواته زما سترګو کې ښکارې. زه نه پوهېږم، چې ته مې زړه او که سترګو کې اوسېږې!؟

دا چې شیندلی زړه مې په تا باندې راټول دی، پوهه شه، چې دا زما د مینې انتها ده.

د یتیمې پلندر له کابله راغی، مور او لور هم سبا ته د محصل ځوان کره د تلو تکل وکړ.

د یتیمې په خزان وهلي زړه د تګ په خوښۍ پسرلي په راتلو شول.

هغه سترګې به اوس څنګه وېدې شي، چې د دیدن په انتظار وي؟

که دا شپه زر کاله هم اوږده شي، سترګې به خپلې پردې راټیټې نه کړي.

د یتیمې هېڅ صبر نه کېده، سبا سهار وختي یې ټول کارونه خلاص کړل او د مور سره د مشر تره کور پر لور وران شول.

د محصل ځوان سره لګېدلي زړه د خوښۍ له امله سم ټوپونه وهل، د کور په لیدو یې په سترګو کې د خوږې مینې نظر ځغاستې وکړې.

د تره زوی کور په لیدو یې اننګي لکه د ګلاب تک- سره شول.

دروازه کې یې تره زوی له کوره په وتو ولید. غوښتل یې چې ورغبرګ کړي، خو له موره ورته حیا راغله، مور ته یې وویل:

مورې!

هاغه دی د تره زوی مې!

د مور یې په سترګو اړولو د محصل ځوان هم ورپام شو، په چابکو قدمونو یې ځان تر دوی ورسوو.



د تره لور یې خپلې مینې ته په کتو کې نوره هم احساساتو کې راغله، خپل سره لاسونه یې په خپل مخ کېښودل.

مسکا یې وکړه او د مور وروسته یې خپل تره زوی ســـره ستړې مشې- وکړه.

د تره زوی یې یتیمې مخ ته په کتو د ډېرې خوښۍ تمثیل وکړ، خو له هغه یې ډېر مخ سور شو، د تره لور یې چې ورپام شو، ویې خندل.

هغه هم د مېلمنو سره ښرته د خپل کور پر لور وګرځېد.

د تره لور مینه یې په سترګو کې غوړېده.

محصل ځوان له خپلې یتیمې تره لور نه ډېر وارخطا ښکارېده.

هغه د انکار پیغام او وروسته یې دردوونکې انګاري خوب مخته نېغ لکه څلی ولاړ و.

کور ته ننوتل، له ټولو سره ستړي مشي وشوه. ځوان د لږ ساعت ناستې وروسته د مور په اشاره له خونې رابهر شو.

مور یې ورته د سودا راوړلو ویل:

زویه!

نن دفتر ته مه ځه!

پلارجان دې هم نشته، لاړ شه سودا راوړه!

محصل ځوان بیا هم د تل په څېر د خپلې مور خبره د سترګو په تایید ومنله او د سودا راوړلو په موخه له کوره بهر شو.

په لاره کې یې فکر شو، چې د تره لور یې کباب خوښ دی، د نورې سودا ترڅنګ یې کباب هم واخېستل.

کور ته راغی، دا چې وزګار وو او هوا هم ورځ تر بلې په ګرمېدو وه، محصل ځوان له وخت څخه په ګټې اخېستنې د برېښنا په تارونو خپل ځان بوخت کړ او دېکو ترځنګ د ائرکنډېشن په فعالولو بوخت شو.

خبرې اترې یې په ډېر ډار کولې. حېران وو، چې څنګه د هغه پیغام سره-سره یې بیا هم د تره لور هېڅ تغیر نه دی کړی؟

شوخې پېغلې خپله شوخي راښکاره کړه او غږ یې وکړ:

برقي صیب ګوزاره کوه، چې برق ونه نیسې، تا خو هسې هم نشې نیولی!

د تره زوی یې ژر ځواب ورکړ:

سمه ده انجېنر صیبې، پام کوم!

د لږ ځنډ وروسته یې د لوڅ لېن پټولو لپاره پرځمکه پروت رابرټېپ تـه اړتیا شوه. د کورنۍ غړو تـه یـې غـږ وکـړ، مخکې لـه دې چې هغـوی ورورسي، یتیمه تره لور یـې نیغـه ورپاڅېده او تـک-سـور رابرټېـپ یـې د تـره زوی پـه لاسونو کې کېښود.

ځوان ته هغه د شپې خوب رایاد شو، چې د تره لـور یـې د رابرټېـپ پـه رنـګ سور زړه خپل لاس کې نیولی وو، ډار یې زړه ته راغی!

سم سر پرې وګرځېد، ژر کېښناست.

د تره لور یې مسکا وکړه:

څنګه چل دی برقي!؟

برقیتوب هم سخت دی نو!

محصل ځوان د خبرې پټولو لپاره د تره لور خبرې تایید کړې:

هو ولا!

تر ډېره بره ولاړ او بره لاسونه نیول سړی ستومانه کوي، په ما خـو سـم سر وګرځېد. د نردې کېدو سره یې ورو ورته وویل:



تر اوسه دربانډې سر نه ګرځېده، خو چې زه پاسېدم، چپه دربانډې راغله!؟

محصل ځوان یې په خبرو لا د حېرانۍ فکرونه کول، چې دا څنګه چل دی؟

د هغه پیغام او د اړیکو پرېکولو سربېره بیا هم دا ماته مینه یادوي؟

هېڅ باور یې نه راته، چې د تره لور یې د هغه بېلتـون تـریخ پیغـام څخـه پـه ذهن کې کوم ټکی ولري.

خونه کې د برېښنا تارونو جوړولو وروسته بایـد محصـل ځـوان د بلـې خـونې تارونو جوړولو پسې تللی وای، خو له نورو خونو یې خپله خونـه وړانـدې کـړه او د تره لور ته یې په ریشخندي ډول غږ کړ:

شاګردې!

دغه د برېښنا سامان راپسې چلوه نو!

مور یې خپل زوی ته تندی تریو کړ او یتیمې ته مخاطب یې وویل:

ته څه لورې کېنه، زه ورسره مرسته کوم!

د دې چې په ټوکو او یا کار کې خبره مخکې لاړه شي، بیا مېلمه او کورېه نـه پېژني!

یتیمې په مسکا وویل:

نه مورې دا څنګه کېدای شي؟

تاسې مشران یاست! زه ورسره مرسته کوم!

خو په ډېر ټینګار سره بیا هم د محصل ځوان مور یتیمـه نجلـی لـه مرسـتې څخه ونشوه ګرځولی.

محصل ځـوان دخپلـو وسایلو سره خپلـې خـونې تـه لاړ، یتیمـه نجلـی هـم ورپسې وه.

خونې ته د ننوتو سره سم محصل په دې تمه وو، چې د تره لور به یې ورته پیلوي، خو ډېر وخت تېر شو، آن د دې خونې تارونه هم ورغېدل، خو بیا هم یتیمه نجلی په مسکا د محصل ځوان لور ته ګوري او خبرې کوي.

ځوان ته فکر پیدا شو، چې له کومه ځایه ورته پیل کړي؟

د لږ سوچ وروسته یې په کمزوي زړه وویل:

د تره لورې هاغه ورځ مې خوب کې لیدلې وې!

بیا مې ستا شمېرې ته د پوښتنې په پار زنګونه وهل، خو شمېره دې بنده وه!

بیا درغلم کور ته؛ هلته هم نه وې، کاکا ښځې مې ویلې:

ماما یې خپل کور ته ځان سره بوتلې!

محصل ګویا چې نور هم څه ویل، چې یتیمې ترې وار واخېست:

هو ولا!

ازموینې مو خلاصې شوې وې، زړه مې کور کې سم تنګ وو، تاسره مې هم اړیکه نشوای نیولای.

بیا مې ماما راغلی وو، ایسته یې راته ویل:

راځه ما سره لاړه شه، د ماما لورګانو سره به دې فکر هم بدل شي او سات به دې هم تېر شي!

بس بیا د اجازې وروسته زه هم ورسره لاړم!

ښه ربښتیا!

زه دې خوب کې لیدلې وم!؟

څنګه خوب وو؟

ماته یې ویلی شې!؟

محصل ځوان وخندل، چې ښه ته دې اول د موبایل ووایه، چې ولې بند وو؟



بیا به زه درته خپل خوب ووایم!

یتیمې تره لور یې مسکا وکړه، چې سمه ده:

موبایل خو دسې چل وو، چې څو- څو ځل به مې سیمکارت کې پیسې اچولې، نو د یوې یا دوو ورځو وروسته به یې ایسته وهلې وې!

څو ځل مې دستګا ته هم زنګ ووهه، خو بیا یې هم زما له سیمکارته پیسې پټولې، خو چې زنګ به مې ووهه، ویلې به یې:

دغه بسته دې فعاله کړې او هاغه دې فعاله کړې!

بیا مې هم ورته وویل:

مال بسته ده او که بکسه، خو نه یې پېژنم او نه هم دومره وزګاره یم، چې دا شیان فعاله کړم. بیا هم هیله کوم دغه غلا مه کوئ!

خو نه کېده!

بله ورځ مې چې موبایل وکته، چې کیسبرې دستګا ترې جېب وهلی، استه مې په دېوال وویشته!

موبایل چې مات شو، نوره غصه هم راغله، ژر مې ترې سیمکارت ووېست او د غاښونو لاندې مې ټوټې- ټوټې کړ.

محصل ځوان د حېرانۍ په مسکا د تره لور خبرو ته غوږ وو.

فکر کې دومره ډوب لاړ، چې د تره لور یې د څو- څو ځل غږ په کولو ایله په اوسني فکر کې شو.

ترې یې وپوښتل:

څنګه چورت کې لاړې!؟

اوس ته راته ووایه، چې څنګه خوب دې لیدلی وو!؟

محصل ځوان تمثیلي خندا وکړه، چې یوه بله پوښتنه هم ځواب کړه، بیا یې وایم!

- ښه ووایه! کومه پوښتنه!؟

محصل ځوان په ترټرې ژبه ورزیاته کړه:

زمـ، زما لخوا خو به درته کوم لیکل شوی پیغام نه وو درغلی!؟

- نه!

ولې کوم پیغام دې راته استولی وو؟

اوس به دا پوښتنه هم راته ځوابوې، چې څه دې راته لیکلي او لېږلي وو؟

محصل خاموشۍ اخېستې پیکه مسکا وکړه.

تر یوې شېبې چوپتیا وروسته ترې تره لور بیا وپوښتل:

څنګه چل دی؟

وایه کنه!

کوم مهم څه دې رالیږلي وو؟

محصل ځوان خپلې سترګې له ځمکې څخه پورته کړې او د خپلې تره لور په شنو سترګو کې یې ننبه کړې:

نآ!

ته رښتیا ووایه!

تا زما له لوري کوم پیغام نه دی لوستی!؟

- یقین وکه چې هېڅ څه مې نه دي لیدلي:

ستا هېڅ څه ماته نه راتلل او ما هم نه چېړلې، مال پرېږده چې خپل درسونه وایي، څه به ورته مزاحم کېږم!؟

محصل ځوان یو ځل بیا د بېلتون په چاړه د دې مینې په پرېکون کې پاتی راغی او ونه توانېده، چې رښتیا څرګند کړي.

حېران- حېران یې خپلې تره لور مخ ته کتل او کرل- رېبل یې کول، چې څه وکړي؟



همدلته ورته ووایي، که نه کوم بل مناسب ځای او وخت وګوري؟

دې فکر کې وو، چې د تره لور یې په مینه ناکې مسکا بیا وپوښتل:

ووایه کنه محترمه، څه دې رالېږلي وو!؟

زما دې ورته ژبې کړه!

محصل تندي ته ټپ ورکړ او اوږده ساه واخېسته، غوښتل یې چې همدا اوس باید ورته ووایي. مصنوعي مسکا یې وکړه:

د تره لور!

یو عجیب او غریب مسج مې درلېږلی وو. په ډېر فکر او تفکر مې درلېږلی وو، باور وکړه چې په لیکلو مې ټول بدن رپېده او په تندي مې د مړو خولو ترڅنګ سترګو هم رڼې مړې اوښکې توی کړې وې.

دا چې د تره لور یې مثبت فکره وه او تل به یې مثبت فکر کاوه، نو دا یې هم د ځان په اړه د کوم ښه خبر زېری ګاڼه.

د محصل ځوان د تره لور یوې ټولګیوالې ته فکر شو، چې تل ورته د یتیمې په اړه نصیحتونه کوي. فکر یې وکړ، چې باید هغه ته دا خبره وکړي.

نو د حقیقت په ویلو یې بیا خوله ګونګه شوه؛ ځکه خو یې وغوښتل په کومه بله خبره یې وغولوي، چې دې کې د محصل مور په دروازې ننوته:

څنګه شو زویه!؟

هېڅوک درنه په کراره نه دی پاتې، مېلمنه کاکا لور دې په تکلیف کړه!

وړاندې له دې چې زوی یې څه ووایي، یتیمې ورغبرګه کړه:

نه مورې!

هېڅ خبره نه ده، ایله مې له برقي تره زوی نه چلونه زده کړل.

د مور مسکا کېدو سره سم یې تره زوی د خبرې وار واخېست:

ګوره د تره لورې!

د خدای په کارو او د برېښنا په تارو کې به ګوتې نه وهې!

درې واړو وخندل، يتيمې تره لور يې که څه هم په خوله څه ونه ويل، خو په زړه کې يې د تره زوی مينې لکه د اباسين په سيند لاهو کړې ښکاروله.

يادونو يې په زړه ذرې- ذرې کړې وه او دخپلې ځوانۍ پسرلنی پېغلتوب يې د منيې ګرېوان لکه د شهيد مزار ريښنې- ريښنې کړ ی وو.

يتيمه د دعاوو په برکت د مينې په دې اباسين کې لا هم هسکه او جګه ولاړه وه.

محصل ځوان د لاسونو په څنډولو له خونې ووت، يتيمه د خپلې کاکا ښځې سره، چې ډېر عزت به يې کاوه، په خونې کې پاتې شوه.

محصل ځوان ووت، خو فکر يې په دې سوچونو کې لاهو وو، چې څنګه ورته د دې تاواني مينې رښتينی حقيقت وواييې؟

د نجلۍ بې کچې مينه د محصل ځوان په خوله فولادي قُلف وو، چې تل به يې د دې خبرې په کولو کې خوله تړل کېده.

د دې تصادف په اړه يې فکر لا په سوچونو ډوب شو او په زړه يې توره تياره خپره شوه.

د خپلې تره لور هغې ملګرې ته يې زنګ وهلو تکل وکړ، چې تل ورته ده سره د واده کولو خبرې کوي.

زنګ لاړ، خو دهغې لورې ځواب ورنه کړل شو. دوهم ځل د زنګ په وهلو يې بلې خور موبايل پورته کړ، د ځواب پرېښودو سره سم محصل ځوان د اړيکې پرې کولو بټن کېکاږله.

په فکرونو ډوب پرې ننني ورځ پوره کال ګرځېد.

کله به يې د ځان او دې کړنو پورې يو دم خندا وکړه، چې څومره مې سترګې بلې خوا اړوم، هومره مې سترګې د دې پر لور ښخيږي.



نه ترې نفرت کوی شم او نه هم مينه ورکوی شم.

غرمنۍ ته د ټولې کورنۍ سره ناست وو، چې هماغې نجلۍ زنګ ورواهه.

د شمېرې په ليدو له ډوډۍ خوړلو لاس په سر او نېغ پاڅېد.

بهر وتو سره سم يې موبايل هوکۍ کړ.

د سلام او جوړ پخير وروسته ترې هغې نجلۍ وپوښتل:

څنګه دې بې سته نن لار غلطه کړې وه؟

محصل وخندل:

په ابادو دښتو کې چې له سړي لار ورکه شي، بيا دغسې هر در ټکوي!

محصل لا نور هم څه ويل، چې نجلۍ ترې په مسکاورو خبرو وار واخېست:

بس کړه مړه!

تا بيا فلسفه شروع کړه!؟

او ته کله سړی يې؟ لا خو هلک يې کنه!

دواړو خنداوې وکړې. محصل ځوان د شوې خبرې غچ اخېستو په پار وويل:

چې دا ستا د ځوانۍ په مانۍ به کله د مينې ګرمې شغلې ننوځي نو!؟

ايله به د دې فن د ملنګانو قدر درشي.

په زړه روغې پېغلې د زړه له خلاصه وخندل او په ملا راماته شوه:

څه لېونۍ خو نه يم، هغه د کاکا لور دې څه ګټه وکړه، چې لا زه به يې وکړم!؟

دا هلکان چې څومره د زړه په وينو وساتې، هماغومره د نيمې لارې ملګري دي او د چل په هوښيارۍ درباندې خپل ځان لا ګران خرڅوي.

د هغه په وړاندې به ځان ته هېڅ د انسان په سترګه نه ګورې، خو هغه به بيا هم د مار په څېر يواځې زهر درکوي.

مړه دا هلکان سم د لستوڼي ماران دي!

ژر یې محصل ځوان د خبرو بند ونیوو:

چپ شه مړې! غیبتونه دې شروع کړي!

یا چې ته هم د دې غشي په زهرو ککړه یې!؟

- نه مړه!

دومره دې خدای چاته وس نه ورکوي، چې زما زړه د خپلو زهرجنو سترګو په غشو زخمي کړي، که نه زه به یې مړ کړم!

محصل ځوان تمسخر کې خندا وکړه:

ښه بدماشه خویې!

- هو ولاچې باور وکړه!

او شکر وباسه، چې زه دې د تره لور نه یم، یا هم زه درباندې مینه نه یم، که نه په داسې عادتونو او کړنو مې باور وکه په خپل لاس بلې دنیا ته لیږلې!

محصل ځوان چې د دې له مسخرو او ټوکو خبر وو، په خندا یې وویل:

هو ولا ډېر شکر دی، چې ستا په څېر کومه شیشکه راباندې مینه نه ده!

- ښه وښه ټوکې مې وکړې!

زنګ دې وهلی وو، خور مې ویل، چې د زنګ وهلو غوښتنه دې کړې وه، خېریت خو وو!؟

محصل ځوان د ټوکو له خبرو د رښتیا تر فکرونو راغلی، اوږده ساه یې واخېسته:

هو کنه!

یوه مرسته به راسره وکړې!

هغه دا چې نن دې ټولګیواله موږ کره راغلې، خپله تره لور درښایم!



یو دم یې نجلی خبرې پرې کړې:

رښتیا!؟

- هو ولا!

نجلی شوخ طبعیت یو ځل بیا په جوش راغی:

ګوره چې ډېر پام وکړې!

باور وکړه، ماته یې ویل، که دا ځل اخوا دېخوا وکړې، ایسته یې تښتوم!

محصل ځوان په دې خبره یو ځل بیا له زړه وخندل:

ښه ته هغه خبرې پرېږده!

زه چې څومره ترې ځان لرې کوم، هومره ورته په ناغوښتې ډول نږدې کېږم؛ انسانیت یې لکه مېکناتیس ما د ځان خواته راښکاږي.

نن مې ورته د خوښې خواړه کباب هم راوړل.

ته یو کار وکړه:

ما ورته د انکار مسج کړی وو، خو په هماغه ورځ یې د دستګاه د غلا له لاسه خپل سیم مات کړی وو، نو مسج مې هم همداسې بې لوستلو لاړ.

زه ورته نشم ویلای؛ ته ورته ووایه، چې د تره زوی دې ویل:

زه چې هر ځل هڅه کوم، له تا د جدایي په اړه تاته ووایم، هغه په لا نږدېوالي پای مومي، خو نن باید له دې خبرې هرو- مرو خبره شې، چې زه په یوې بلې پېغلې مین یم، نو ځکه نشم کولای، چې تاسره یوځای ژوند جوړ کړم!

شوخه نجلی د دې خبرې په اورېدو زړه کې حېرانه شوه، خو دا چې طنزي برخه یې په خبرو غالبه وه، په تمثیلي غوصه یې تندی تریو کړ:

مړه دا څه له ځانه دې عاشق آباد جوړ کړی!؟

هغه په تا او ته په بل!؟

دا څه کوې مړه!؟
قرباني ورکړه او ايسته همدا د تره لور خپله ناوې کړه!
زه به نکريزې هم درته راوړم، که څه هم پوهېږم، چې کنجوس غوندې يې او فکر نه کوم، که چندان پيسې د نکريزو په بدل کې راکړې!
محصل د دې خبرې په اورېدو هېڅ د شوخۍ برخې ته پام نه شو.
د "کولو" کليمې په اورېدو يې د مينې اور د زړه په زور حمله وکړه؛ سم يې بې اوره کباب کړ.
جدي شو:
ګوره زه ټوکې نه کوم!
هيله کوم، که ويلای شې، نو راته ووايه، که نه نو ښه وخت!؟
- اووو!
ولې نه- ولې نه! حتماً يې وايم!
ته ووايه، چې څه ورته ووايم!؟
محصل ځوان د لږ ځنډ وروسته په کرار غږ وويل:
ګوره ته به هماغه زما مخکينۍ خبرې ورته تکرار کړې او ورته به ووايې، چې دې ويل:
زه درته د ځان د سپيناوي يوه کليمه هم نه لرم!
- سمه ده صيب:
زه به ورته همدا اوس دستي ستا پيغام ورسوم!
د خدای پامانۍ وروسته شوخې نجلۍ د ضد اور په غړمبېدو شو، چې تا که په ماغوصه وکړه، نو اوس دې د خپلې غوصې پايلو ته هم ګوره!
خپلې ملګرې (يتيمې نجلۍ) ته يې زنګ وواهه.
د سلام او احوال پوښتلو وروسته ورته نجلۍ خپلې خبرې پيل کړې:



د تره زوی دې زنګ راوهلی وو، ويلې نن موږ کره زما مينه راغلې، هېڅ نه پوهېږم، چې له خوښۍ څه وکړم؟
بيخي جامو کې نه ځايېږم!
فکر کوم مينه يې ورکړه ورغلې ده!
يتيمې په مسکا يو دم اوږده ساه راښکله:
رښتيا وايې!؟
هو کنه باور وکړه، ولې ته خو به نه وې تللې!؟
- ولې نه!
زه او مور مې د هغې د مور پوښتنې ته راغلې يو!
- ښه نو مبارک دې وي ګرانې!
شکر چې هغه هم خدای ستا د مينې منجور شو!
- نا رښتيا ووايه!
ټوکې خو به نه کوې!؟
- اووو نآ!
باور وکړه، ويل يې چې له بازاره مې ورته د خوښې خواړه کباب هم راوړي وو، له همدې مې شک شو، چې کباب خو ستا خوښ دي؛ ځکه مې تاته زنګ دروهه!
- اممم بالکل ولا رښتيا دې وويل؛ کباب خو يې راوړي وو.
ښه ته دا ووايه، چې نور يې څه ويل!؟
- نور يې ستا د ښايست کيسې راته وکړې، چې سمه مې د زړه تل ته ننوتې او ويلې ما ورته د زړه خبره کوله، چې مينه درسره لرم، خو هېڅ فرصت مې پيدا نه کړ، چې ويلی مې وايې.

شوخې نجلۍ ته په دې دروغو هېڅ خندا نه ورتله او د غابنونو په چیچلو یې د غچ اخېستو خوندونه څکل.

یتیمه د مینې په دغه سکون ورکوونکو خبرو ناکراره زړه په لا درزهار پیل وکړ او د سترې ژوند څراغ یې په لړېدلي اور کې لانورې لمبې کولې.

په زړه کې یې د غم او خفگان هغه دنیا په دې خبرو هېره شوه.

د ژوند له مخه یې خپل داغ وهلي زړه ته د سپوږمۍ ښکلا مېلمنه کړې وه.

په دې خبرو یې گلابي شونډې له خوښۍ نه راغونډېدې. په سپین مخ یې د احساساتو سوروالی له ورایه ښکارېده؛ لکه اور غوځوونکی غر چې په واورو پوښل شوی وي او اورونه شیندي.

شوخې نجلۍ غوښتل، چې یو څو نورې خبرې هم خپلې ملگرې ته وکړي.

د لږ فکر وروسته یې په خپل غږ د یتیمې د خیالي نړۍ دروازه وټړله:

ښه گرانې هغه یو بل څه هم ویل!

د تره لور یې ژر رانېغه شوه:

ښه ووایه، نو ر یې څه ویل؟

- ویلې زه اوس هغه پخوانی هلک نه یم، چې د دې د دومره مینې په وړاندې بې پروا ژوند وکړم. زه اوس دې سره له ځانه هم ډېره مینه لرم، خو دا چې اوس وخت مې مینه نشم ښکاره کولای، نو باید خوابدې نشي.

په زړه کې ورسره له ځانه هم ډېره مینه لرم او که کله مې ورته یو څه د نه منلو هم وویل، مسخره او ټوکه دې وگڼي. هېڅ څه دې زړه ته نه راولي، کنه فکر نه کوم که زه له دې پرته یو ورځ هم ژوند وکولای شم!

دنگه یتیمه د دې خبرو په اورېدو له خوښۍ د پنجو په څوکو ودرېده او لا نوره هم پورته- پورته کېده.

خپلې ټولگیوالې ته یې وویل:



گرانې هېڅ نه پوهېږم، چې د دې خبرو او زېري احسان دې څنگه پوره کړم؟

خو پوره کېدل به یې پر ما یو پور وي.

خپلو نریو لاسونو ته یې پام شو، په سپینه گوته یې د سرو گوتمې ځلېدا ته پام شو، یو دم یې پرته له کوم فکره غږ کړ:

ای گرانې!

زما په گوته هغه د زرو گوتمه درته سر له همدا اوسه ډالۍ شوه او پوهنتون کې به یې ترلاسه کړې!

او د تره زوی ته مې زما پیغام هم ورسوه، چې ستا له دغه احساسه مننه کوم!

زما د ژوند له لویو هیلو د دغو جملو اورېدل وو، چې ستا له خوږ فکره یې واورم!

شوخه نجلۍ د روغې په دې دروغو کې د گوتمې په گټلو د خپلو سترگو تور بره لور ته ورک کړل او په مسکا یې د منلو ترخنگ مننه ترې وکړه.

د اړیکې پرې کېدو سره سم یتیمې خپل موبایل په دواړو لاسونو کې د زنې لاندې ونیو او د سوچونو په خیالي نړۍ کې یې سفر پیل کړ.

د زړه جل وهلې دښتې یې په خیالي فکرونو خړوب کړې.

د لږ وخت وروسته بېرته یتیمه د محصل ځوان مور څنگ ته ورغله:

مورې څنگه دې تکلیف دې اوس؟

- شکر دی لورې اوس خو ښه یم!

د شکر په کلیمې یتیمې هم څو- څو ځل شکرونه ووېستل.

له پلاره بې برخې، خو د پېغلتوب په ټول تول پوره پېغلې خپل هغه ټوټې- ټوټې زړه اوس ډېر راټول کړی وو.

چې چېرته به يې قدم کېښوده، له زلفو وړاندې به يـې زړه لکـه يـخ شـمال د هيلو په يادښت خوښي وکړه، خـو محصـل ځـوان د ناچـارۍ پـه لوګـو خپـل سـپين زړه تـورووو او زړه بـه يـې د دغـې مينـې پـه يادښـت د غـم اوښـکې تويولې.

هغه چې د محصل ځوان زړه پرې د مينې اوبه شنبلې وې، هغـه هـم اوس د مينې منجاوره شوې وه او د ده پسې يې زړه لکه کچکول ګرځوو.

چېرتـه پېـدا او چېرتـه ځـوان شـوی د مـوره يـوه ګـلالې پـه زړه ډېـر غمونـه ګرځول.

د محصل د زړه ځوکې هم ځړيکې وهلې او تل به د بـل پـه درد لـه ځانـه ډېـر دردېده.

يوه يې ژوندون او بل خپل ځان ګڼه، چې دې هم د هر يو پـه خفګـان خپـل ژوند په غمونو کې ککړ ليدلو.

يتيمه نجلۍ د تره کور کې په ډېرې خوښۍ ګرځېده.

د محصل ځوان خونې تـه ننوتـه، هـر څـه يـې پـه خـورا ځيرکتيـا لـه سـترګو تېرول، له ځانه سره يې زړه کې همدا ويل:

لکه ګلاب جامن او شاتو خوږ تره زوی خونه څومره منظمه ده، چـې هـر څـه يې په خپل ځای پراته دي؛ ځکه خـو يـې ژونـد او زنـدګي هـم منظمـه روانـه کړې.

د کتابونو الماری ته مخامخ يې يـو دم د محصـل ځـوان پـه انځـور سـترګې ولګېدې. ټکان يې وخوړ، لکه خپل تره زوی يې چـې پـه ربښـتيا مـخ تـه ولاړ وي.

لکه د زلزلې په څېر يې ټول اندامونه وربېردېدل.

زړه يې پسې ټوپونه وهل.



څنګه يې چې ساه تنګه-تنګه شوه، نو ژر يې فکر زړه ته ويل:

لېونی دا خو يې انځور دی، نو ته ولې دومره وارخطا شوې؟

انځور کې يې په سترګو خپلې سـترګې ننوېسـتې او لـه ځانـه سره پـه خـبرو شوه:

ای نيازبينه او نازوليه!

ته په ربښتيا هم همداسې معصوم يې؟

تا پسې خو زما زړه لکه خانـه بـدوش د خپـل وجـود لـه دايـرې کـډه کـړې او وجود مې ستا ديدن پسې له تندې سوی- لوی ګرځي.

که ته مغرور يې، نـو زه سـتا مـزدور؛ پـه دې مينـې بـه دې دا کـاڼی زړه لکـه کېک نرم کړم.

د تقدير ليکې ته بد نه وايم، خو نه منم چې هېر مې کړې يا هېر دې کړم.

ته مې د ژوند نوی سوز او نوی ساز يې!

ستا په مينې ځان هېڅ بدبخته نه ګڼم!

دغه د تنوير سرچينه دې تل زما په ذات کې ويښه او بېداره وي!

له تا د خپلو دردونو لکه انکير او منکير غونډې حساب نه غواړم!

ستا په لږ خفګان مې ځان په وير اخته شي!

زه خپل نفس ته نـه تسليمېږم او نـه هـم د غوښـتنو او هوسـونو پـه اشـارو حوسېږم؛ ځکه چې زه په خپل ذات کې د وجدان په څېر پير لـرم، چـې لکـه مريدان مې د بدن ټول غړي ورته لاس په نام دي!

په دې مسافر زړه کې مې ته سم پېغمبري ګل يې!

خو له دې نه يو الله خبر دی، نه غواړم چې د دنيا عالم ترې باخبره کړم.

يتيمې نجلی د محصل ځوان انځور کې په سترګو خپل لاسونه تېر کړل او خپلې سترګې يې په ټول انځور وګرځولې.

د دنیا له غم او سودا نه لرې د خوږ جانان سره د راز او نیاز خبرې زړه ته لا ویښتیا ورکوي.

یتیمې زړه لا تش نه وو، نور یې هم څه ویل، چې محصل ځوان د خپلې خونې په دروازه ننوت.

د دروازې په ګړز یتیمې ټکان وخوړ او د وېرې راښکلې ساه یې واخېسته. انځور یې ژر تر خپلې شا ونیو.

په څو ثانیو کې یې تندي باندې خولې راغلې، مخ یې تک-سور شو او زړه یې له ډېرو ټوپونو سم غړونه کول.

انځور په لاس یې ورو وکتل، ګوري چې د تره زوی یې د خونې په دروازه کې ولاړ دی.

ورته په کتو یې مسکا وکړه:

لکه چې کومه غلاجنه مې ګیر کړه!؟

یتیمې په رېږدېدو خپل معصوم بانه رپول، لاس او پښې یې بې دمې شوې، له ګوتو یې ساه وخته.

یو دم لاس کې شاته نیولی انځور، چې د ښیښې قالب کې بند وو، ترې پر ځمکه ولوېد.

په چوپه- چوپتیا کې د ښیښو کړنګار سم ترنمونه وکړل.

د تره لور یې لاپسې وارخطا شوه.

د آه په کولو یې ځان د انځور پسې ټیټ کړ. د انځور پورته کولو سره سم یې تره زوی پرې غږ کړ:

پام!!!

خو د وارخطا شوې یتیمې په ګوته کې د انځور د ښیښې یوه ټوټه د غږ تر رسېدو مخکې ننوته.



د بیا ځلي آه په کولو یې تره زوی ورمنډه کړه:

ژوبله شوې؟

- نه!

- ولې نه! وګوره چې له ګوتې دې وینه راغله!

د تره لور یې د دې په ویلو، چې نه-نه دومره نه یم ژوبله، په وینې شوې ګوتې یې د خپلې مینې انځور له ځمکې پورته کړ.

ځان سره یې ویل:

ما درته هېڅ کله خپله دغه د مینې مجبوري نه ښکاره کوله، خو بس درسره زما د مینې عسکرو د دې غلاجن دیدار راز افشا کړ.

ورو یې وویل:

د تره زویه!

مـ مـ ما، هغـ هغه . . . !

د تره زوی یې ژوبل شوی لاس له مړونده ونیوو، انځور کې یې د خپل ټټر په لمن د تره لور ګلابي رنګه وینې ته پام شو، فکر کې یې هغه خوب وګرځېد، چې د خولې وینې یې په لمن تویېدې.

ورو یې وویل:

ژوبله شوې!؟

- نه!

دومره نه دی ژوبل شوی، خو ستا د انځور ښیښه یې چوکاټ لکه د مېَن زړه راخخه مات شو!

محصل ځوان چې یې ټولګیوالې سره د بېلتون او جدايي خبره کړې وه، په ذهن کې یې راغلل.

په خپل راتګ پښېمانه وو، خو بیا یې هم د تره لور خبرې ته مامول ځواب ورکړ:

خیر دی بلا ورپسې! ستا ګوتې یې غوڅې کړې!

رنګ یې له خپلې تره لور سور او په زړه یې د شرمندګی احساس ترې خوله کې اوبه وچې کړې.

زړه یې راډک کړ او په طنزي خبره یې وېرېدلې خاموشي ختمه کړه:

د کاکا لور!

څنګه دې زما خونې ته پېښنه کړې وه!؟

یتیمې نجلی غوښتل چې اظهار ورته وکړي، خو شونډې یې ترلې وې. د وېرې ډکه مسکا یې وکړه:

نـ ـ نـ، نه!

هسې مې دې د خونې سیل کاوه.

ستا انځور کې په شونډو ښکلې مسکا مې خوښه شوه، بس ما هم خپلې سترګې لکه هنداره په کې ولیدې.

محصل ځوان چې د خپلې تره لور واخطایي ولیده، زړه یې پرې وخوږېد.

کرار یې وویل:

ښاً ښه دې وکړل، خو ګوره په خونه مې ونه خاندې!

یتیمې په دې خبره رنګ کې وینه ورغښته:

نه ولې به خاندم؟

نامخدای ډېره منظمه خونه مو ده!

هغه چې څو کاله یې کور کې کار نه وي کړی، داسې پاکیزه او منظمه خونه نشي ساتلای.

دواړو خپلې وارخطایی په مسکا سره یو څه کمې کړې.



محصل ځوان د لږ ځنډ وروسته ورغبرګه کړه:

د تره لورې زما کوم پیغام خو به چا نه وي دررسولی!؟

یتیمې د شرمندګی احساس وکړ او سر په ځوړندولو یې د هو کلیمه وویله:

هغه زما ټولګیوالې . . .

د خبرې په منځ کې محصل ځوان ته د زنګ راتګ د یتیمې خبره په نیمه کې غوڅه کړه.

محصل ځوان د خپلې تره لور ټولګیوالې شمېره د موبایل په ښېښه ولیده، غریو نیولی شو. له تره لور یې د ښښې په غوښتلو د هوکی تنی کېکاږله او له خونې بهر شو.

مخکې له دې چې محصل څه ووایي، شوخې نجلی پرې غږ وکړ:

څنګه یې احساساتي ځوانه!؟

- ښه یم شکر، ته ښه یې؟

نجلی د هو په ویلو بله پوښتنه وکړه:

فکر کې دې څه بدلون ښکاري، که نه لا هماغسې د مینې په ټوک ډوډۍ پسې مرګونه کوې!؟

محصل ځوان د دې پوښتنې په اورېدو حېران شو، چې دا پوښتنه او زما مخکینۍ خبرې خو بیخي سره غوښه او چاړه دي.

ژر یې وپوښتل:

څه دې وکړل؟

زما پیغام دې وررساوه!؟

شوخې پېغلې په تمثیلي ښه د ناهیلۍ اوږده ساه واخېسته او د اسویلي په کولو یې د هو کلیمه وویله!

محصل ځوان لا نور هم حېران شو:

دا څه اسویلي کوې؟

ولې هغه خو به څه نه وي ویلي؟

- ولې نه!

ستا د کاکا لور زندګي د ستا له لاسه په غم لړلو اسوېلو تیریږي!

هغه د کاکا لور دې په مینې مینه ده او همدا مینتوب یې ژوند په فریادونو او زړېږرویو تېروي.

هغه د خپل مینتوب ښخه بود او بهبود غواړي، کنه بیا لـه رب ښخـه خپلـه ټوله زندګي نابود غواړي!

د هغې هغه ګرمې جذبې لانورې تودې شوي او لکه بله ډیوه یې وار پـه وار د مینې پر لار د اور لمبې زیاتیږي!

ولا که زه خبره وای، چې دا دغسې غبرګون او عکس العمل ښایي، نو پخـدا که به مې ورته دا خبره کوله!

د فکر پـه تماشه کې ډوب محصـل د دغـې پـاکې او مهـذبې مینـې پـه نـه ګوزارې سترګې د اوښکو په راتلو جال شوې، ژر یې وویل:

ښه هغې خپله څه ویل؟

- هغه ویل، چې دا مینه ما په خپله رضا نه ده پیل کـړې، لکـه څنګـه چې په بې خبری پیل شوې، همداسې به یې پای هم زما د ژوند کفاره وي.

ویلې زه مې د تره زوی هېڅ خبرې ته مخکې نشم ودرېدی، خو ته ورتـه زما دغه خبره وکړه، چې زه هېڅکله داسې نه غواړم، خو ممکـن زمـا پـه ګنـاه او اقدام هغې دنیا کې خدای تا هـم زمـا سره مجـرم وګڼـي او د ګنـاه پـه دوزخ کې دې راسره یوځای وسوځوي.



په هغه وخت کې چې ټول عالم ولاړ وي او زمـا پـه جـرم خـدای تـاهم راسره اور کې وسوځوي، په خدای چې له هغې ورځې وېرېږم او که د تره زوی مـې له دغې خبرې په شا نشو، نو یقین وکړه، که به بیا پرې سرپه وکړم!

محصل ځوان د تره لور خاموشی او دغې زورواکی حېران کړ.

غوښتل یې چې یو څه ووایـي، خـو شـوخې نجلـی یـو ځـل بیـا خپـل غـږ تـه متوجه کړ:

هغه دا هم ویل، چې که ماته هرڅه ووایي، زه یې منم، په ښکاره ورتـه هـېڅ نه وایم، خو که داسې وشي، زه نوره دومره په زړه کمـزورې شـوې یـم، کـه چېرته مرګ راته لکه د مار پېښه او یا د مرغی شیدو ناممکن هـم شي، زه بـه یې د ځان لپاره ممکن کړم.

او دا هم ورته ووایه، چې ستا مجبوری منم، خو زه هم د خپل زړه نه سـخته مجبوره یم.

د لږې خاموشی وروسته چې د محصل ځوان د خـبرو وار وو، پـه کـراره یـې وویل:

زه وایم، چې څنګه هغه زما خونې ته راغلې وه او د مېز له سره یې زما انځـور په لاس خبرې کولې.

شوخی نجلی د خپلو دروغو په بریالیتوب او ځای نیولو باندې تروشه مسکا وکړه او په شوخی یې وویل:

د هغه د زړه کمَرې په تا ولاړې دي، ښه نو اوس به دې شیرنی کې ماله څه راکوې؟

محصل ځوان چې خپه او خواشینی وو، په غوصه یې ژر غبرګون وښود:

زهر درکوم، پوهـه شوې!؟

دسې ښه زېرې دې راباندې وکړ، چې لا شیرني هم درکړم!؟

د زنګ بندېدو سره سم يې فکر لکه د اوښانو کتار د ستونزو د حل لپاره قافلې رواني کړې.
کله خو به يې په دې خبرو هېڅ باور نه راتلو، چې هاغسې باادبه، هوښياره او ځواکمنه نجلۍ دې دومره کمزورې خبرې وکړي.
خو بيا هم احساساتو کې راغی او ځان سره يې پرېکړه وکړه، چې نور نو په سوال او ځارۍ نه کيږي. بايد همدا اوس په همدې خونه کې ښه په جديت خپلې تره لور ته قناعت ورکړي.
له دې يې خبره کړې، چې زه خپل نصيب له تا ډېر لرې ژورو- کورمو ته وړی يم.
نور نو په دې خوشې مېرو کې شوګيرې مه کوه.
په هېڅ قيمت او هېڅ شان سره موږ نشو يوځای کېدای.
په دې خبرې دې بايد خپل زړه ته قناعت ورکړې، چې نور دې زما لپاره خپل عمر او ځواني نه تېر باسې؛ ځکه نو ته بايد له ما پرته د خپل ژوند کاروان پرمخ يوسې.
له مانه د دغې وفا تمه لېونتوب دی؛ ځکه زما نه دغه کړنه پاتې او هېڅ نه کيږي.
په غصې او تېزۍ خپلې خونې ته لاړ، د خونې چوپتيا د دروازې تېز ګرز ماته کړه، خو د خلاصېدو سره سم يې ليدل، چې تره لور يې له خونې وتلې او نشته!
مخامخ په مېز باندې يې د ده په کتابچه کې يو ښکلی زړه رسم کړی. د خپل او د ده د نوم لومړي تورو سربېره يې د خپل خوږ شوي لاس څخه څو ځاځکې وينه هم د رسم شوي زړه په منځ کې پرېښې ده.



له شرمه وتلې يتيمې چې د مينې پيغام يې خپلې ټولګيوالې ته ويلی وو، محصل ځوان ترې بل برداش واخېست او د دې کړنې په ليدو يې د زړه هغه ناباوري له منځه يوړه.
د لږ سوچ وروسته له دې وېرې چې د تره لور يې کوم ناسم قدم وانخلي، دې پرېکړې ته ورسېده، چې بايد د احساساتو پرځای له حوصلې څخه کار واخلي او خپل چلند تر هغې ورسره سم پرمخ بوځي، څو چې په خپلې خولې ورته د قناعت ورکولو موقع پيدا کړي.
نصيب دوی يوبل ته همداسې نږدې کول.
مجبورۍ اړ کړی محصل د خپلې مينې ترې ته د بې وسۍ ښودلو په راز يو ځل بيا پردې وغوړولې.
هغه د ګلو لښته ورته لکه للمه کې اغزن بوټي داسې وګرځېد.
خپله هغه غوصه يې په خپلې خونې کې پرېښوده او لکه دم شوی ناروغ په بل فکر له خپلې خونې ووت.
کله به ورته دغه مينه اور وګرځېده، زړه به يې ورته سېزه او کله به ورته د ډېرو اوبو ډنډ وګرځېد، سم به يې ډوبوو.
وَلوَلو يې په احساساتو باندې حملې کولې. خپلې لپې به يې هرکله خپل پروردېګار ته له دعاوو ډکې کړې، څو د دغې دوه لارې څخه د وتون چل ورته په داسې ډول وښايي، چې نه يې د خپلې مينې باور پرې کم شي او نه هم د يتيمې لاسونه په خبرا لپه شي؛ نه هم د هغې په کوم ناسم قدم باندې سبا دا د ملامتۍ تر مېدانه راښکل شي.
د ژوند په خوشو مېرو کې ډېرو شوګيرو خوږلې محصل ځوان د خپلې تمثيلي مينې په ښودلو په ټول کلي کې د پېغلو نجونو باور خپل کړ او تل به

پرلار روانو نجونو د محصل ځوان په لیدو یو بل په څنګل ووهلې، چې د یتیمې نجلی سره د کاروان هغه لاروی ایناغه ځوان دی!

محصل ځوان خپل ټول دردونه پټ په زړه تېرول. هېڅ یې نه غوښتل چې د دغو مینو په بې ګودره سیند کې ورګډ شي.

په ډېرو کتو او فکر کولو به یې ساه او وجود خپلو کې سره وران شول.

نه داسې دنیا او نه داسې وفا یې د زړه ګلانو لپاره پکارېدل.

په دغه بېدیا ژوندون کې بې له کومې وېرې یتیمې خپل شیندلی زړه راټولوو او د ژوند درون پېټی یې به خپلو نازکو اوږو بار کړی رانښکه.

د زندګی خوند یې د خپل تره زوی تر پښو لاندې کړی وو.

د ځان نه ناخبره یې د ګل په شان ځواني د محصل ځوان له سره ځاروله. د ژوند اغاز او انجام یې د ده پورې تړلی وو، خو بیا یې هم د ژوند په دایره کې ستړی زړه د دعاګانو په پټی ټکوروو.

د تقدیر لیکه چې پرته له دعاګانو یې بدلون ناممکن وو، له دغې سیوري او سرچینې څخه په ګټنې به یې ځان ډاډه کاوه.

وخت وروسته محصل ځوان د یتیمې پلندر په سختې ناروغتیا کې احوال اخېستلو په پار سره د خپلې موره راغی.

که څه هم تره لور یې د پلندر په ناروغتیا ډېره خواشینې وه، خو د تره زوی په لیدو یې خفګان یو څه راکم شو.

د ورځې یوه برخه کې دواړه سره مخاطب شول. یتیمې کاره- واره وکتل او د سترګو نمجن باڼه یې د لاس په ورغوي پاک کړل. په ډېرې عاجزۍ او غمجن حالت یې هیله وکړه:

خیر دی د تره زویه، دعا کوه!

خدای مکړه چې په تره دې څه ونه شي!



نور د غم زغم نه لرم!

د تره زوی یې د دې خبرې په اورېدو بې اختیاره زړه راډک شو او په تسلی یې خپلې تره لور ته خبرې پیل کړې:

هېڅ خبره نشته کاکا لورې!

الله به مې تره روغ رمټ کړي، موږ خو یو کنه!

رب به پرې هېڅ هم نه کوي!

د تره لور حالت یې لږ بدلون وکړ او په ژړغونو سترګو یې شونډو مسکا وکړه:

خپه نشې د تره زویه!

لرې_لرې ګرځېدم، ستاسې مې هېڅ سم قدر ونشو کړای؛ ځکه زړه مې دې تره ته ډېر خپه وو، کنه پخدای چې ستا راتګ راته دغه غم کې سم مرهم شو، باور وکړه دې دردمن زړه ته مې ستا راتګ درمان وګرځېد.

حېران ماحول کې ورځ په ډېرې خاموشۍ تر مازیګره ورسېده.

مازیګر مهال یې تره زوی د کور په وړوکي باغچه او چمن کې قدم وهه، چې یتیمه د تره لور یې د دیدن په پار ورو_ورو تر ده ورغله.

د لږو خبرو وروسته محصل ځوان ته همدا ښه وخت ښکاره شو، چې په مینه کې له اصلي او رښتینې خبرې یې خبره کړي، هسې هم تیار ماحول د خفګان او خفګان ته جوړ دی، ممکن اوس د دغې خبرې په اورېدو ډېره ونه دردیږي.

د تره لور ته مخاطب یې وویل:

د تره لورې راځه چې نن دې د یوې زړه چاودې تریخ حقیقته خبره کړم، چې ما ترې یوه لهزه هم په ارامه تېره نه کړه.

یتیمې د ناخبرۍ له امله د خور تندي لوړېدلی پوستکی ګونځې کړ او د "هو

ولې نه" کلیمه یې وویله.

محصل ځوان پرته له کوم ځنډ نه د اوږدې ساه اخېستلو وروسته په خبرو پیل وکړ:

ای درنې، پتمنې، خوږې او د ښایست په ټول تول پوره دنګې پېغلې!

ته خبره نه یې؟

د تره لور یې لا نوره وارخطا او د "نه" کلیمې سره یې د انکار سر وښوراوو.

محصل ځوان سر ښکته او په خبرو یې شروع وکړه:

ما هېر او زړه دې نور صبر کړه!

د دې خبرې په اورېدو د یتیمې سترګې رډې وتلې ښکاره شوې، له ډېرې وارخطایی یې مخ لکه انار تک_سور او په بدن یې لړزه راغله. د تره زوی حالت یې هم نورمال نه وو، خو ځان یې ارامه کړ او ویې ویل:

وارخطا کېږه مه!

چې کوم شور او یا پېغور جوړ نشي! زه دې په کیسه پوهوم:

تاته ما له لومړیو ویلې ؤ، چې ته زما په قسمت کې نه یې لیکلې او نه هم زه ستا په قسمت کې، خو ما ویل چې ته به ما ورو_ورو هېر کړې!

هغه پیغام او بیا ستا ټولګیوالې ترڅنګ ټول کارونه او زنګونه ما ستا د زړه صبرېدو لپاره کړي وو، چې ته خپله د ژوند بېړۍ له ما پرته پرمخ بوځې!

بیا ستا د ټولګیوالې ځینې خبرې او خویونو زما خولې ته زولنې واچولې.

خیر دی!

نور مې مه غواړه!

له دغې ناکامې مینې تېره شه نور!

هغه وختونه به مې تا سره نرمښت کوو، یواځینی علت یې دا وو، چې ته خواشینې نشې، بس دی نور مې په پردیو کې شمېر کړه.



ما مې دې تمثیل کې وجدان وژني نور!

محصل ځوان نور هم څه ویل، چې یتیمه په څوړند حالت ړنګه- بنګه جوخته پر ځمکه کېناسته او خپل سر یې په دواړو لاسونو ونیوو. له سترګو یې اوښکې رغړېدې. رنګ یې تک_ژېړ شو.

د تره زوی یې هم په دوو پښو د ناستې په پلمه ټیټ شو:

ګوره هیله کوم!

نور له دې فریادنو او اندېښنو تېره شه!

رب دې لکه دغه بې زندګي سمسور کړه!

ما نور پردی وګڼه! زه نور پردی یم!

یتیمې د دې خبرې په اورېدو په ژړغوني غږ د محصل تره زوی خبره پرې کړه:

خیر دا دومره خوږوالی او مینه بیا ولې وه؟

غواړې ما وځوروې؟

یا غواړې چې دا د پلندر د ناروغی غم مې په بل غم بدل کړې؟

ــ نه:

خیر دی ته ځان راحت کړه!

هغه مینه او هغه خبرې ستا پر وړاندې نه، د بلې پېغلې پر وړاندې وې!

ته په ځان پوهه شه!

ما هغه وخت کې هم پیغام کې درته همدا خبرې لیکلې وې، خو تا دې سیمکارت مات کړی وو.

رب دې په لمن باندې هېڅکله تور داغ مه لګوه!

زه به تاته او ته ماته دعا کوه!

تا سره دې تمثیل خوړلم او ښه سم یې سېځلم، خو نه مې شو کولی چې

درته یې ووایم.
یتیمې پېغلې په سرو سترګو د ځمکې لور ته کتل او د اوړدې ساه اخېستلو وروسته یې په بنده لهجه ساه نیولې ډول خبرې پیل کړې:
زما فریاد او د غمجن زړګي غږ هېڅا وانورېد او هېڅکله پرې ښاد نه شومه!
کله اباده شم او کله هم دغسې لکه نن بېرته برباده!
تا هم نن د غم د پاڅه غم راکړ!
زه په ځان پوهېږمه!
وخت مې ارمانونه او هیلې یو_یو وژني!
زه دې لکه ملنګ د دیدن قلنګ ته راغلم، خبر نه وم چې زما په مینې به داسې کودتا کیږي!
د خپل بدن شته ځواک ته یې پام شو، لکه مبارزه یې د خپلو خبرو په لهجه کې بدلون راوست:
خیر دی!
د دغې مینې راز وو، چې زه به یې ژوندۍ ساتلم!
اوووف! اوس څنګه درته ووایم، چې زما لپاره څه وې؟
او بېلتون به دې څه پر ما راپېښ کړي!؟
دغه اندېښنې او وسوسې زما په برخه دي!
زه بیا هم د تل په څېر هېڅ له تا ګیله منه نه یمه، زه مې خپل بې خونده قسمت ته ژاړم!
ما خو د محبت سره په یارۍ کې پرځان دغسې خواري وکړه، خو پایله یې دغه شوه، چې په دغې یارۍ کې مې اوس اوښکې رباری ته ځي.
تا نه تنګوم، خو خپله مینه به تل لکه یو ګل خپلوم او ښکلوم.
بس مړه ما هسې له ژوندون سره خواري وکړه!



تا که هسې د زړه په زور یاده کړې یم، خو ماته به هماغه صحنې د تل لپاره د غم یادګار پاتې شي.
محصل ځوان چې نور د دې حالت لیدل یې له توانه ووتل، په ژړغوني غږ یې خبرې پیل کړې:
زه د خپلې صفایۍ لپاره یوه کلیمه هم نه لرم!
تاسره د ظلم دغه سزا دې رب ماته راکړي!
له دې خبرې اورېدو سره سم یې تره لور د غوصې تېز کاته وکړل او د هغه پرځای یې په خپلې خولې لاسونه کېښودل:
قسم درکوم که به بیا لپاره داسې الفاظ له خولې راوباسې. رب دې تل خوښې درپه برخه کړي!
هر څوک دې ستا شي او ته هم د هر چا!
د تره زوی ته یې د مور زنګ هغه په خپل ځای نېغ ودراوو او د زنګ پرې کولو سره سم یې په ډکو سترګو تره لور ته مخ کړ:
زه ځم!
هیله ده د تل لپاره مې له خپل زړګي وباسې!
د تره لور یې په دې خبره خولې ته بې واره سلګی راغلې، ژر یې د خپل څادر پیڅکه په خوله کې ونیوله او په خاموشه چغو یې د خپل زړګي سلګۍ خوړلې.
فقد همدومره یې په بنده ژبه خولې ته راغلل:
په تا باندې مینتوب کې مې په خپلې ځوانۍ اور پورې که!
د مینې پر لار مې تل ستا د خوښې په یاد د ثواب په نیت طوافونه کول، خبر نه وم چې د ایمان راوړلو پرځای به مې شته ایمان تالا کیږي.
دا هر څه مې خپله ګناه ده؛ ځکه ما په خود غرَضه مینتوب کې د خپل جانان

په لیدو پسې جهانونو باندې اور پورې کوو.

له هاغه وخته چې خدای مې مینه په تا باندې راوسته، ما درته د خپل زړګي حال وویل، نو تا بیا ولې داسې وکړل؟

یتیمه د دې پوښتنې وروسته نوره هم بوږنېده، چې د تره زوی یې حالت ته په لیدو زړه کې دا خبره وګرځېده، چې مینه کې د عمر تنده یوه لهزه کې په یو ګوټ دیدن هېڅکله نه ماتیږي، نو ښه دا ده چې ترې د قیام پرځای حرکت وکړم.

دواړو په سرو سترګو دغه د نیمایي لارې ملګرتیا ته دلته د پای ټکی کېښود، چې د یتیمې زړه محصل ځوان پسې لکه د سپېلنو لوګی وکړ.

محصل ځوان هم د همدې بڼې بدرګه وکړه، ژر یې د مخ وینځلو وروسته ځان یو څه راحت او د مور ترخنګه ورغی، څو ځان تګ ته چمتو وښایي.

د څو شېبو وروسته د محصل ځوان مور د تګ په پار له خپله ځایه پاڅېده.

دا چې یتیمه همالته په ژړا پاتې وه، نو له هغې پرته نورو ټولو مخه ښه وکړه او محصل ځوان سره له خپلې مو د یتیمې نجلۍ له کوره بهر شول.

پر لار محصل ځوان په ډېر زور د مخکې تګ قدمونه وهل، په سوچونو کې یې د تره لور هغې تولګیوالې خبرې تلې_راتلې، چې هسې نه کوم ناسم پَل وانخلي او یا ځان ته کوم زیان ونه رسوي.

په فکرونو ډوب یې د مور سره پلی مزل کوو، چې له شا یې د ښځو د غوغا غږونه واورېدل.

نېغ ودرېد، ګوري چې مور یې له دې څو قدمه شاته له وړاندې ولاړه ده.

هک_حېران مور او زوی یو بل ته وکتل.

ژر یې مور وپوښتل:

دا غوغا دې د تره کره نه ده؟



د زوی یې چې له ډاره سترګې رډې وتلې وې، په خاموشۍ یې د تایید سر وښوراوو.

په ډېرې چابکۍ یې بېرته د همغې کور پر لور حرکت پیل کړ، خو زوی یې د لارې پر سر هماسې زبون وهلی ولاړ وو. ټټر کې د زړه دربار یې سم ګړزار کوو. په فکر یې سم دستي تېره شوه:

که هر څه وو، خو د تره لور مې پرځان وکړل!

غوغا ورو_ورو په ډېرېدو وه، چې محصل ځوان ته یې د تره لور هغې ټولګیوالې زنګ ووهه.

د موبایل په ښیښه یې د هغې شمېرې په لیدو شک بیخي باوري شو. له ډېرې وارخطایۍ پرې سمه لړزه راغله.

راغلی زنګ ترې لکه نشه شوی کس بې خبره هوکی شو.

د هغې شوخې نجلۍ قهر او غوصې موبایل کې راغلي زنګ ته متوجه کړ.

موبایل یې ژر غوږ ته پورته کړ. د شوخې نجلۍ په احساساتي خبرو کې غوصه او ژړا دواړه نغښتې وه. پام کېدو سره سم یې ترې همدغه جملې واورېدې:

ازاري!

د هغې پېغلې ازار اوس د چا په غاړه؟

ستا زړه د نفرت په اوسپنه دومره کلک وو؟

په هغې نجلۍ چې دې کوم حالت راوسته، ورشه اوس یې وګوره!

ته دومره خود غرضه وې، چې د بل چا ژوند درته د ماشومانو لوبې ښکارېدې!؟

د یتیمې تولګیوالې په خپلې احساساتي غوصې او ژړغونو چغو محصل ځوان نور هم احساساتو کې راوست، رنګ یې لکه د ځمکې توت تک_سور

شو. د تره لور نوم په اخېستو یې د "نـــآ" کلیمه له خولې ووته او ژر ـژر یې
دغه جملې له خولې وتلې:
هغه داسې بد نشي کولای!
خپله ملامتیا مې منم، زه ملامت یم!
نور چې هغه ځنګه وغواړي، زه به هماغسې غاړه ورته ږدم.
زه خپل ځان کابو کولی شم. زه مین نه یم، که وي هم په تندر به یې وولم،
خو خیر دی ته په ځان هېڅ هم ونه کړې!
که داسې دې وکړل، ما به مې خپل ضمیر او وجدان په ژوندوني ووژني!
د یتیمې هغې تولګیوالې یو ځل بیا په ژړغوني غږ غوصه وکړه:
بسس چپ شه نور!
دا تمثیلي خبرې دې نور پرېږده!
هغې لږ وړاندې ماته زنګ وهلی وو، په بنده_بنده ژبه یې سلګو کې ستا د
نن ورځې انکار په اړه وویل او ویلې هرڅه مې ختم شول، دنیا راباندې ورانه
شوه!
نور به د دنیا هېڅ شي ته ونه هوسېږم!
محصل ځوان یې په احساساتي غږ خبرې پرې کړې:
نـــــــآ!!!
هېڅ هم ختم او وران نه دي، بلکې جوړېدل او پیلېدل یې له همدا اوسه
شروع شول!
تاته قسم کوم، چې زه مې خبرو کې رښتینی یم!
اجازه نه ورکوم، چې په تره لور مې څه وشي!
بیا هم قسم کوم، ځنګه چې هغه غواړي، ژمنه کوم چې هماسې به کوم!
د یتیمې ټولګیواله چې پوهه شوه محصل ځوان جدي دی او ټوکې نه کوي،



فکر یې حېران شو، چې دا څه ډول کار دی؟
دا خبرې اوس څه مانا؟
محصل ځوان د خپلې خبرې په ټینګار ګوندې نور هم څه ویل، چې تېز غږ
یې خپلې مور ته له ورایه ورپام کړ. مور یې ورته د بل تره کور کې ولاړ موټر
د راوستو غږونه کوي. محصل ځوان د هغه تره کور پر لور په منډه شو، چې
سهار یې خپل موټر په کې درولی وو.
پر لار یې بار_بار ځان سره همدا ویل، چې خیر دی د تره لورې!
هیله کوم!
زه ستا شوم!
نور نو قسم که به داسې څه ووایم، چې ته پرې ودردېږې!
له هاغې بخته چې دې یاري غوښته، دغه دی نن دې یار شو!
په قسم باندې اقرار کوم زه ستا شوم!
خو هیله کوم ته وزغمه!
په ډېرې بیړې یې خپل موټر د یو تره کور نه تر بل کوره ورسوو.
چغو ټول کور په سر اخېستی وو، ډېرې ښځې له یوه کټه لکه مچی راتاوې
شوې وې، ژړاګانې او انګولاګانې یې کولې.
مور یې لا هماسې دروازه کې ولاړه وه، د ننوتو سره سم یې له موره په
وارخطایی د "څه شوي؟" پوښتنه وکړه.
مور یې په سترې ساه ځواب ورکړ:
په تره دې عصبي چپه راغلې!
هله نو هلته دې نور ترونه ورخواته دي، د هغو سره یو ځای یې روغتون ته
بوځه!
د محصل ځوان په دې خبره د پښو تنابونه سست شول، په حېرانی یې

وپوښتل:

دا چغې د کاکا له امله وې؟

مور یې د "هو" په ویلو د ژر تلو ټینګار وکړ.

محصل ځوان ورمنډه کړه او خپل تره یې د څو نورو ترونو سره یوځای موټر کې واچوو.

سترګې یې ژر_ژر یو خوا_بل خوا واړولې، څو خپله هغه د تره لور ووینې، چې پر دې یې په ژوندوني مرګ تېر کړ.

پام یې شو، چې یتیمه د خپل پلندر لاسونه موښي او همدا وایي، چې خیر دی پاکه ربه!

ماته بیا د یتیمۍ څپېړه پرمخ مه راکوه!

بیا ځل مې د پلار ویلو له خونده مه محروموه!

په دې چغو کې د محصل ځوان په زړه نور هم د رحم اوبه توی شوې!

دا چې له وړاندې یې زړه ډک وو، نو په ژړغوني حالت یې د یتیمې لاسونه له تره څه لرې او په خپلو لاسو کې یې ونیول، په ډېرې عاجزۍ او مینې یې سترګو ته وروکتل:

خیر دی ګرانې لرې شه، چې کاکا ژر روغتون ته ورسوو. زه درسره یم، په تره به مې هېڅ هم نه کیږي، خو د یتیمې ټول پام خپل پلندر ته وو او د موټر تر وتلو پورې ټولې کورنۍ خپلې سترګې په موټر پسې ښخې کړې وې.

محصل ځوان روغتون ته پر لار خپل موبایل کې خاموش_خاموش غږونه اورېدل. پام یې شو، چې له ډېرې وارخطایۍ یې د یتیمې د هغې ټولګیوالې زنګ لا نه دی پرې کړی.

ژر یې موبایل تر غوږه کړو او په بیړه یې یواځې هغې ته همدومره وویل:



په تره مې چپه راغلې!

د زنګ پرې کولو سره سم نجلی خپلې ټولګیوالې (یتیمې) ته زنګ ورواهه.

هغې هم په ژړغوني انداز همدا خبره ورته تکرار کړه.

د ډېر خفګان په اظهار سره یتیمې ته ټولګیواله یې مخاطب شوه:

ګرانې زه به یې هم پوښتنه کوم، خو که زما له پوښتلو وړاندې یې کاکا بېرته راوسته، ماته به حتماً احوال راکوې!

اوس شپه نږدې ده، که نه زه خپله درتلم!

یتیمې د منني کلیمې په ویلو د دعا غوښتنه ترې وکړه.

ډېر وخت واوښت، شپه بېخي پخه شوه.

د محصل ځوان ډېری نور خپلوان هم روغتون ته رسېدلي وو.

د ساعت عقربې له ځانه ډبلې دواړه ستنې له یوې بجې اړولې وې، چې د محصل تره په هوښ راغی، د لرې مودې وروسته یې ډاکټرانو د بشپړ صحت ډاډ ورکړ.

محصل ځوان غوښتل چې هرڅه ژر خپله د تره لور خبره کړي، خو شمېره یې ورسره نه وه.

پرته له دې چې خوب یا ناوخته د شپې ته فکر وکړي، د یتیمې هماغې ټولګیوالې ته یې زنګ وشړه.

د څو_څو ځل زنګ تللو وروسته په خوبولي غږ سره "بلې" وویل شول.

محصل د ستړي مشي وروسته ورته سپارښتنه وکړه:

د تره لور مې خبره کړه، چې تره مې په هوښ راغی او اوس بېخي شکر ښه دی!

د هغې سترګې که پټې وې، خو فکر یې هماغسې بېداره وو.

په بیړه یې ورغبرګه کړه:

زه به یې خبره کړم، خو تا هم قسمونه ښه ډېر کول!
هـن شمېره یې واخله، ته هم ورته زنگ ووهه!
د یتیمې ټوله کورنۍ تر دې دمه شپه په ویښه وهلې وه. ټولگیوالې یې زنگ ورواهه او د محصل ځوان پیغام یې ورورساوو.
د یتیمې په تراړو شونډو د خندا او خوښۍ پسرلي راغلل، په بیړه یې ټوله کورنۍ خبره کړه!
د لږو خبرو وروسته ترې یتیمې وپوښتل:
ته زموږ له حالته څه خبره شوې؟
شوخې تولگیوالې د محصل ځوان ټولې وعدې او قسمونه د وارخطایۍ سره یوځای په خپلې ټولگیوالې وسپارل.
د تره لور یې پوهه شوه، چې هغه زما له امله وارخطا شوی، په تره زوی یې زړه وخوږېد او د "ویششش" کلیمه یې څو_څو ځل تکرار کړه.
ټولگیواله یې د "ویششش" کلیمې په اورېدلو غوصه پرې وکړه:
ستا لا اوس هم زړه پرې خوږیږي؟
یتیمې خپل معصومیت راښکاره کړ:
مه کوه، وبال دی!
د کورنۍ یې ورته غټې هیلې دي، بېچاره یو للی دی!
شوخې ټولگیوالې یې د دې خبرې په اورېدو مسکا وکړه:
خیر بیا دې د تره زوی ژمنې مبارک شه!
یتیمې د مننې کلیمې سره تړلې وویل:
گمان نه کوم، که د هاغې وارخطایۍ د وخت په ژمنو مې تره زوی اوس ولاړ وي!
تولگیوالې یې بې واره خبره پرې کړه:



ولاکه به رانه خلاص شي، ما یې ټولې خبرې ثبت کړې!
دواړو وخندل او د لږو نورو خبرو وروسته یې خدای پاماني سره وکړه.
د یتیمې وارخطایي یوه څه ختمه او د لېمو نم یې وچ شو.
د خپل تره زوی نویو ژمنو یې زړه کې نوې هیلې وټوکولې، خو فکر یې هېڅ دا خبره نه منله.
سهار مهال وو، چې محصل ځوان خپل ناروغ تره سره یوځای بېرته د یتیمې نجلۍ کور پر لور لاړل.
کله انکار، کله اقرار او کله اظهار یتیمه بیخي د انتظار په دغه لار کې وارخطا درولې وه.
د شنو سترگو لرونکې پېغلې په زړه به د تره زوی خندا سم لکه د گل گوزار ښه لگېده.
د خفگان څپې له دغې کوره وشړل شوې او د خوښۍ موجونو خپلې وزرې د دوی په سیمې خورې کړې.
په محصل ځوان هېڅ وخت نه تېرېده، چې څنگه به اوس خپل د تره لور هیاجاني کوي؟
د دغې خبرې زور ترې بیخي لکه چاړه، مرۍ کې د انتظار شېبې غوڅولې.
نو ویې غوښتل چې په خپل لاس د باغچې له بوټو خپل تره ته انار شکولو پلمه وکړي. نبغ پاڅېد او د دې په ویلو چې بېرته راځم، له خونې بهر د باغچې پر لور روان شو.
یتیمه د محصل ځوان ننداره کې دومره ژوره تللې وه، چې هېڅ یې بله خبره نه اورېده. د هغه انکار وروسته دغو سختو حالاتو کې د تره زوی داسې مینه ناک چلند تعجب کې اچوله.

محصل ځوان د باغچې پر لور لاړ، د سترګو په کونج کې یې خپلې تره لور ته هم په اشارې غږ وکړ. لږ وروسته یتیمه د خپل بېدیا ژوندون نه د سمسور بڼ پر لور لکه د زرکې چابک تګ پیل کړ.

لکه مار خوړلی چې له پړي وېرېږي. هغه ځای یې چې د جدایی ترخې خبرې اورېدلې وې، لکه د پېریانو اثراتو غوندې یې غوني زیږې کړې.

یتیمه همداسې په ډار او وېرې د خپل مین تر خوا ورسېده. د زړه زخم یې له ډېرې وېرې ژورې څړیکې کولې؛ ځکه هغه د لرېتوب او بې وفایی ترخې خبرې یې لا هېرې نه وې.

د خپلې مینې نیمګړتیا یې په زړه خوړلې وه، له همدې امله یې په وصل هېڅ د راتګ ګمان او باور نه کېده. هغه د تره زوی په مینه مسته پېغله لکه خزان وهلې پاڼه تکه- ژېړه د خپل مین مخته ودرېده.

د محصل ځوان هم هغه پخوانی ډار په زړه کې تېر او بېر ولاړ وو، خو د یو څه ډار او انتظار وروسته یې بې واکه وچې سترګې نمجنې شوې. یتیمې چې د تره زوی په سترګو کې نم نشو لیدی، سترګې یې ټیټې واچولې.

محصل ځوان د ډېر وخت کتلو وروسته خپلې تره لور ته له خولې خبره وویسته:

وایه کنه تره لور، چې اوس څه درته ووایم!؟

د تره لور یې چې په زړه خوړلې وه او د جدایی اور یې بدن په سېځلو پوخ کړی وو، یو ځل بیا د هغو تېرو خبرو له کولو وډاره شوه، ژر یې وویل:

هیله کوم هېڅ راته مه وایه!

زه پوهه شوې یم!

محصل ځوان په دې خبرې نور هم زړه راډک شو، په کرار غږ یې وویل:

ای د ګلو غونچې درې خبرې درته کوم، که یې اورې!



د تره لور یې دستي هغه مخکینی درې خبرې ورپه یادې شوې، چې زړه دې صبر کړه، ما هېر کړه، زه ستا د ژوند ملګری نشم کېدای.

دا چې د دې غټو دردوونکو خبرو تلنه یې د زړه په ورانو کوڅو نامکنه وه، ژر یې په ډکو سترګو خپل مین ته وکتل، په ځوړند سر یې په ډېرې عاجزۍ او مینې ترې هیله وکړه:

هیله کوم، دا چې ته زما په لیدو دومره دردېږې، نور به درنه مخ پټوم، درته به نه ګورم او نه به ستاسې کور ته درځم!

نور هم احساساتو کې راغله:

ډېر غواړم چې زړه درنه صبر کړم، که هېرېدل نشم کولای، خو چې ډېر یادېدل خو ونه کړم کنه، اما دا چاره هېڅ نشمه.

ستا د خوښی لپاره که ته وغواړې زه خپل کور څه چې زندګي به مې هم پرېږدم، خو هیله کوم ته مه خواشینی کېږه او مه راته نور هغه پرونی درې خبرې تکراروه!

ستا خفګان او قهر لکه زهر زما په خوله کې داسې راته مرګونی دی!

ستا د دیدنونو باران ته مې زړه هر وخت د استسقاء لمونځونه ادا کړي!

ته پوهېږې!؟

ستا له امله مې دا څوومره شپه ده، چې خدای ته د سترګو نه سم لکه رودونه اوښکې بهولې، ستا د مینې دغو درنو تیرو مې زړه نور له زوره غورځولی!

زه دعا کوم، چې رب دې د دغې ستونزمنې لارې څخه د خلاصون چل راوښايي، زه خو نوره لېونۍ کېږم!

د تره زوی یې په دومره دردونو او په زړه د زخمونو پښېمانتیا بیخي وارخطا کړ، له سترګو یې راغلې اوښکې پاکې او په ژړغوني غږ یې وویل:

ستا د دغې کرېدلي درد جبران په څه ډول وکړم، چې هم خوښ شې او هم مې وبښې!؟

د تره لور یې چې په زړه د وېرې ساړه ننوتي وو، پرته له کوم فکره یې غبرګه کړه:

ما ته بښلی یې، خو فقد دغه درې خبرې راته بیا څلې ونه کړې، کنه زړه به مې وچوي!

محصل ځوان په ژړغونو سترګو یو دم بې واکه مسکا وکړه:

وا لېونۍ! زه د هېرېدلو یم!؟ ته ولې داسې وایې!؟

ته پوهېږې زړه مې څه غواړي!؟

اوس درته کومې درې خبرې کول غواړي!؟

ته پوهېږې؟ زه اوس ستا هغه پخوانی د تره زوی نه یم!

ستا مینې زما لکه فولاد زړه د هلمندي مالوچو په څېر نرم کړ!

ستاسې د کور په شور کې تا پرما مرګ تېر کړ!

ما مې د خپل رب سره ژمنه کړې، چې که ته ښه وې او ښه شوې، زه به دې هره غوښتنه منم او خپل هر څه به له تا ځاروم!

د تره لور یې هېڅ باور نه راته، خو بیا یې هم په زړه دومره خوښي راغله، چې له خوښۍ یې په خپلې خولې لاسونه کېښودل. ژر یې وویل:

ته خو بیا ټوکې نه کوې کنه!؟

- نه ولې ټوکې وکړم؟

بارو وکړه چې رښتیا وایم، جدي یم!

احساساتو اخېستې تره لور یې ژر ورغبرګه کړه:

ښه ته خیر قسم وکه!



- په الله باور وکړه زه رښتونی یم، په والله نور مې تا سره د زړه تړلو او ژوند جوړولو ژمنه وکړه!

د دې خبرې په اورېدو یې تره لور بیخي د فکر کنټرول له لاسه ورکړ. جدایۍ قلم کړې زړګۍ یې ځان په ګوګل کې نور نشو حصارولی. له خوښۍ یې لاس او پښې سستې شوې، کراره پر ځمکه کېناسته او زبون وهلي حالت کې یې فقد د خپل رب لور ته کتل.

د لږ وخت تېرېدو وروسته د یتیمې هغې ټولګیوالې محصل ځوان ته زنګ ووهه.

د ستړي مشي وروسته ترې هغې شوخې نجلۍ وپوښتل:

څه دې وکړل ځوانه!؟

محصل ځوان پرته له کوم صبره ورغبرګه کړه:

ما مې ژمنه پوره کړه!

موږ نور سره د تل لپاره یو شؤ!

شوخه نجلۍ د دې خبرې په اورېدو په خپل ځای کې نېغه ودرېده:

هاآ!

ته رښتیا وایې!؟

کنه بیا دې د دروغو لوبه شروع کړې!؟

د محصل ځوان ټینګار او قسمونو وروسته شوخې نجلۍ باور وکړو او ژر یې د خدای پامانۍ خبره وکړه.

محصل ځوان ورنه د ژر زنګ پرې کولو علت وپوښته. شوخې نجلۍ ویل، غواړم د تره لور ته دې زېرۍ او مبارکي ورکړم!

محصل ځوان په مسکا وویل:

صبر شه، زېرۍ او مبارکي هم زما په موبایل ورکړه!

ژر یې خپل د لاس په حرارت ګرم شوی موبایل د تره لور ګوتو کې ورکړ.

هغه له ډېرې خوښی خبرې بیخې نشو کولای، فقد همدومره یې وویل:

ګرانې رب مې دعاګانې او غوښتنې قبولې کړې!

زه مې د ژوند په مبارزې کې بریالی شوم!

د خپل سپېڅلي رب له ستر ځواک او ذات نه ډېره خوشاله یم او شکر خپل هغه پروردیګار ته وباسم، چې په خپل بنده له اویاوو مېندو نه زیات مهربان دی!

زه په دې پوهېدم، چې په غوټو وهلو د ژوند په دریاب کې ګوهرونه پیدا کیږي!

ستا له مرستې او هڅې هم ډېره ـ ډېره منندویه یمه!

د څو ورځو تېرېدو وروسته محصل ځوان خپلې مور سره خبرو کې د دې نجلی د کولو غوښتنه وکړه.

مور یې چې د نجلی دینداري او اخلاق له پخوا څخه خوښ شوي وو، د زوی په غوره انتخاب یې هغه له تندي ښکل کړ او په مینه یې ومنله.

د څو ځل تللو او غوښتنو وروسته د جمعې شپه وه، چې د محصل ځوان نورو ترونو د پلار سره یوځای، د یتیمې او محصل ځوان د زړه تړلو سپېڅلی سپین ټوکر لرونکی دسمال د محصل ځوان د کور په وره ننوېست او د هغه مور په لاسونو کې یې کېښود، چې د دې یواځینې ځوی د خوښی امېد یې په زړه لکه یو جل وهلی ارمان داسې پاتې وو.

ټول کور کې د خوښی او امېداواری نغارې وغږېدې.

محصل ځوان خپل موبایل ووېست، چې خپلې نوې کوژدنې ته مبارکي وکړي، خو ګوري چې د دې له پېغامه وړاندې ورته هغه پیغام استولی دی:

زما په نوم شوی زما خوږ جانانه!



که زه اوس ستا په نوم شوم، خو ته له پیدایښته زما په نوم وې!

لومړیو کې مې له خپل پاک او سپېڅلي ربه شکر کوم، چې زه یې ستا د خدمت جوګه کړم! باور وکړه، چې زه مې هېڅ ځان کابو کولی نشم!

رب دې ستا د خدمت توانایي زما په کمزوري وجود کې پیدا کړي!

ته ماته زما رب ډالی کړلې او زه به د خپل رب دغه احسان هېڅکله له یاده ونه باسم! په ما باندې باور ولره، چې زه به ستا هرې خوښی ته لبېک وایم او ستا ټول دردونه به په خپل ځان اخلم!

مننه له دې چې زما حیا دې خوندي کړله!

رب دې زما عمر او خوښي دواړه ستا کړي!

درنښت

مینه کې پر تا برلاسې شوې عاجزه نجلی

محصل ځوان د پیغام په لوستلو له خوږو او خوندونو ډکه مسکا وکړه او غبرګون کې یې فقد همدومره ولیکل:

د جهان حسرتونه د دردمندو په سینو کې پراته وي!

هغه جمله چې تا یې اورېدو ته شپې سبا کولې دغه اوس یې درته وایم!

ته چې پر ما په مینه کې برلاسې شوې، نو زه هم درته په ډېره مینه دغه درې ټکي لیکم! خو ګوره دا هغه د درد ټکي نه دي، چې دې وېره ترې کوله!

نو زما خوږې واوره:

زه اوس درسره له ځانه ډېره مینه لرم!

د ژوند په دغه ګګلېچو لارو دې کوژده، مینه او بریالیتوب درې واړه مبارک شه!

**پـای**